
# د اروا پوهنې

# لنډ تاریخ



Ketabton.com

مؤلف: مصطفی صفا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داروپوهنې لنډ تاریخ

مؤلف مصطفی صفا



۱۳۹۳ هـ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اروپوهنې لنډ تاریخ

مؤلف: مصطفی صفا

**انتشارات جهان اسلام**
**۰۷۰۷۰۷۰۱۱۴**
**پته: کوټه سنګي، کابل- افغانستان**
1jahan.islam@gail.com


| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم:** | **د اوراپوهنې لنډ تاریخ** |
| **مؤلف:** | مصطفی صفا |
| **د چاپ وار:** | لومړی |
| **د چاپ کال:** | ۱۳۹۳هـ ل منی |
| **د چاپ شمېر** | ۱۰۰۰ زر ټوکونه |
| **د پښتی سکښت** | د انتشارات جهان اسلام اداره |
| **کمپوز:** | په خپله مؤلف |
| **خپرندوی:** | **انتشارات جهان اسلام** |
| **قیمت:** | ۱۰۰ افغانی |


ددغه کتاب د چاپ او خپراوي ټول حقوق له «انتشارات جهان اسلام» خپرندویې ټولنې او ښاغلي مؤلف سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیک لړ

| سرلیک | مخګڼه |
|---|---|

1. د اروا پوهنې لنډه پېژندنه.................................... ۵
2. په فلسفه کې د اروا پوهنې څرکونه.................................... ۷
3. په فیزلوژۍ کې د اروا پوهنې څرکونه.................................... ۱۶
4. په رسمي ډول د اروا پوهنې منځته راتګ.................................... ۲۰
5. د اروا پوهنې دوه مکتبونه د مبارزې په حال کې.................................... ۲۲
6. د اروا شننې مکتب اروا پوهنې ته څه ورکړل؟.................................... ۳۶
7. سلوک پالنه د اروا پوهنې په تاریخ کې یو بل ګام.................................... ۴۹
8. ګشتالت پالنه د اروا پوهنې په خدمت کې.................................... ۵۹
9. انسان پالنه د اروا پوهنې د لړۍ بله کړۍ.................................... ۷۳
10. شناخت پالنه او د اروا پوهنې نورې لاسته راوړنې.................................... ۸۲
11. ویلهلم وونټ.................................... ۹۰
12. ویلیام جیمز.................................... ۹۸
13. پاولوف.................................... ۱۰۷
14. زیګموند فروید.................................... ۱۱۵
15. جان واټسن.................................... ۱۲۹
16. بي. اف. سکینر.................................... ۱۳۷
17. آلفرډ آدلر.................................... ۱۴۵
18. آبراهام مازلو.................................... ۱۵۳
19. کارل یونګ.................................... ۱۶۲
20. کارل راجِرز.................................... ۱۷۲
21. ماخذونه.................................... ۱۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ارواپوهنې لنډه پېژندنه

د ارواپوهنې یا Psychology کلمه په مستقیمه توګه له یوې یوناني اصطلاح Ψυχολογία څخه اخیستل شوې ده؛ دغه اصطلاح له دوو کلمو ψυχή او λόγος څخه چې انګلیسي بڼه یې«Psyche او Logos» ده، جوړه شوې ده؛ چې د «د روح د مطالعې» یا په انګلیسي کې
«Study of Soul » معنا ورکوي. خو د پام وړ ټکی دا دی، چې د Psyche کلمه «په یوناني کې: ψυχή» په غوڅ ډول د «روح» چې په انګلیسي کې ورته «Soul » وایي معنا ښیندي، خو دا چې د اوسنۍ ارواپوهنې د مطالعې ساحه «روح » نه، بلکې «ذهن» یا په انګلیسي «Mind» دی، نو په دې اساس د غلطې مشهورېدنې پر اساس په انګلیسي کې د یوناني د Psyche کلمه تقریباً د «Mind » معادل نیول کېږي.) له ویکیپېډیا wikipedia څخه

هېره دې نه وي، چې دغه لغوي تېروتنه وروسته له انګلیسي څخه په عربي، پارسي او پښتو ژبو کې هم راتکرار شوې او مشهوره شوې ده. په دې بنسټ ارواپوهنه، د روح څېړنه نده، د ذهن او کړو وړ څېړنه ده. الله (ج) هم په خپل عظم الشانه کلام کې فرمایلي، چې د روح پر بشپړ ماهیت له الله (ج) څخه پرته بل څوک نه پوهېږي.

ارواپوهنه د انسان د سلوک، رفتار، چال چلند او ذهني عملیو علمي او تحلیلي مطالعه ده. ارواپوهنه د ځان پېژندنې، بل پېژندنې او له ټولنې او چاپېریال سره د جوړجاړي یوه داسې مهمه کیلي ده. چې له موږ سره د خپلو فعالیتونو په سمون، د ناخوښو او ناسمو غبرګونونو په بدلون او د یوه سالم او متوازن شخصیت په وده کې مرسته کوي.

دا چې د انسان د چال چلند، کړو وړو، په چاپېریال کې د هغو د عمل او عکسل العمل او نورو ذهني مسایلو په باب له پخوا څخه ځینې بحثونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوشمېر علومو لکه په فلسفه، لرغوني طب او فیزیولوژۍ کې موجود وو، خو څنګه چې د انسانانو د تاریخي هلوځلو او تجربو په رڼا کې زیاترو علومو اختصاصي بڼه پیدا کړه، همداسې د کړووړو او نورو رواني مفاهیمو لکه «د ادراک، تمرکز، احساس، انګېزې، عاطفې، شخصیت، بېلابېلو هیجاناتو، ذهني انځورونو، فردي اړیکو او د نورو باطني او نه حس کېدونکو پدیدو» مطالعې هم د انسانانو په منځ کې د یوې ځانګړې پوهې په توګه ځان راڅرګند کړ او د اروا پوهنې په نوم یې شهرت پیدا کړ.

ددغې نوې پوهنې په رامنځته کولو او هغو ته په پراختیا ورکولو کې ډېرو پوهانو هلې ځلې کړې دي، چې تر ټولو لومړی یې د الماني فیزیولوژېست «**ویلهلم وونټ**» دی، چې په ۱۸۷۹م کال کې یې د «**لایپزیک**» په پوهنتون کې د اروا پوهنې لومړنی ازموینتون «لابراتور» رامنځته کړ او په دې سره یې ددغه علم لومړني بنسټونه په پښو ودرول. ترده وروسته د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د اروا پوهنې لپاره نورو پوهانو زیار وایست او په دغه برخه کې یې زیات شمېر اثار او افکار رامنځته کړل، چې په راتلونکو پاڼو کې به په لنډه تفصیل ورباندې وغږېږو، هیله ده چې د اروا پوهنې د تاریخي بهیر په څو شېبو مو ورګډ کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په فلسفه کې
# د اروپوهنې څرکونه


د فلسفې لفظ د یونانې د Philien له لغت څخه چې د یوه شي د خوښولو او ګرانولو معنا ورکوي او د Sophia چې د عقل او پوهې معنا ورکوي، اخیستل شوی دی. د دواړو لفظونو له ترکیب څخه د علم خوښوونکی یا پوهندوست مفهوم څرګندېږي. «فلسفه، محمد نادر ایوبي، ۷مخ»

فلسفې ته د علومو د مور خطاب هم شوی دی. په لرغونو زمانو کې به چې کوم سړی په ټولو مروجو علومو لاس بری ؤ، هغه ته به فیلسوف ویل کېده. هغه مهال د طبیعیاتو، ریاضیاتو، اخلاقیاتو او نورو سیاسي او اجتماعي مسئلو په هکله فکرونه، نظرونه او لیکنې فلسفه بلل کېدل. موږ چې نن سبا د ارسطو، سقراط، افلاطون، فیثاغورث، اپیکور، کنفوسیوس، امپدوکلس، ډیوژن، سنټ پل او نورو نومونه اخلو، دا د همغه وختونو د فلسفې رهبران دي، چې تر میلاد مخکې یې د ژوند او نړۍ په باب ژور فکرونه کړي او په خپلو څرګندونو سره یې د بېلابېلو انساني علومو بنسټونه ایښي دي.

موږ که د اوسنۍ اروا پوهنې په زیاتره مسایلو لکه تفکر، ادراک، انګېزې، حافظې، هیجانونو او نورو باندې د انسانانو له خوا په لومړنیو ورکړل شویو نظرونو پسې څېړنه کوو، نو تر هرڅا د مخه مو د پورته یادو شویو فیلسوفانو نومونه او کارونه مخې ته راځي. ښایي همدا لامل وي، چې اوسني څېړونکي د اروا پوهنې تېر مهال یا ګذشته ډېره اوږده او لرغونې او تاریخي سابقه یې لنډه او معاصره ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ارسطو مجسمه

موږ د مثال په ډول د لرغونې فلسفې په لمن کې د یونان د نابغه فیلسوف ***ارسطو*** «۳۸۴-۳۲۲ق م» هغو نظریاتو ته تم کېږو، چې د ځینو اروا پوهنیزو موضوعاتو رنګ پکې له ورایه ښکاري. «ارسطو د بشر معلومات له دوو لارو څخه ګڼي. لومړی: هغه معلومات چې د انسان د حسي تجربو له مخې حاصلېږي. دوهم: هغه معلومات چې د انسان د قیاس او حکم د واسطې په سبب میسرېږي. کوم معلومات چې د حواسو له لوري پیدا کېږي جزیات دي، اما هغه معلومات چې پر کُلیاتو شامل وي، د واسطې په سبب ادراک کېږي. په طبیعي شکل سره د انسانانو معلومات د حواسو له لوري شروع کېږي او په تدریج سره پر کُلیاتو معلومات پیدا کوي...»

روحیات، ۱۰۴مخ


ارسطو په یوه کتاب چې د روح په اړه یې لیکلی دی، دغه ډول زیاتې څرګندونې پکې لیدل کېږي. د ارسطو ترڅنګ د هغه وخت ځینو نورو فیلسوفانو هم د انسان پر ذهني او رواني چارو باندې یو لړ بحثونه کړي دي، خو څرنګه چې د فلسفې دغه لومړنی بهیر تر میلاد پښه را اړوي او تر پنځلسمې میلادي پېړۍ پورې د یونان د فلسفې سبک او اغېزې له ځانه سره راوړي، نو تر دغه وخته پورې هرڅه د علومو د یوه مخلوط په بڼه مخ پر وړاندې راځي.

(ددغو پېړیو یوه ځانګړنه دا ده، چې په هغو کې کلیسا په علمي مرکزونو واکمنه وه، په دغه دوران کې فلسفه هغو علومو ته ویل کېده، چې د کلیسا له خوا تدریسېدل او په هغو کې منطق، الهیات، اخلاق، سیاست، د ژبې قواعد، د معاني او بیان بحثونه او ځینې داسې طبیعیات او کلیات شامل وو، چې کلیسا ته د منلو وړ وو.) فلسفه څه ده؟ عبدالرحیم درانی، ۱۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو څرنګه چې له پنځلسمې میلادي پېړۍ را په دې خوا په فلسفه کې بدلونونه راغلل او زيات شمېر فیلسوفان لکه توماس من، تامس هابز، رنه دکارت، جان لاک، بارخ سپینوزا، جارج برکلې، ټوماس مور، فرانسیس بیکن، امانویل کانټ او نور رامیدان ته شول او د خپلو زمانو په نویو موضوعاتو یې بحثونه وکړل. له همدې امله اوسنۍ اروا‌پوهنه هم د لرغونې زمانې د فلسفې په پرتله د پنځلسمې میلادي پېړۍ نه را په دې خوا فلسفې څخه زیات اغېز موندلی دی.


دکارت

ددغو فیلسوفانو په ډله کې لومړنی سړی **دکارت** «۱۵۹۶م-۱۶۵۰م» دی، چې د اروا‌پوهنې په برخلیک باندې یې اغېز پرېښودی، که څه هم له دکارت څخه کابو ۲۰۰ کاله وروسته هم اروا‌پوهنه له فلسفې را جلا شوې نه وه، مګر د نوموړي يو شمېر نظریات د راوروسته اروا‌پوهانو لپاره د خوځښت او ارزښت وړ وو.

د دکارت له خوا د ذهن او بدن د مسئلې راسپړل، هغه څه وو، چې له شکه پرته د اروا‌پوهنې د تحول په تاریخ کې د الهام وړ واقع شول. تر دکارت وړاندې پېړۍ پېړۍ پردغه موضوع باندې چې ایا ذهن او بدن یا رواني نړۍ او مادي نړۍ یو له بله جدا شیان دي؟ بحث او خبرې اترې کېدې، چې پایله یې د دوه اړخه نظریې ټاکل وو، یعنې د هغوی په باور ذهن او بدن متفاوت طبیعت لري او سره بېل او جلا دي. خو دغې څرګندونې هم یو لړ پوښتنې راپیدا کړې وې، چې ایا دغه دواړه پر یو او بل باندې کوم تاثیر اچوي او که له یو او بل څخه مستقلې چارې ترسره کوي؟

**دکارت** دغه موضوع تائید کړه، چې ذهن او بدن دوه مختلف عناصر دي، مګر د یوه نظر په وړاندې کولو سره یې ددغو دواړو عناصرو ترمنځ داړیکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه له دوديزو نظرياتو څخه سرغړونه وکړه. ده وويل: «سمه ده، چې ذهن پربدن تاثير اچوي، مګر د بدن تاثير پر ذهن باندې تردې لوی دی، چې تر اوسه يې تصور کېده. د ذهن او بدن ترمنځ اړيکې يوطرفه يا يو اړخيزې نه دي، بلکې يو دوه اړخيزه تعامل دی.» تاريخ روانشناسي نوين، ۵۴مخ

د **دکارت** په باور «ذهن غير مادي دی، يعنې له کومې فزيکي مادې څخه نه دی تشکيل شوی. همداراز په تفکر او هوښياری باندې قادر دی، چې موږ ته په بهرنۍ نړۍ پورې اړونده پوهه ترلاسه کوي. ذهن د مادې هېڅ ډول ځانګړتيا نه لري، د ذهن تر ټولو مهمه ځانګړتيا د تفکر کولو وړتيا ده، چې همدغه خصوصيت هغه له مادي جهانه جلا کوي. څرنګه چې ذهن د فکر، درک او ارادې درلودونکی دی، نو بايد په داسې ډول پر بدن اغېز پرې باسي، چې په بدل کې له هغو څخه هم اغېز راخپل کړي. د مثال په ډول کله چې په ذهن کې دا تصميم راپورته کېږي، چې له يوه ځای څخه بل ځای ته ولاړ شي، نو دغه تصميم د غړو او بدني اعصابو په وسيله د اجرا مرحلې ته داخلېږي. همداراز کله چې بدن د نور يا تودوخې په وسيله تحريک شي، ذهن ددغو حسي او تحريکي مسئلو پېژندنه او تحليلونه کوي او مناسب ځواب ورته ټاکي.» هماغه اثر، ۵۷مخ

**دکارت** په خپلو ليکنو کې د افکارو او تصوراتو، يوه بېله طريقه مطرح کړه، چې وروسته يې د نوې اروا پوهنې په بهير ژور تاثيرات پرېښودل، ده وويل: «ذهن دوه ډوله تصورات منځته راوړي: اشتقاقي تصورات او فطري تصورات.

**اشتقاقي تصورات** هغه دي، چې په مستقيم ډول د يوه بهرني محرک لکه د يوه غږ له اورېدلو يا د کومې ونې د منظرې په ليدلو سره په ذهن کې رامنځته کېږي.» **دکارت** د شيانو د درک کولو او پېژندلو په پروسه کې د انسان فکري عمليې ته د لومړيتوب ارزښت ورکوي. دی وايي: «پوهېږم چې له خپل فکر پرته بل شی نه شم پېژندلی. که موضوع له مادې څخه شروع کړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library




د يو شمېر مرحلو څخه بشرته ورسېږو، ښايي د نړۍ بوالي له اړيکو د منطقو تر اغېز لاندې هم فکر مادي وبولو، اما موږ يوازې د فکر له لارې ماده پېژنو او يوازې فکر دی، چې په مستقيم ډول پېژندل کېږي.» فلسفه، ۴۶۱مخ

دکارت **فطري تصورات** هغه تصورات بولي، چې د حواسو او بهرنۍ نړۍ د اشياو له مخامخ کېدنې څخه نه رامنځته کېږي، بلکې يوازې له ذهن او شعور څخه سرچينه اخلي، د مثال په ډول د خدای(ج) تصور د ***دکارت*** په اند د همدغو فطري او ذاتي تصوراتو له ډلې څخه دی. نوموړی په دې اړه زياتوي: «زما په ذهن کې د يوه کامل وجود تصور شته، څرنګه چې زه ناقص يم، نو د هغه تصور يا فکر سرچينه زه نه يم، نو هرومرو کامل وجود شته، چې د همدې فکر سرچينه ده او هغه کامل وجود د خدای(ج) دی.» هماغه اثر، ۴۵۹مخ

د ***دکارت*** د فطري تصوراتو نظريې، وروسته په اروايوهنه کې د ګشتالت پر مکتب اغېز وکړ او هلته يې د فطري ليدنې نظريه چې وايي: «زموږ ادراکي ځواک ذاتي او فطري دی، نه اکتسابي» راوپنځوله.

❖ ❖ ❖

تر ***دکارت*** وروسته کوم فيلسوف چې کارونه يې د نوې اروايوهنې لپاره د اهميت وړ وو، (***جان لاک***) «۱۶۳۲م-۱۷۰۴م» دی. په دې ډګر کې د نوموړي د سپينې لوحې نظريه خورا زيات شهرت لري. ***لاک*** وايي:



جان لاک

«ذهن د زوکړې په وخت کې لکه کاغذ داسې سپين وي او د هر ډول خصوصيت او تصور څخه خالي وي... دا چې څه ډول بشري ذهن د معنا څښتن ګرځي، يوازې تجربه دغه کار ترسره کوي، دا ځکه چې زموږ ټولې پوهنې پر تجربو ولاړې دي، ټولې معانۍ د احساس يا تفکر په واسطه حاصلېږي. احساسونه په خپله جسماني دي، د هغو ذهني

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نتیجه ادراک دی، چې د ذهن لومړی قوه ده.»** روحیات، ۲۲۱مخ

د ***جان لاک*** په نظر: «د انسان عقل ارثي نه دی او د زیږېدو پر وخت د ښو او بدو په اړه فطري معلومات، د دوزخ او جنت په اړه خبرتیا نه لرو، بلکې دا ټول معلومات وروسته، د هغو تجربو له امله چې ذهن يې د حواسو له لارې زده کوي ترلاسه کوو... د حسي تجربو ترلاسه کول، د لیدلو، اورېدلو، بویولو، لمس کولو، د هغه کتاب متن دی، چې د ذهن پر تخته له زیږون څخه ترمړینې پورې لیکل کېږي. دا پوهېدل د خاطراتو په څېر په ذهن کې راټولېږي، وروسته په فکر بدلون مومي او د عقل په نوم زیاتېږي. په دې توګه عقل یوازې د مادي نړۍ غبرګون دی، چې د حواسو له سوریو څخه پرذهن خپرېږي. ذهن له مادې پرته د بل څه درک نه شي کولی، ځکه دا یوازې ماده ده، چې حس اغېزمنوي. سربېره پردې خلک نړۍ په بېلابېلو بڼوویني، دا ځکه چې زموږ حواس که څه هم یوه بڼه لري، خو په بېلابېلو بڼو کې له نړۍ سره مطابقت لري.» په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ۱٦۳مخ

**جان لاک** د عقل، درک، تصور او خاصیت په باب وايي: «کوم شی چې عقل ته داخلېږي، تصور یا معنا او مفهوم دی، مګر کومه قوه چې په شیانو کې موجوده ده او زموږ په ذهن کې تصور پیدا کوي، خاصیت دی. مثلاً سپینوالی د بشر په ذهن کې مفهوم، معنا او تصور دی، مګر په واوره کې خاصیت دی.» روحیات، ۲۳۲مخ

د جان لاک زیاترو افکارو د نوې اروا پوهنې په تاریخ کې خپل تاثیرات درلودلي دي. په ځانګړي ډول دده یو اثر چې «د انسان د فهم او پوهې په اړه» نومېږي او ده يې په لیکلو ۲۰ کلونه کار کړی ؤ، زیات ستایل شوی دی.


❖ ❖ ❖

د فیلسوفانو په ډله کې بل هغه فیلسوف چې نوې اروا پوهنې ته ګټور واقع شوی، **امانویل کانټ** «۱۷۲۴م-۱۸۰۴م» ګڼل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کانټ** خپل افکار د جان لاک په مخالفت کې وړاندې کوي. نوموړی د ذهن، حواسو او درک په اړه وايي: «موږ خپل معلومات د حواسو له لارې یوځل او په بشپړه توګه نه شو ترلاسه کولی. ذهن د یو لړ فکري اغېزو نوم نه دی... د لاک دا عقیده چې له حسي تجربو پرته د پوهې ترلاسه کول ګرانه خبره ده، اشتباه کوي. ذهن یوازې د لید او تجربو مجموعه نه ده، بلکې د هغو هادي او نظم ورکوونکی هم دی... ذهن موږ ته هغه توانایي رابښي، ترڅو پاشلو لیدنو او بې موخو تجربو ته د منظمو معلوماتو بڼه ورکړو او شخصي او خبري درک او پوهاوی په ټولیزه او عمومي پوهه بدل کړو...» په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ۲۱۶مخ




**کانټ** بل ځای وايي: «محسوسات په خپله سره یوځای کېږي، ترتیبېږي او په ادراکو بدلېږي... خو ټول محسوسات په مدرکاتو نه بدلېږي، بلکې هغه محسوسات چې زموږ له غرض سره جوړښت کوي په مدرکاتو اوړي. مثلاً ساعت هره ګړۍ ټک ټاک کوي، مګر موږ تل هغه نه اورو، بلکې هغه یې اورو، چې زموږ له تقاضا یا غرض سره سمون لري. یا هغه مور چې د خپل کوچیني زانګو ته خوب وړې وي، د شاوخوا له آوازونو څخه ناخبره وي، اما که کوچینی یې کوم حرکت وکړي فوراً ویښېږي.» روحیات، ۲۴۸مخ

**کانټ** د انسان په پوهنیزه پروسه کې د حواسو په پرتله ادراکو ته زیات ارزښت ورکوي. دی وايي: (یو ناپوه انسان نړۍ ته داسې ګوري لکه شکسپیر «د انګلستان نابغه لیکوال او متفکر» چې ورته کتل او د دوی ترمنځ توپیر دا دی، چې شکسپیر کولی شول، چې خپلو لیدنو ته سر او سامان ور وبښي او هغه په معنا لرونکې او ښایسته بڼه انځور کړي. ځکه نو

(c) ketabton.com: The Digital Library




موږ باید د فهم او درک پرڅواک زور راوړو او حواسو ته لږ اهمیت ورکړو. حواس موږ ته ظاهري نړۍ راښيي، خو د درک ځواک مو هغه حقیقت ته بیايي، چې د ظواهرو په ماورا کې پټ دی.)

په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ۲۱۷مخ

موږ که چېرې د کانټ د پېړۍ د ځینو نورو فیلسوفانو لکه **جارج برکلي**، **ډېوېډهیوم**، **ډېوېډهارتلي**، **جیمزمیل** او نورو افکار مطالعه کړو، نو ګڼ اروا پوهنیز توکي پکې موندلی شو، چې دغه توکي په خپل وار سره په دې دلالت کوي، چې اروا پوهنه او اروا پوهنیز موضوعات له ډېرې پخوا نه د فلسفې په پاڼو کې په غیرمستقله بڼه موجود وو.

❖ ❖ ❖

د نولسمې میلادي پېړۍ په فیلسوفانو کې چې نظریاتو یې په اروا پوهنه په ځانګړي ډول په امریکا کې د اروا پوهنې د عمل د مکتب د پلویانو پر عقایدو او افکارو تاثیر درلود، یو هم انګلیسی فیلسوف **هربرټ سپنسر** «۱۸۲۰م–۱۹۰۳م» ؤ. **سپنسر** چې د «لومړنی مبادی»، «د مدنیت د اصولو علم» او «د اخلاقو اصول» په نومونو کتابونه یې ډېر مشهور دی؛ په ۱۸۸۲م کال یې چې ۶۲ کلن ؤ، امریکا ته سفر وکړ. دا هغه وخت و، چې دده فلسفي نظام دده تر دغه سفر ۲۰ کاله مخکې د امریکا پوهنتونونو ته مخه کړې وه. دی چې کله امریکا ته ورسېد، د یوه ملي قهرمان په توګه ورنه استقبال وشو. په نیویارک کې وتلي میلیاردر او د امریکا د فولادو د صنعت څښتن «**اندروکارنګي**» په ډېرو ښو مراسمو کې د **سپنسر** هرکلی او درناوی وکړ. په دې توګه **سپنسر** د امریکا په علمي او



هربرټ سپنسر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګي مرکزونو کې لوی شهرت ترلاسه کړ او په دې ډول یې په امریکا کې د فلسفې او اروا پوهنې په روان وضعیت اغېز وکړ.

**سپنسر** هم د مخکې یادو شویو فیلسوفانو غوندې په یوشمېر اروا پوهنیزو مسایلو لکه پر ذهن، **حافظه**، **عقل**، درک او نورو باندې خبرې اترې لرې. دده په اند: «ذهن او تفکر یو د بل د چارو د رابطې او نسبت څخه عبارت دی.» **سپنسر** په خپلو څرګندونو کې هوش، غریزې، **عقل**، ذهن او تصور ته یوله بل سره اړیکه ورکوي او د هغوی د ځانګړو ماهیتونو په هکله خپل نظریات وړاندې کوي. نوموړی لیکي:

«هوش د مشخصو منفصلو قواو او درجو درلودونکی نه دی، بلکې هغه وخت یې ډېره ښه مرحله وي، چې د ناڅرګندو مرحلو ترکیب منځته راوړي. د غریزې او **عقل** ترمنځ خلا موجوده نه ده، مګر اختلاف یې په درجو کې دی. یعنې د غریزې رابطې ساده او پخوانۍ وي، مګر په **عقل** کې موجود روابط، نوي، پېچلي او تړل شوي وي. عقلي عمل یوازې د غریزې ځواب دی، چې د نورو غریزو د ځوابونو په مبارزه کې ژوندی پاتې شوی او پرمختګ یې کړی دی. مشوره او تصمیم نیول د مخالفو محرکاتو مبارزه ده. **عقل**، غریزه، ذهن او ژوند په خپل اصل کې یو دی. اراده یوه بېله شوې اصطلاح ده، چې موږ یې د خپلو فعالو قواو حاصل ته ورکوو... نوع او نژاد فطري چارې دي او وېناوې ذهني عادتونه دي، چې د تفسیر او اړولو په جریان کې په تدریج سره حاصل شوې دي او اوس د **عقل** د میراث جزبلل کېږي.» روحیات، ۲۹۴مخ

د فلسفې په پراخه لمن کې ډېر داسې ټکي شته، چې د اروا پوهنې تصویر پکې ښکاري او دغه علم ته یې په رسمیت ورکولو کې د یوې مهمې سرچینې رول ادا کړی دی، چې موږ یې د موضوع د لنډیز په خاطر په پورتنیو یادو شویو نمونو بسنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په فیزیولوژۍ کې د اروا پوهنې څرکونه

فیزیولوژي Physiology چې ورته د وظایف الاعضا علم یا د غړو دنده پوهنه هم ویل کېږي. د علومو هغه څانګه ده، چې د ژوندیو موجوداتو د بېلابېلو غړیو، اعضاو او بدني سیستمونو د کار او حیاتي وظایفو ژوره مطالعه کوي.

فیزیولوژي د یوه مستقل علم په توګه د ۱۸۳۰م کال په شاوخوا کې رامنځته شوې ده. دغه علم ترټولو لومړی د یوه الماني فیزیولوژیست **یوهانس مولر** «۱۸۰۱م–۱۸۵۸م» په ازمویښتي څېړنو کې راڅرګند شو.



یوهانس مولر

**مولر** د برلین په پوهنتون کې د بدن پېژندنې او فیزیولوژۍ استاد ؤ. ده به د اونۍ په هرو اوو ورځو کې یوه علمي مقاله لیکله او ۳۸ کاله یې همدغه ډول خپل کارونه پرمخ بوتلل، خو په پایله کې یې د ژورخفګان او افسردګۍ له امله ځانوژنه وکړه. دده ترټولو مهم کتاب «د انسان د فیزیولوژۍ لارښود» نومېږي، چې همغه وخت له الماني ژبې څخه په انګلیسي ژبه وژباړل شو او د فیزیولوژۍ د علم بنسټونه ورباندې پاخه شول. مولر په خپل دغه کتاب او نورو اثارو کې د انسان د بدن د غړو او هغو د فعالیتونو د علمي تشریح او توضیح په لړ کې د اعصابو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهني چلندونو پرموضوع هم څېړنې کړې دي، چې ترټولو لومړی د **ويلهلم وونټ** لپاره د الهام وړ وو.





د فيزيولوژۍ په نړۍ کې تر **مولر** راوروسته **پيرفلورنس** «۱۷۹۴م-۱۸۶۷م» هغه فرانسوی څېړونکی ؤ، چې کارونه يې د اروايوهنې لپاره ارزښتمن ثابت شول. فلورنس د کوترو او نورو حيواناتو پر ماغزو او عصبي رشتو باندې ازموينې ترسره کړې او د مختلفو ذهني مرحلو، حسي پروسو، د زړه، تنفس او نورو غړو د فعاليتونو حياتي بهير يې د ماغزو تر کنټرول لاندې وبلل.

په ۱۸۴۰م کال د پوهانو يوې ډلې چې زياتره يې د **يوهانس مولر** پخواني شاګردان وو، د برلين فزيکي انجمن جوړ کړ. دغې ډلې هڅه کوله چې فيزيولوژۍ ته له فزيک سره تړاو ورکړي. دوی وويل چې د يوه ژوندي موجود، فعال داخلي ځواکونه، هماغه معمولي فزيکي او کيمياوي ځواکونه دي. په دې توګه مادي، ماشيني او تجربي ازموينښتونو او اندازه ګيريو د فيزيولوژي د اصلي محور ځای ونيو. دغو فيزيولوژيستانو زيار وايست، چې د حواسو چلند او جوړښت د تجربې او اندازې له مخې تعريف کړي او په دې ډول د ذهني تجربو له لارې د ذهن او ذهني عمليو څېړنه او سپړنه وکړي.

ددغو پوهانو«چې زياتره د المان د پوهنتونونو استادان وو» هلوځلو د نوې اروايوهنې په رامنځته کېدو کې ځانګړی رول درلود. په دې کې د ذهن او نورو شعوري مسئلو په باب د څلورو وتليو الماني فيزيولوژيستانو لکه ***هرمان هلمهولتز***، ***ارنسټ وبر***، ***ګوستاوفخنر*** او ***ويلهلم وونټ*** څېړنې او ازموينې د نوې اروايوهنې په رامنځته کولو کې خورا مهمې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**ګوستاو فِخنر** «۱۸۰۱م-۱۸۸۷م» چې دویلهلم وونټ استاد ؤ، دده نظریات د وونټ او اروا پوهنې لپاره ترټولو مهم وو. تاریخ لیکونکو د فِخنر په باب لیکلي: فِخنر ۷ کاله فیزیولوژیست، ۱۵کاله فزیک پوه، ۱۴ کاله د رواني فزیک متخصص، ۱۱ کاله ازموینښتي ښکلاپېژوندونکی او د ژوند نور کلونه فیلسوف او ناروغ پاتې شوی دی.

فِخنر د فزیک، ریاضي او فیزیولوژۍ په څانګو کې د لایپزیک له پوهنتون څخه د لوړو زده کړو سندونه درلودل او وروسته په همدغه پوهنتون کې د یادو څانګو استاد وټاکل شو. ده تر ۲۸ کلنۍ پورې ۱۲ ټوکه د کیمیا او فزیک د څانګو کتابونه له فرانسوي ژبې څخه الماني ژبې ته راوژباړل. تردې وروسته یې نور کتابونه د خپلو څېړنو او ازموینو پر اساس ولیکل.

د فِخنر په لیکنو او څېړنو کې ترټولو مهم شی د رواني فزیک Psychophysicst په اړه نوې خبرې او برسېرونې وې. فِخنر د ذهن او بدن ترمنځ په شته اړیکو ډېر ښه بحثونه کړي دي. دده په اند د ذهن او بدن ترمنځ د پیوستون قانون کولی شو، د ذهني احساس او مادي محرک ترمنځ د اړیکو له تحلیل څخه کشف کړو. دی وایي:«د احساس اندازه یا ذهني کیفیت د محرک یا فزیکي او مادي کیفیت په اندازې پورې تړلی دی او د احساس دبدلون د اندازه کولو لپاره باید د تحریک بدلون اندازه شي. په دې اساس دا امکان شته چې موږ ذهني او مادي نړۍ ته د کمیت له مخې یوله بل سره تړاو ورکړو.» تاریخ روانشناسي نوین، ۹۳ او ۹۴ مخونه

فخنر په ۱۸۶۰م کال د رواني فزیک په اړه خپل تحقیقات په یوه کتاب کې چې «د رواني فزیک عناصر» نومېږي، راټول او خپاره کړل. د څېړونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باور، دا د فخنر د رواني فزیک تحقیقات وو، چې د ویلهلم وونټ په ذهن کې یې د ازمویښتي اروا پوهنې تصور ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په رسمي ډول د ارواپوهنې منځته راتګ

چا چې د ارواپوهنې په باب ډېر لږ څه هم لوستي، ښایي له دغې خبرې سره مخامخ شوي وي، چې ارواپوهنه د لومړي ځل لپاره د یوه مستقل علم په توګه یوه الماني عالم«**ویلهلم وونټ**» په ۱۸۷۹م کال د علوم نړۍ ته وړاندې کړه او اوسمهال نوموړی عالم یا ویلهلم وونټ د ارواپوهنې پلار بلل کېږي.

دلته پوښتنه دا ده، چې ولې ارواپوهنې په رسمي ډول د نورو هېوادونو پرځای په المان کې ظهور وکړ؟ او بیا څنګه «**ګوستاوفخنر**» د ارواپوهنې پلار ونه ګڼل شو؟

په اتلسمه میلادي پېړۍ کې په زیاتره اروپایي هېوادونو کې د علومو، نویو کشفیاتو، اختراعاتو او فنونو لپاره چټکې هلې ځلې روانې وې، چې ددغو هېوادونو له ډلې څخه المان، انګلستان او فرانسه ترټولو مخکې وو. خو دا چې څنګه د فیزیولوژۍ او ارواپوهنې په ځانګو کې المان ترټولو وړاندې شو. سبب یې څېړونکو دا ښودلی چې په انګلستان او فرانسه کې علم تر زیاتې اندازې په کیمیا او فزیک پورې محدود ؤ. خو المانیانو علوم په پراخه بڼه تعبیرول او تفسیرول. په المان کې د کیمیاوي او فزیکي علومو ترڅنګ، تاریخ، ژبپوهنې، لرغونپوهنې، ښکلاپوهنې، منطق او ادبیاتو ته هم ځانګړې پاملرنه موجوده وه.

همداراز هغه وخت په المان کې زیات مجهز پوهنتونونه وو. هغه له ښو امکاناتو څخه برخمن وو، استادانو ته به یې زیات معاشونه ورکول کېدل او چا به چې کوم نوی علمي فکر، کشف او اثر رامنځته کړ، هغه به زیات نازول کېده. په بله معنا په المان کې به چې کوم عالم تحقیقي کار کاوه، هغه ته کار پیدا کېده، معاش ورته ورکول کېده، خو په انګلستان او فرانسه کې خبره داسې نه وه. په همدې اساس د ارواپوهنې په منځته راتګ کې زیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو چې نوم یې ایستلی دی، د المان د پوهنتونونو استادان او یا له دغو پوهنتونونو څخه وتلي شاګردان دي.

او دا چې څنګه «ګوستاوفخنر» د نوې اروا پوهنې پلار ونه ګڼل شو. څېړونکو په دې اړه ویلي، له شکه پرته که د فِخنر کارونه نه وای، نو اروا پوهنې نه شوای کولی په هغه وخت کې ځان راښکاره کړی وای. اروا پوهنه د فِخنر د نامتو اثر «رواني فزیک» له خپرېدا کابو **۱۵** کاله وروسته په رسمي توګه رامنځته شوه، چې د فخنر بنسټیزو نظریاتو پکې رول درلود. خو دا چې فخنر د اروا پوهنې بنسټګر ونه بلل شو، سبب یې دا دی، چې فخنر هېڅکله په شعوري ډول نه دي غوښتي چې یو نوی علم رامنځته کړي، خو «**ویلهلم وونټ**» هغه پوهاند دی، چې داروا پوهنې د رامنځته کولو لپاره یې په شعوري او عملي توګه اقدام کړی دی. ده ان په **۱۸۷۴**م کال د خپل یوه اثر «د فیزیولوژیکې اروا پوهنې اصول» په سریزه کې ولیکل: «خپل هغه کار چې زه یې ټولو ته وړاندې کوم، د یوه نوي علم د رامنځته کولو هڅه ده.» د وونټ موخه له دغې خبرې دا ده، چې ده غوښتل «اروا پوهنه» دیوه مستقل عمل په توګه دود کړي.

په همدې هوډ د وونټ د ژوند ټولې علمي هڅې په اروا پوهنه باندې راوڅرخېدې او دده لیکنې، ازموینې او شاګردان ددې لامل شول، چې اروا پوهنه په یوه نړیواله علمي موضوع بدله شوه او ډېر ژر ددغې نوې پوهنې په هکله په ګڼو هېوادونو کې هلې ځلې وشوې، بېلابېل اروا پوهنیز مکتبونه لکه، (جوړښت پالنه)، (عمل پالنه)، (ارواشننه)، (سلوک پالنه)، (ګشتالت پالنه)، (انسان پالنه) او (شناخت پالنه) رامنځته شول او ددغو مکتبونو پلویانو په خپل وار سره اروا پوهنې ته زیات څه وبښل، چې په راتلونکو پاڼو کې به په جلا جلا توګه بحث وړاندې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د اروا پوهنې دوه مکتبونه
# د مبارزې په حال کې

«جوړښت پالنه او عمل پالنه»

هغه مهال چې له پوهانو او څېړونکو سره د اروا پوهنې او اروا پوهنیزو موضوعاتو په هکله بېلابېل فکرونه پیدا شول، نو له څه مهال تېرېدو وروسته ددغو فکري ډولونو او روښونو په رڼا کې د اروا پوهنې بېلابېل مکتبونه منځته راغلل او له همدغه پیل څخه ددغو مکتبونو ترمنځ مبارزه پیل شوه، چې ترټولو لومړی د عمل پالنې یا « **د عمل د مکتب**» او د جوړښت پالنې یا «**د جوړښت د مکتب**» ترمنځ ځینو اختلافاتو زور واخیست. دغه توپیر په حقیقت کې د یادو مکتبونو د پلویانو د فکري تنوع څخه راولاړ شو، چې په پایله کې دواړو لوریو د خپلو مفکورو په بډاینه او پیاوړتیا کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې.

د جوړښت پالنې (structuralism) د مکتب بنسټ په ۱۸۷۹م کال د ***ویلهلم وونټ*** له خوا «چې په اروا پوهنه کې یې تر پنځوس زرو زیات مخونه لیکنې کړې» اېښودل شوی دی. وونټ هغه عالم ؤ، چې د اروا پوهنې لومړنی منظم او سیستماتیک روش یې دود کړ او همدا لامل دی، چې ده ته د نوي دوران لومړنی اروا پوهاند هم ویل کېږي.



ویلهلم وونټ

جوړښت پالنه چې «محتوایي اروا پوهنه» هم ورته ویل شوې، یو داسې اروا پوهنیز سیستم دی، چې خپل ټول تمرکز یې د شعوري اعمالو پر مطالعه او څېړنه راغونډ دی، په بله معنا جوړښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پالنه په بنسټيزه توګه له شعورپوهنې څخه بحث کوي.**

**(د وونټ په نظر د شعور لومړني عناصر، رواني پديدې دي، چې له لويه سره پر دوو برخو«احساسونو او هيجانونو» باندې وېشل کېږي. عيني بهې او جنبې، احساسونه منځته راوړي او ذهني بهې او جنبې بيا هيجانونه تشکيلوي. په دې اساس اروا پوهنه بايد د همدغو شيانو د جوړښت او د هغو د فعاليت توضيح او تشريح وي. يعنې اروا پوهنه بايد څرګنده کړي، چې شعور يا ځان خبري consciousness څنګه او له کومو عناصرو څخه جوړه شوې ده؟ او څه کارونه ترسره کولی شي؟ ددغه سيستم له مخې د اروا پوهنې د مطالعې موضوع دهغو عقلي عناصرو او عواملو mental-elements څېړنه ده، چې شعور ورڅخه منځته راغلی دی. په همدې سبب يې ددغه سيستم نوم *جوړښت پالنه* «ساخت ګرايي» ټاکلی دی. په خپله وونټ «لکه څنګه چې پورته هم ورته اشاره وشوه» دغه درې اساسي عناصر «احساس، هيجان او ادراک» يې د شعور جوړونکي اجزا بللي دي)**

روان شناسی عمومی انسان، ۱۰۱۶او۱۰۱۷مخونه

**(وونټ غوښتل، شعور يا ځان خبري د هغو پر اصلي او بنسټيزو ترکيبي او جوړوونکو اجزاو باندې وویشي. دقيقاً هماغسې لکه د طبيعي علومو پوهانو چې نړۍ د مادي جوړښت له مخې څېړله او تحليل کوله.)**

مکتبهای روانشناسي و نقد ان، جلد«۱»، ۱۱۰مخ




**په همدې توګه د جوړښت پالنې يا ساختماني مکتب پرعمومي طرحه باندې د ويلهلم وونټ د افکارو سيوری پروت دی. خو څرنګه چې د ويلهلم وونټ ځينو شاګردانو نورې هڅې هم وکړې، نو دغه مکتب يې د المان له پولو واړاوه. د وونټ يوه تر ټولو لايق شاګرد ادوارډ ټيچنر«۱۸۶۷م–۱۹۲۷م» چې وروسته ددغه مکتب د رهبر نوم هم ورکړل شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۸۹۲م کال امريکا ته ولاړ، هلته يې څو لسيزې د «کرنل» په پوهنتون کې استادي وکړه او په ټوله امريکا کې د جوړښت پالنې د مکتب د رهبر په توګه راڅرګند شو. په دې معنا که په اروپا کې د جوړښت پالنې د مکتب منځته راوړونکی ***ويلهلم وونټ*** ؤ، په امريکا کې يې ***ټيچنر*** ؤ. ټيچنر چې له اصله انګليسي ژبی ؤ، د وونټ زيات کتابونه يې له الماني څخه انګليسي ژبې ته ژباړلي وو او خپل ځان ته به يې د وونټ کلک پيرو، وفادار او مفسر وايه.

څرنګه چې ټيچنر د لوړو زده کړو سند هم د وونټ ترلارښوونې لاندې د «لاپيزيک» له پوهنتون څخه ترلاسه کړی ؤ، نو کله چې امريکا ته ولاړ، له ځانه سره يې د وونټ مينه او خبرې هم يووړې. ده له ۱۸۹۳م کال څخه تر۱۹۰۰م کال پورې په کرنل پوهنتون کې د اروا پوهنې يو ازموينښتون تاسيس کړ او تر ۶۰ يې زياتې مقالې وليکلې. ده په دغه پوهنتون کې د خپلې استادۍ په ۳۵ کلنه موده کې د اروا پوهنې د ۵۰ تنو نوماندو ډاکترانو لارښوونه وکړه، چې د هغوی ټولو تيزسونه دده د افکارو تراغېز لاندې وو. همداراز ټيچنر په دغه اوږده موده کې يو لړ کتابونه لکه: «د اروا پوهنې اصلي ټکي، د اروا پوهنې مقدمات، ازموينښتي اروا پوهنه او په ازموينښتون کې د کارکولو لارښود» خپاره کړل.

دغه او نورې هڅې ددې لامل شوې، چې په امريکا کې د جوړښت پالنې د مکتب يا Structuralism موضوع په خورا شور او زور سره مشهوره شوه. څرنګه چې (ددغه مکتب پيروانو په ټوليز ډول اروا پوهنه د شعور علم بلله او ويل به يې چې شعور له احساس، تخيل، عواطفو او تفکر څخه جوړ شوی دی. خو ټيچنر شعور او ذهن سره ورته ګڼل. ده له وونټ څخه په څه توپير په لومړي سر کې د شعور لپاره درې حالتونه وړاندې کړل. بهرني احساسات، ذهني تصويرونه او عاطفي حالتونه. ده وويل: بهرني احساسات د ادراکو بنسټيز توکي دي، چې د غږونو، منظرو، بويونو او نورو موجودو فزيکي تجربو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې چې زموږ په ذهن کې شته منځته راځي. ذهني تصویرونه د انسان د فکري جریان عناصر دي او په هغو مرحلو کې ځان راښیي، چې کله تجربو ته انعکاس ورکوي. په داسې حال کې چې یادې تجربې مستقیم حضور ونلري. لکه د یوې تېرې پېښې په یاد راوړل او یا هغه په ذهن کې مجسم کول. عاطفي حالتونه د هیجاناتو اصلي عناصر دي او په بېلابېلو تجربو لکه، مینه، نفرت، غم او خوشالۍ کې ځان راڅرګندوي.)

تاریخ روانشناسي نوین،۱۴۸مخ

ټیچنر احساسونه د ادراکو اصلي توکي او ذهني تصویرونه د تصوراتو اصلي توکي ګڼل او شعور یې په یوه ټاکلي وخت کې د بېلابېلو تجربو د مجموعې په صورت کې او ذهن یې د هغو ټولو تجربو د مجموعې په توګه چې د عمر په اوږدو کې رامنځته کېږي تعریف کاوه. ده څرګنده کړې: ذهن او شعور سره ورته او مشابه دي، خو لږ غوندې توپیر یې په دې کې دی، چې شعور په یوه حاضره شېبه کې واقع کېدونکې چارې ذهني مرحلو ته را شاملوي او ذهن بیا دغه ټولې مرحلې او چارې په خپله لمن کې رانغاړي.

ټیچنر د وونټ په شان د حسي او ادراکي عملیو په پایله کې منځته راغلې تجرې د اروا پوهنې موضوع وګڼله. دی وایي:(دا هغه تجربې نه دي، چې د فزیک په وسیله ترمطالعې لاندې نیول کېږي، بلکې په بشپړ ډول ورسره توپیر لري. غږ او رڼا ممکن د فزیکپوهانو یا د اروا پوهنې د متخصصینو په واسطه مطالعه شي. فزیکپوه د فزیکي عملیو او فعالیتونو له نظره ورته ګوري او اروا پوه له دې مخې هغې ته ګوري، چې دیوه انساني مشاهده کوونکي په واسطه څرنګه تجربه کېږي.)

مکتبهای روانشناسی و نقد ان، جلد«۱»، ۱۱۲مخ

د ټیچنر په باور د بدن او روان اړیکې موازي او همغږې دي او ترمنځ یې د علت او معلول کوم ارتباط نشته.دده په اند :«د بشر ټوله پوهه له انساني تجربو څخه سرچینه اخلي او له دې پرته د پوهې د منځته راتګ لپاره بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅه کومه داسې منبع نشته. خو خبره په دې کې ده، چې دغه تجربې کېدلی شي، د افرادو د مختلفو ليدلوريو له خوا وليدل شي او بيا ومنل شي.» ټېچنر د انسان ذهنيت او د هرې تجربې راخپلول، دده د مشاهدې ثمره بولي او حتیٰ وايي چې «په ټولو علومو کې د څېړنې عمومي طريقه مشاهده ده او همدا ډول د اروا پوهنې طريقه او روش هم مشاهده ده.»

تر ټېچنر وروسته نورو جوړښت پلوو اروا پوهانو هم د تجربې په باب خبرې کړې دي. دوی ويلي؛ څرنګه چې په نړۍ کې هر شی د بدلون په حال کې دي او ثبات او تلپاتې والی هېڅ ځای او په هېڅ شي کې نشته، همداسې د انسان تجربې هم د بدلون په حال کې دي. په دې بنسټ زموږ ذهن هم له دغو ټولو تجربو سره د ارتباط په حال کې دی او په يو ډول خوځنده حالت کې قرار لري. همدا لامل دی، کله چې ذهني فعاليتونه په جريان کې وي، شعور او ځان خبري هم شته وي او کله چې ذهني فعاليتونه ودرېږي، نو ځان ناخبري منځته راځي.

د وونټ، ټېچنر او ساختماني مکتب د پلويانو پر مفکورو ګڼ شمېر نيوکې هم شوې، د مثال په ډول، يو شمېر اروا پوهان پر دوی نيوکه کوي، چې دوی ترډېره حده په شعور او شعوري عمليو باندې تمرکز کوي او د نورو رواني پديدو په څېړلو او د هغو ترمنځ په شته اړيکو بحث نه کوي، نو له دې امله ده، چې دوی اروا پوهنه د محدوديت خوا ته کشوي.

خو تر دغه نيوکو ورها خوا د دوی يو لوی خدمت اروا پوهنې ته دا ښودل شوی، چې دوی په خورا دقت سره د شعور تجربې تعريف کړای شوې او حواس، احساسات او ادراک يې په داسې ډول تشريح او توضيح کړل، چې اروا پوهنه يې وربانديې له عامه عقايدو او متافزيک څخه راجلا او هغه يې علمي مرحلې ته داخله کړه.

او بله غټه لاسته راوړنه د دوی له خوا د «باطن څېړلو» موضوع ښودل شوې ده. څېړونکي له جوړښت پلويانو سره د باطن څېړلو د موضوع په تائيد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: اروا پوهنه نه شي کولی، له خپلې اصلي دندې څخه «چې د يولړ باطني او ذهني مسايلو لکه احساس، ادراک، عواطف، هيجان او نورو علمي پېژندنه او څېړنه ده» سترګې پټې کړي. دغه ډول مسايل هغه څه دي، چې اروا پوهان يې د باطن څېړلو د روش په مرسته د باندې راوباسي او د يوه وګړي په ځان کې يې مشاهده کوي. کله چې يو شخص خپل کوم منفي يا مثبت احساس څرګندوي، د هغه په ظاهري څېره يې هم اغېز راځي. يا په بله معنا، د يوه شخص باطني حالات او کيفيات د هغوی له ظاهري يا عملي حالاتو سره ځانګړی پيوند لري او په يو نه يو ډول د شخص سلوک او چال چلند ته بڼه ورکوي. د ساري په ډول: (که چېرې مو ړ خوشاله شو، د خوش وختۍ احساس راته پيدا کېږي، څېره مو غوړېږي او موسکا مو پرشنډو خپرېږي. خو کله چې غمجن شو، ځينې وخت دومره مړاوي شو، چې له سترګو مو اوښکې روانېږي... په دې ډول ويلی شو، چې د رواني حالاتو او عملي چال چلند ترمنځ يو نه انکارېدونکی پيوند او تړاو موجود دی.)

مکتبهای روانشناسي و نقد ان، ۱۹۲مخ

❖ ❖ ❖

د **جوړښت پالنې** يا (Structuralism) د مکتب پر وړاندې چې کوم چا لومړی د نيوکو دريځ ونيو، هغه د **عمل پالنې** (Functionalism) د مکتب پلويان وو. دوی له لويه سره د جوړښت پلويانو پر وړاندې د شعور موضوع ته په بېل نظر وکتل او ويې ويل: «اروا پوهنه ددې پرځای چې د شعور جوړښت وڅېړي، بايد د هغو چلندونه او هدفونه وڅېړي!»

د اروا پوهنې د تاريخ ليکونکو په نظر: (له جوړښت پالنې څخه عمل پالنې ته د اروا پوهنې تحول، په هغه وخت کې د يوه انقلابي بهير پرځای يو تکاملي بهير ؤ. عمل پلويانو په بشپړه توګه د وونټ او تيچنر د کار پر بنسټ خپل کار پيل نه کړ، بلکې د هغو د کارونو په سمون او بدلون يې لاس پورې کړ، په يو شمېر ځايونو کې يې څه پرې ورزيات کړل او په يو شمېر ځايونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې ځینې بدلونونه پکې راوستل، په دې ډول ورو ورو یوې نوې اروا پوهنې ظهور وکړ.) مکتبهای ادبي و نقدآن، جلد«۲»، ۵ مخ

د عمل پالنې د مکتب دنده د رواني عملیو څرنګوالی، د هغو د کارېدنې د ډولونو او شرایطو مطالعه ده. دوی په دې اند ؤ، چې ذهني اعمال د بیولوژیکي اعمالو په څېر ثابت او پایداره دي او تقریباً ټولې ذهني چارې کېدلی شي د عمل ډګر ته راووځي. عمل پالنه د شعور او ذهن هغه ځانګړتیاوې په پام کې نیسي، چې کاري اړخونه ولري، یا هغه ځانګړتیاوې، چې د محیط او ارګانېزم د غوښتنو ترمنځ واسطه کېږي. په دې بنسټ، عمل پالنه رواني فعالیتونه په مستقل ډول نه، بلکې د فزیکي او بیولوژیکي شرایطو سره د ارتباط په لړ کې مطالعه کوي. دغه اروا پوهان رواني او جسماني اړخونو ته په خپلو څرګندونو کې په یوه فرضي ارتباط قایل شوي دي. څرنګه چې د ذهن او جسم ترمنځ کوم ملموس یا د لمس وړ توپیر نه څرګندېږي، نو عمل پلویان دغو دواړو اړخونو ته د یوه داسې څه په سترګه ګوري، چې له یوه واحد نظم څخه پیروي کوي. دوی احساس، ادراک، حافظې، تخیل، هیجان، ارادې او داسې نورو مسایلو ته د «ذهني فعالیتونو» اصطلاح غوره کړې ده. خوڅرنګه چې ذهن په هره لحظه کې مختلف کارونه ترسره کوي، نو دغه کارونه له تجربې، چلند او عمل سره اړیکه لري او هریو د ذهني فعالیت په ملګرتیا کې صورت نیسي.

مثلاً، ادراک د شیانو د پېژندلو یوه ذهني مرحله ده او موږ تل د هغو پربنسټ عمل کوو، خو همدغه ادراک د انسان په ذهن کې یوازې د یوې حاضرې شېبې رنګ نه لري، بلکې له هغو تېرو تجربو څخه هم رنګ اخلي، چې په ذهن کې موجودې دي. کله چې موږ یو شی درک کوو، نو د همغه شي کټ مټ یا هغو ته ورته معنا زموږ په ذهن کې د مخکنیو تجربو له مخې پر ته وي. که چېرې یو شخص په ناڅاپي ډول خپلې ټولې مخکنۍ تجربې له لاسه ورکړي، تقریباً به له یوه داسې ماشوم سره برابر شي، چې حتيٰ خپل خواړه په

(c) ketabton.com: The Digital Library




خپله نه شي خوړلی. په همدې اساس د هرشخص فکري روش او نور چال چلند او رفتار دده د مخکنیو تجربو یا په ذهن کې د ضبطو شویو مفاهیمو تابع دی. ذهن تل د بېلابېلو تجربو جنبې او اړخونه ارزوي او د ژوند ټولو مسایلو، شیانو او پېښو ته معناوې او معیارونه ټاکي.

د محققینو په اند، د عمل پالنې یو مثبت اړخ «چې د نوې اروا پوهنې لپاره خدمت بلل کېږي» له مختلفو روشونو څخه ګټه اخیستنه ده، د عمل پلویانو له خوا د «باطن څېړلو روش، د عیني او مشاهدې روش، د ازمویښتي روش، د فرهنګي او تاریخي روش او د طبیقي روش» رامنځته کول، د اروا پوهنې د بډاینې سبب شوي دي.

د عمل د مکتب لارښوونکی نامتو فیلسوف او اروا پوه **ویلیام جیمز** «۱۸۴۲م–۱۹۱۰م» دی. چې «د اروا پوهنې اصول» کتاب یې د نوې اروا پوهنې په تاریخ کې یو بانفوذه کتاب بلل کېږي، ده د ساختماني یا جوړښت پالنې د مکتب په مقابل کې وویل:«د جوړښت پالنې د مکتب پلویان د شعور د واقعي تجربو له ماهیت او خاصیت څخه غافل شوي وو، دوی باور درلود، چې شعور د افکارو له دایمي جریان څخه تشکیل شوی دی او له دې مخې یې د شعوري جریان د عناصرو د تجربه کولو لپاره په راکدو او ولاړو ټکو پسې ګرځېدل..» جیمز غوښتل په خپله دغه جریان وپېژني، په دې اساس یې هغو ته د یوې رواني ویالې نوم غوره کړ.

«د نورو معلوماتو لپاره د جیمز ژوندلیک وګورئ.»




جیمز د ذهن د تشکیلوونکو عناصرو د مطالعې پرځای د هغو د کړنو او چال چلندونو پرمطالعې د ټینګار په ترځ کې لیکي:«د انسان په ذهني موضوعاتو کې هره موضوع هغه وخت د څېړنې وړ ګرځي، چې عملي نتیجه ورڅخه پیدا شي. کوم څه چې د انسان پرعملي چلند اغېز ونه لري، څېړل یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ضایع ده... که د کوم باور عملي پایله سمه وي، هغه باور سم دی او که عملي پایله یې ناسمه وي، ناسم دی. په دې اعتبار د فکر سرچینې ته چې له کومې خوا راپیداکېږي، دومره توجه باید ونه شي، بلکې د هغو پایلې او نتیجې ته باید وکتل شي.»

جیمز مخکنۍ اروا پوهنې ته په کتو لیکلي:(له محیط سره د جوړجاړي له اړخه د انسان مطالعه، هغه نیمګړې او ناقصه مطالعه ده، چې نه شي کولی د انسان ټول ابعاد په خپله لمن کې ونغاړي، خو کیدای شي، یوازې د انسان بیولوژیکي او مادي اړخ وڅېړي. مګر د انسان ارادي حالتونو ته په دغه اړخ کې د مطالعې ځای نشته. انسان کولی شي محیط ته بدلون ورکړي، کولی شي ځان په خطر کې واچوي او یا کېدای شي د انساني فضایلو او کمالاتو د لاسته راوړلولپاره خپلو ټولو فعالیتونو ته وده ورکړي... انسان له بېلابېلو خبرتیاؤ لکه حسي، خیالي او عقلاني خبرتیاؤ څخه برخمن دی او له دې سربېره کولی شي، د خپل ماحول په وړاندې خبر ووسي. په انسان کې دا ځواک شته، چې د نړۍ په اړه ځینو بنسټیزو پوښتنو ته ځواب ووایي او همداسې کولی شي خپله خبرتیا د مادي نړۍ له محدودې څخه وباسي او د ماوراطبیعت په اړه فکر وکړي او له خپلو غیرمادي مبداګانو سره ځان اشنا کړي. له بله اړخه انسان په دې قادر دی، چې د خپل راتلونکي او مادي ژوند له برخلیک سره اشنا شي.) مکتب های روانشناسی ونقد ان، جلد«۱»، ۲۳۹مخ

جیمز په ټولیز ډول اروا پوهنه « د رواني ژوند علم یا د رواني پدیدو او د هغو د شرایطو علم» بولي. له «پدیدو» او «شرایطو» څخه دده موخه دا ده، چې «پدیدې له رواني تجربو څخه لاسته راځي او شرایط ترجماني جوړښتونو لاندې دي، چې په رواني ژوندانه کې ځانګړی ارزښت لري.»

جیمز انسان انتخابګر معرفي کوي او د انتخاب بنسټ، ارتباط ګڼي. دی وایي:«انسان د یوه داسې ځانګړي شي یا فعالیت انتخاب او اراده کوي، چې دده د ځانګړې ارادې او میل سره په ارتباط کې وي. که چېرې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت دده د میل او ارادې مطابق نه وي، په هغه فعالیت لاس نه پورې کوي.»

د جیمز نظریات که څه هم په اروا پوهنې کې د قدر وړ ځای لري، خو په بشپړ ډول له نیوکو خلاص نه دي. د جوړښت پالنې پلویانو او نورو راوروسته اروا پوهانو دده په نظریاتو باندې د کره کتنې په لړ کې ویلي: (څرنګه چې ویلیام جیمز شعور یا ځان خبري د یوه داسې جریان په ډول بللې، چې تل د بدلون په حال کې ده او هېڅوک نه شي کولی یو فکر په دوهم ځل کټ مټ هماغسې ولري... ددې په مقابل کې باید وویل شي، چې د شعور له خصوصیاتو څخه یو هم د هغو ثبات دی، څه شی چې موږ درک کوو، هغه په تغیر او بدلون نه اخته کېږي... دا چې ارسطو د افلاطون شاګرد بولو، یوه خبرتیا ده او دغه شعوري خبرتیا د بدلون په حال کې نه ده. حتیٰ که چېرې وروسته معلومه شي، چې دغه درک سم نه دی، خو همغسې به له مخکني ذهني تصویر سره باقي پاتې شي. دا له دې امله ده، کله چې انسان شل کاله مخکې کوم څه حافظې ته سپاري، یوځل بیا هغه یاد ته راوړي او بیا یې پېژني... په زده کړه او پوهه کې تکامل د خبرتیاؤ د زیاتوالي او د تېرو نظریاتو د سمون او تصحیح په معنا دی... په دې اساس ویلی شو، انسان په هر موقعیت کې د ځانګړو شرایطو سره د تړاو له مخې شیانو ته پاملرنه کوي، خو دا په دې معنا نه ده، چې شعور او ځان خبري په تغیر او بدلون کې ده، بلکې هرڅومره چې ممکنه وي، انسان په هرځل د خپلو زیاتو تجربو ترڅنګ له اشیاو او پدیدو سره برخورد او مخامختیا کوي او نوی درک ورسره پیدا کېږي.)

مکتب های روانشناسي ونقد ان، ۲۴۸مخ


د عمل د مکتب د پلویانو او ځینو نورو څېړونکو یوه نیوکه پر ساختماني مکتب یا جوړښت پالنې باندې دا وه، چې دوی پرځینو مسایلو له بېخه سترګې پټې کړې دي. د ساري په ډول د ذکاوت د ازمویښې موضوع، چې امریکایانو ته ډېره په زړه پورې وه او د فردي تفاوتونو د پېژندنې لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارېده، دوی له نظره وغورځوله او ترڅنګ یې د طبیعي او غیرطبیعي ځوانانو ارواپوهنې ته پام ونه کړ.

د عمل د مکتب پلویان د ماحول ټولو پېښو او انګېزو ته له ذهني جریانونو سره رابطه ورکوي. ددغه مکتب یو مشهور غړی، **جان ډیوي** «۱۸۵۹م–۱۹۵۲م» چې د «طبیعت او انساني سلوک»، «ویښ خلاق فکر» او «ښوونځی او ټولنه» کتابونه یې په ارواپوهنه کې شهرت لري، وایي:( ذهن مجرد جوهر دی، چې بهرنی عیني وجود نه لري. ذهن کوم لوښی نه دی، چې په هغو کې فکر ټاټوبی ولري... ذهن د تجربو او د ژوند د جریاناتو د یوځای والي څخه جوړېږي او ذهن هم لکه تفکر د انسان د فعالیتونو تابع دی.) روحیات، ۲۸۲مخ


جان ډیوي

جان ډیوي، فکر ته د عمل له لیدلوري ګوري او لیکي:(فکر له چاپېریال سره د تطابق آله ده او لکه پښه، لاس او غاښ د بدن له غړو څخه یو غړی دی...تفکر دوې مرحلې لري، لومړی: د دماغ د شک او تردید دوره، چې د تفکر د سرچینې او شروع مرحله ده، چې تر تعقل د مخه حالت بلل کېږي. دوهم:له څېړنې او تحقیق موندلو وروسته، له شک او تردید څخه د وتلو مرحله ده، چې تر تعقل وروسته حالت نومول شوی دی... تفکر له یوې مخصوصې وضعې سره تړلی نه دی، بلکې د پېژندنې، فرهنګي او پوهنیز چاپېریال سره اړیکه لري. شخص مخکې تردې چې ټولنه دده محصول وي، دی د ټولنې محصول دی. هر وړوکی چې نوی دنیا ته راځي، د ټولنې د عادتونو، اخلاقو، سنتو، ټولنیزو ارزښتونو او ژبې د اغېز په کړیو کې لویېږي.) هماغه اثر، ۲۸۰، ۲۸۱ او ۲۸۲مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library






د عمل د مکتب په پرمختیا کې تر ویلیام جیمز او جان ډیوي وروسته، د ***رولنډ انجل*** «۱۸۶۹م-۱۹۴۹م» هڅې د یادولو وړ دي. انجل د امریکا په اروپوهانو کې ځانګړی نوم لري. دده نیکه د «ورمونټ» او «میشیګان» په پوهنتونونو کې رئیس پاتې شوی و. له همدې امله انجل هم د امریکا د میشیګان په پوهنتون کې لوړې زده کړې وکړې. ده د محصلۍ په دوران کې د ***جان ډیوي*** او ***ویلیام جیمز*** کتابونه ولوستل او په همدې توګه وروسته د هغوی دلارې لاروی شو.

ده په خپل یوه اثر کې چې «د علمي اروپوهنې قلمرو» نومېږي، خپلې مفکورې وړاندې کړې دي. دده په نظر:(عمل پلوه اروپوهنه هېڅکله کوم نوې شی نه ده، بلکې له هماغو لومړنیو وختونو څخه د اروپوهنې یوه مهمه څانګه ده... عمل پلوه اروپوهنه د جوړښتي اروپوهنې په پرتله د ذهني عملیو اروپوهنه ده. دا اروپوهنه هڅه کوي، ځانته څرګنده کړي چې ذهني مرحلې څرنګه عمل کوي؟ څه شی ترسره کوي؟ او له څه شي څخه تراغېز لاندې راځي؟... دغه اروپوهنه د یوې منځګړې څانګې په توګه زیار باسي، چې د یوه ژوندي موجود د اړتیاو او د محیط د غوښتنو ترمنځ اړیکې وڅېړي.)تاریخ روانشناسی نوین

انجل په دې باور دی، چې (د ژوند په بهیر او له چاپېریال سره د فرد په جوړښت کې د فرد رواني او بدني قوې دواړه مرستې کوي، دده په نظر د ژوندي موجود د بقا لپاره وېره، غوسه او نور عواطف اړین دي. دغه ډول عواطف انسان له نویو پېښو او تازه موقعیت سره مخ کوي.)

د عمومي اروپوهې آرونه،۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له انجل وروسته نورو امریکایي اروا پوهانو هم د دغه مکتب په پرمختیا او بډاینه کې هڅې کړې دي، چې د هغو له ډلې څخه د «**هاروي اکار**» او «**رابرټ وودورث**» نومونه یادولی شو.

د جوړښت پلوو او عمل پلوو اروا پوهانو ترمنځ په روانه مبارزه کې نه یوازې عمل پلوو اروا پوهانو پر جوړښت پلوو اروا پوهانو باندې نیوکې کوې، بلکې جوړښت پلوو اروا پوهانو هم د ټیچنر ترمشرۍ لاندې د کرنل له پوهنتون څخه د عمل پلویانو پرضد نیوکې خپرولې. د جوړښت پلویانو لپاره له لویه سره د «عمل» اصطلاح نااشنا او نامناسبه ښکارېده او ویل به یې چې دوی دغه اصطلاح په روښانه ډول نده تعریف کړې او په خپله ټیچنر په دې اند ؤ، چې د عمل مکتب په ټوله معنا اروا پوهنه نه ده، دا ځکه چې د جوړښتي مکتب پر بنسټونو ولاړه نه ده. له همدې مخې ځینو جوړښت پلویانو، د عمل د مکتب یوشمېر ملاحظات ناسم ګڼل او د دوی د فلسفي ګومانونو پایله یې بلله.

په عمل پالنه باندې یوه نیوکه دا هم شوې، چې دوی ویلي: «ډېری ذهني حالتونه باید د عصبي فیزیولوژۍ په مرسته توضیح شي.» نیوکه کوونکي وایي: (دا سمه ده، چې تریوه بریده رواني عملونه او عکس العملونه په عصبي سیستم پورې تړلي دي، خو په ټولیز ډول نه شو کولی، ټول رواني مسایل په فیزیولوژیکي جریانونو کې خلاصه کړو. مثلاً لکه څرنګه چې ماده په بدلون کې ده او عصبي سلولونه هم له دغه بدلون څخه خلاص نه دي. انسان چې کوم شی لس کاله مخکې لیدلی او یا کوم مطلب چې کلونه کلونه مخکې یې ذهن ته سپارلی، دوهم ځل په همغه شکل او همغه خاصیت یاد ته راولي، نو که چېرې زموږ ادراک او هغه شی چې زموږ په حافظه کې تېرېږي مادي وي، په هېڅ ډول به له یاد شوي ثبات څخه برخمن نه وي) مکتب های روانشناسی ونقد ان، ۲۵۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اروا‌پوهنې په تاریخ کې ددغو دوو مکتبونو«جوړښت پالنې او عمل پالنې» ترمنځ سیالیو ډېر اروا‌پوهان وهڅول، چې په اروا‌پوهنه باندې فکر وکړي. په ځانګړي ډول په امریکا کې د اروا‌پوهنې وده خورا چټکه شوه. د اروا‌پوهنې تاریخ لیکونکي وایي: (له ۱۸۸۰م کال څخه تر ۱۹۰۰م کال پورې په امریکا کې د اروا‌پوهنې وده او پراختیا د علم په تاریخ کې یوه ټکان ورکوونکې پېښه وه. په ۱۸۸۰م کال کې د اروا‌پوهنې هېڅ کوم ازمویښتون په امریکا کې نه ؤ، خو د ۱۹۰۰م کال په رارسېدو سره ۴۲ ازمویښتونونه منځته راغلل، چې د المان ترازمویښتونونو غوره او مجهز وو. په ۱۸۸۰م کال په امریکا کې د اروا‌پوهنې هېڅ یوه مجله نه وه؛ په ۱۸۹۵م کال کې درې مجلې رامنځته شوې. په ۱۸۸۰م کال کې امریکایان اړ وو، چې د اروا‌پوهنې د زده کړې لپاره المان ته ولاړ شي، خو په ۱۹۰۰م کال پر دې بریالي شول، چې په خپل هېواد کې د اروا‌پوهنې زده کړې بشپړې کړي. په ۱۹۰۳م کال کې د امریکا پوهنتونونو کې تر کیمیا، بیولوژي او فزیک وروسته په اروا‌پوهنه کې زیاتې دوکتوراوې PhD ورکول کېدې. په ۱۹۱۰م کال د اروا‌پوهنې په برخه کې په سلو کې تر ۵۰ زیاتې مقالې په الماني ژبه خپرېدلې او یوازې ۳ په سلو کې په انګلیسي ژبه وې، خو په ۱۹۳۳م کال په سلو کې ۵۲ مقالې په انګلیسي ژبه شوې او یوازې په سلو کې ۱۴ په الماني ژبه وې.) تاریخ روانشناسی نوین، ۳۳۱مخ


(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اروا شننې مکتب

## اروا پوهنې ته څه ورکړل؟

د نوې اروا پوهنې د تحول او تکامل په تاریخ کې د اروا شننې (Psycho-analysis) مکتب او ددغه مکتب په منځته راتګ کې، د هغو د بنسټګر «**زیګموندفروید**» او نورو پلویانو «کارل یونګ»، «الفرډ آډلر»، «کارن هورنای»، د فروید لور «انافروید»، «اریک اریکسون»، «هنري موري» او نورو کارونه او علمي هڅې بنسټیز ځای لري. د اروا شننې یا «رواني تحلیل» اصطلاح او د فروید نوم، د زیاتره هغو کسانو لپاره چې لوړې او پوهنتوني زده کړې لري اشنا دی. په داسې حال کې چې د «فخنر»، «وونټ» او «ټیچنر» نومونه او نظرونه له مسلکي اروا پوهنې څخه بهر دومره نه دي مشهور شوي؛ خو فروید هغه څوک دی، چې د شهرت انګازه یې د اروا پوهنې تر قلمرو اوړي او د زیاتو کسانو ترغوږونو رسېږي. فروید د اروا شننې موضوع په ۱۸۹۵م کال « هغه مهال چې نوموړی ۴۱ کلن ؤ» په خپل کتاب چې «د هیسټري په هکله معلومات» نومېږي رامنځته کړه.


فروید

دا هغه وخت ؤ، چې د «جوړښت پالنې» بنسټګر «ویلهلم وونټ» ۶۳ کلن ؤ او په امریکا کې ددغه مکتب مخکښ «ټیچنر» ۲۸ کلن ؤ او په «کرنل» پوهنتون کې یې د استادۍ ۲ کلونه کېدل. «عمل پالنه» لا تردې وخته د یوه مکتب په چوکاټ کې نه وه بشپړه شوې، خو د رابشپړېدو په حال کې وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ګشتالت پالنې» د مکتب څرک هم نه ؤ او بنسټګر یې «ورتهایمر» لا د ۱۵کالو په شاوخوا کې ؤ. همداراز «سلوک پالنه» هم نه وه او بنسټګر یې «جان واټسن» هغه مهال ایله د ۱۷ کالو زلمی ؤ.

په هرحال ارواشننه له ۱۹۰۰م کال راپه دې خوا شهرت ته ورسېده او له نورو اروا‌پوهنیزو مکتبونو سره جوخت یې، نوې اروا‌پوهنې ته په پراختیا او پرمختیا ورکولو کې لویه ونډه واخیسته. ددغه مکتب یوه ترټولو مهمه ځانګړنه دا ده، چې اروا‌پوهنه یې له پېچلي او پوهنتوني سبک څخه وایستله، هغو ته یې سادګي او جاذبوالی ورکړ او د مسلکي اشخاصو ترڅنګ یې د عامو خلکو د پوهاوي او علاقې وړهم وګرځوله.

(فروید او د هغو پلویانو هڅه وکړه، چې د انسان وده او رشد د هغه پېښو پر اساس تحلیل کړي، چې د ماشومتوب پرمهال ورته پېښې شوې دي. په دغه مکتب کې انسان په تصادفي ډول عمل نه کوي، بلکې د باطني او دروني انګېزو، ځېل شویو هیلو، یا د لاشعور او ځان ناخبره ذهن پراساس عمل کوي. په دې توګه هر عمل او چلند چې انسان یې له ځانه ښیي جبري بڼه لري. فروید د انسان ځان ناخبره ذهن یا تحت الشعور ته د لاس رسي په موخه په لومړي سر کې د هیپوتېزم یا مصنوعي خوب له طریقې څخه کار اخیست، وروسته یې له آزادې تداعۍ او د خوبونو له تعبیر څخه استفاده کوله. دغې طریقې له ناروغ سره مرسته کوه، چې د خپل ذهن ژورو برخو ته لاس رسی پیدا کړي او د خپلو چلندونو په علت پوه شي.) روانشناسي عمومي، حمزه گنجی، ۱۹مخ

د ارواشننې د پلویانو په اند: ښایي زیات شیان او حوادث د شخص «وړوکي یا غټ» په ذهن کې په آګاه یا ځان خبره ډول ځای ونیسي، مثلاً یو شخص پر آس یا موټر کې له یوې اوږدې لارې څخه تېرېږي، په خپل مسیر کې یې ذهن د شاوخوا منظرې او پېښې ضبطوي. مګر ښایي په دغه اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library




مسیر کې یې ډېرې داسې منظرې او پېښې هم په ذهن کې قید شي، چې په ځان خبره «آګاهانه» ډول شخص وربانديې خبر نه وي.

د فروید نظر دا دی، چې همدغه لاشعوري او ځان خبره ذهني پدیدې د شخص د رواني عملونو او عکس العملونو «چې خوب لیدنې هم پکې شاملې دي» باعث ګرځي او زیاتره عصبي او رواني ناروغۍ هم له همدغو ځان خبرو او ځان ناخبرو عملونو او عکس العملونو څخه راپیدا کېږي.

د ارواشننې په مکتب کې د لاشعور یا تحت الشعور رول ته ډېر ارزښت ورکول کېږي، د دوی په باور تحت الشعور یا لاشعور د ذهن هغه برخه ده، چې د انسان له کنټروله وتلې ده او په هغو کې د انسان هېرې شوې خاطرې، نه ترسره شوې هیلې، په ځان کې په زور پټې شوي عادتونه، عقدې، غوښتنې او په ځان ناخبره ډول راخپل شوي باورونه او برداشتونه پکې ځای پرځای شوي دي، چې پر دغو ټولو باندې عملاً کنټرول نه لري، خو وخت ناوخت د هغوی تاثیرات د انسان پرځان خبره ذهن یا شعور باندې راپرېوځي او انسان له بېلابېلو نااټکل شویو رواني غبرګونونو سره مخامخ کوي.

فروید ویلي:(د انسان ذهن د یخ یوې داسې ټوټې ته ورته دی، چې نهه



برخې یې تر اوبو لاندې او یوازې یوه برخه یې راوتلې وي. معنا دا چې د ذهن صرف ډېره وړه برخه بیداره او هوښیاره ده. دغې ارواپوهنې«ارواشننې» ثابته کړې ده، چې زموږ خوی او شخصیت د ناهوښیارذهن او ضمیر یعنې لاشعور تراغېز لاندې دی. زموږ اصلي ځېره تر ډېره حده په لاشعور کې پټه ده، هغه ځېره چې زموږ نه خوښېږي او هېره کړې مو **ده.)** ځولی مجله، د استادغضنفرمقاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د «فرويد» په نزد د انساني ذهن د شعوري او لاشعوري برخو مثال د هغو دوو کورنيو دی، چې د يوه کور په دوو منزلونو کې استوګنه کوي، د لومړي منزل اوسېدونکي زموږ د ذهن شعوري برخه ده او دا خلک شريف او آيين خوښونکي دي. د لاندې منزل اوسېدونکي زموږ د ذهن لاشعوري برخه ده، دغه خلک د شمېر له مخې ډېر زيات او د اخلاقو له مخې وحشيان دي. ددغه منزل ډېر وګړي يو وخت په پورته منزل کې وو، مګر د خپلو ناوړه اخلاقو له امله له هغو ځايه وشړل شول او اوس په يوه پېچلې بڼه په لاندې پوړ يا لاشعور کې پراته دي. لکه څرنګه چې له ولاړو او بندو اوبو څخه بد او فاسد بوی پورته کېږي، دغه ډول زموږ دباؤ شوي خواهشات هم د ذهني ناروغۍ او فساد سبب ګرځي.) د حميد او شمس الدين پرتليز جاج، ډاکترتابان

څېړونکي د فرويد د لاشعور د موضوع د مطرح کولو په باب وايي:

(د بشر په تاريخ کې دريو لويو سپکاويو ځان راښولی دی. لومړی د ګاليله هغه کشف چې ويل به يې ځمکه د لمريز نظام مرکز نه ده يا ځمکه د کائناتو او جهان مرکز نه ده. دوهم د ډاروين هغه څرګندونه، چې ويلې يې ده، انسان د خلقت مرکز نه دی او دريم د فرويد هغه برسېرونه، چې وايي، موږ لکه څنګه چې فکر کوو، هغومره د خپل ذهن کنټرول په خپل لاس کې نه لرو.)
روانشناسي، تامر باتلربودن

د فرويد او د هغو د پلويانو د ليکنو شهرت له ۱۹۰۰م کال څخه راپه دې له اروپا واوښت او تر امريکا پورې ورسېد. تر ۱۹۲۰م کال پورې پر فرويد او د هغو په اړواشننه باندې په امريکا کې تر ۲۰۰ زيات کتابونه وليکل شول. د فرويد ترڅنګ چې د اړواشننې د مکتب کومو نورو اروايوهانو کار کړی، هغه پر خپل وار دغې نوې برسېرونې «تحت الشعور» ته رنګ او شرنګ ورکړی دی، خو د فرويد هلې ځلې ترټولو لومړی ستايل شوې دي. افغان ليکوال «پوهاندبهاوالدين مجروح» په دې اړه ليکلي دي: (د تحت الشعور کشف د اهميت له مخې د کريستوف کولمب د کشف په څېر ؤ. نوموړی چې امريکا

(c) ketabton.com: The Digital Library




ته ورسېد، فکر یې وکړ، هندوستان ته رسېدلی دی او په دې پوه نه شو، چې یوه نوې لویه وچه یې موندلې ده. په همدې توګه فروید د ناخوآګاه شعور قلمرو وموند، خو هومره چې نن ددې امر «تحت الشعور» په اهمیت خبرې کېږي، فروید په خپل وخت کې نه ؤ ورته متوجه شوی. وروسته بیا دده د لارې نامتو لاروي «کارل یونګ» د تحت الشعور په اړه خلک وپوهول)

په ځانځانې شامارکې شعور او تحت الشعور، عبدالغفورلېوال، الفت مجله، ۵٦مخ

د فروید او نورو ارواشننونکو په څرګندونو کې انساني شعور په درېو برخو وېشل شوی دی. (**ناخبره شعور**)، (**نیم خبره شعور**) او (**باخبره شعور**). د دوی په اند: ناخبره شعور د انسان د اعمالو لومړنی محرک دی، په ناخبره شعور کې چې د انساني شعور زیاته برخه تشکیلوي دایمي او نه بدلېدونکې غوښتنې، آرزوګانې او انګېزې متمرکزې شوې دي، چې د هغو منشا هم غریزې او نه پېژندل کېدونکي روحي عوامل دي. کله چې له ناخبره شعور څخه یوه غوښتنه او آرزو راولاړه شي، نیم خبره شعور ته ځان رسوي. نیم خبره شعور سرحدي کرښه ده. باخبره شعور هڅه کوي، چې نوموړې غوښتنه یا آرزو کنټرول او سانسور کړي؛ خو په اکثرو مواردو کې غوښتنې او آرزوګانې بې پاسپورټه د عمل میدان ته ورتېرېږي.

«**کارل ګوستاو یونګ**» خپل یو لیدلی خوب هم د شعور په دغو درېو برخو تعبیروي. یونګ لیکلي:


کارل یونګ

(زه به ډېری وخت په ځُرت کې ډوب وم، خو پوهېدم نه، چې څه مې په فکر کې راګرځي. یوه ورځ په ۱۹۵۹م کال ما خوب ولید، چې په یوه ښکلي نااشنا کور کې چې دوه منزله دی ناست یم، په کوټه کې ښایسته رڼا وه، د باندې خوا ته ښایسته منظرې او باغونه په نظر راتلل، د خپلو کتابونو په مطالعه بوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم. په دې وخت کې مې د کوټې په غولي یا تل کې یوه دروازه ولیده، چې نیمکښه خلاصه وه، دروازه مې راښېرته کړه، لاندې مې یوه زېرخانه په نظر شوه. د کوټې زېرخانې ته ښکته شوم، دا ډېره رڼا وه او کله چې د زېرخانې غولي ته متوجه شوم، یوه بله کړکۍ غونډې دروازه مې په نظر راغله او کله مې چې دا کړکۍ غونډې دروازه خلاصه کړه، یوه اوږده زینه مې ولیده، چې ښکته تللې وه او زه یې په پوړو کې ورښکته شوم. د تورې شپې غونډې تیاره، لویه، ژوره کوټه وه. زه پکې هرې خوا ته ګرځېدم، هرڅه ډېر تت ښکارېدل، هرې خواته په تیاره کې ګورم، ناڅاپه مې سترګې په څه شي ولګېدې. کله چې ښه ځیر شوم، هډوکي دي! د انسان د ککرۍ او اسکلیټ هډوکي مې پیدا کړل، بیا نو خپله څېړنه مې پرې پیل کړه او دا نتیجه مې له خوب څخه را وایستله: ***لومړی:*** ښکلې لویه او رڼا کوټه، چې د باندې ښایسته منظره او باغ ترې ښکارېده، د انسان باخبره شعوري برخه... ***دوهم:*** لاندې دوهمه د زېرخانې کوټه، چې په منځنۍ توګه لویه وه او رڼایې لږ څه کمه وه، د تحت الشعور یا نیم خبره شعور برخه وه. دریم: هغه د زېرخانې نه لاندې دریمه ژوره او ډېره لویه تیاره کوټه، چې زینه ورښکته شوې وه او د انسان هډوکي او ککرۍ پکې پرته وه، دا د انسان غیرشعوري یا بې خبره شعوري برخه ده...) د رنګونو نړۍ، ۲٦۱مخ

د اروا شننې د مکتب د پلویانو په ځانګړي ډول د زیګموندفروید او کارل یونګ نظریات نه یوازې د اروا پوهنې په لمن کې پاتې شول، بلکې نړیوالو ادبیاتو ته یې هم مخه وکړه. د ادبیاتو په برخه کې سوریالستان یا د سوریالېزم د ادبي مکتب غړي هغه څوک وو، چې په خپلو اثارو کې یې د فروید او د اروا شننې او نورو پلویانو افکار منعکس کړل. سوریالستان هغه لیکوال دي، (چې له کپیټالیستې ټولنې څخه د راپیداشویو توهماتو او کمزوریو په نتیجه کې له واقعي ژوند څخه خپلې ذهني نړۍ ته پناه وړي او خپل ځانونه په خوبونو، خیالونو او پتالوژیکي حالاتو مشغولوي...


(c) ketabton.com: The Digital Library



**سوریالستان د فروید لمنې ته لاس اچوي او ګومان کوي، چې د انسان د هلوځلو لمسوونکی د شعور نه لاندې ذهني جهان دی.)** ادبي څېړنې، ۳۰۴ او ۳۰۵مخونه

❖ ❖ ❖

**د ارواشننې د مکتب په غړو کې نه یوازې نارینه پوهانو ونډه درلوده، بلکې ځینې داسې ښځینه ارواپوهانې هم وې، چې اوسمهال د ارواپوهنې د تاریخ لویې څېرې بلل کېږي. په دغو ښځینه ارواپوهانو کې لومړۍ ارواپوهانده کارن هورنای «۱۸۸۵م-۱۹۵۲م» ده. مېرمن کارن هورنای د المان په هامبورګ کې زیږېدلې وه، هغه مهال چې «فروید» خپل کتاب «د خوبونو تعبیر» خپور کړ، هورنای په ښوونځي کې وه، وروسته یې د برلین له پوهنتون څخه د طب په څانګه کې دوکتورا واخیسته، خو دې ان د ښوونځي له دورې څخه د ارواشننې له مفکورو سره اشنایي درلوده او د لوړو زده کړو پرمهال یې هم د فروید د ارواشننې په ټولو غونډو کې ګډون وکړ.**




**هورنای غوښتل د ارواشننې د نارینه ؤ سنګر، ښځینه کړي، له همدې امله شهرت ته هم ورسېده. ددې د مشهورو کتابونه نومونه دا دي:**

**«د ارواشننې نوې لارې»، «زموږ رواني تضادونه»، «ځان شننه یا ځان تحلیلونه»، «زموږ د زمانې عصبي شخصیت» او «د ښځو ارواپوهنه». هورنای ۱۸کاله په المان کې د برلین په انستېټیوت کې په تدریس او شخصي طبابت کې تېرکړل، وروسته په ۱۹۳۲م کال د امریکا متحده ایالاتو ته ولاړه او هلته له څه وخت تېرېدو وروسته یې د امریکا د ارواشننې ټولنه تاسیس کړه او د عمر ترپایه پورې یې رئیسه پاتې شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارن هورناى د فرويد له هغې مفکورې سره موافقه وه، چې ويل به يې، شخصيت د ماشومتوب په دوران کې بڼه مومي. دې زياته کړه، په وګړو کې روان رنځوري، د هغوى د ماشومتوب له نامطلوبو حالاتو څخه سرچينه اخلي او که چېرې د ماشوم په کورنۍ کې تفاهم، صميميت، محبت، احساس او درنښت وي، نو وروسته يې په روان رنځورۍ باندې له اخته کېدو څخه مخنيوى کېږي.

هورناى له فرويد سره په دغه ټکي کې چې انسانان تل د تحت الشعور اسيران دي، مخالفت وښود. دې د ارماني ځان ګڼلو يا ځان تصور کولو Idealized self image نظريه هم رد کړه او ويې ويل، چې ارماني ځان خيالي ديوه فرد د شخصيت غلط تصور وړاندې کوي. دغه ډول ځان ګوماني هغه نيمګړى او تېرايستونکى نقاب دى، چې دد دې مخه نيسي، چې يو ناروغ خپله اصلي څېره وپېژني او هغه بيا ومني. رواني ناروغان پر خپله څېره باندې ددغه نقاب په غوړولو سره له خپلو باطني شخړو او تعارضاتو څخه انکار کوي او هغوى ته په دروغجن ډول دا ورښيي، چې ځان يې لکه څنګه چې دى، يا لکه څنګه چې واقعيت لري، داسې ونه ويني او په ناسمه بڼه يې وانګېري، چې دا د موضوع حل نه شي کېدلى.

❖ ❖ ❖

د اروا شنني د مکتب دوهمه ښځينه غړې چې د اروا پوهنې په تاريخ کې يې نوم اخيستل کېږي، د فرويد لور ***انافرويد*** «۱۸۹۵م-۱۹۸۲م» ده.



انا فرويد

انافرويد د خپل نامتو پلار «زيګموند فرويد» په شپږو اولادونو کې ترټولو کشره لور وه. دا د ښوونځي له وخته يوه فعاله او کتاب دوسته نجلۍ وه او له هغو مېلمنو څخه يې چې د دوى کره به راتلل، ګڼې ژبې زده کړې وې. دې تر ۱۴ کلنۍ پورې د خپل پلار ټول کتابونه ولوستل او هوډ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، چې د خپل پلار په لاره ولاړه شي. په دې اساس دې خپلې اساسي زده کړې له خپل پلار او نورو پوهانو څخه ترلاسه کړې وې او له ۱۹۲۷م کال څخه تر ۱۹۳۴م کال پورې د ارواشننې د نړیوالې ټولنې رئیسه وه.

انا هېڅکله واده ونه کړ او د امریکا له بېلابېلو پوهنتونونو څخه «چې دې پکې ویناوې او سمینارونه وړاندې کړل» څو افتخاري دوکتوراوې او میډالونه ترلاسه کړل. دا په المان کې د نازیانو د واکمنۍ د پیل پرمهال له خپل پلار سره لندن ته لاړه او د هغو کور ترڅنګ یې چې پلار یې پکې مړ شو، یو لوی روغتون جوړ کړ او هلته به یې د رواني ناروغانو درملنه پکې کوله. د انافروید ترټولو مهم کتاب «ایګو او دفاعي میکانېزمونه» نومېږي.


فروید او لورېې انافروید

دغه کتاب انا په ۱۹۳۶م کال کې بشپړ کړ، چې موضوع یې تر زیاتې اندازې د خپل پلار د «ایګو»، «ایډ» او «سوپرایګو» د نظریاتو په ښې توضح او زیاتې تشریح باندې راڅرخي. د انا په نظر د «دفاع» کلمه د نارامونکو او نازغمونکو فکرونو او انګېرنو څخه د ځان ژغورنې د هڅو په معنا ده. کله چې «ایګو» یا «زه» له ناسمو باورنو او رواني کړکېچونو څخه ځان خلاصوي، نو له یو ډول هیجان او احساساتي والي سره مخ وي. دا په دې معنا، کله چې یوڅوک د اندېښنو، غمجنوفکرونو او تخریبوونکو انګېرنو پر وړاندې د فاعي حالت غوره کوي، نو «ایګو» یې پر «ایډ» او «سوپرایګو» باندې غلبه کوي. خوکله چې یوشخص له خپلو باطني او تحت الشعوري غریزو او اجتماعي اجبارونو سره په جګړه کې ماتې خوري، دا په حقیقت کې د شخص «ایګو» وي، چې ماتې خوري. «ایګو»

(c) ketabton.com: The Digital Library




**تل د شخص د ځان، تحت الشعور او بهرنۍ نړۍ ترمنځ د تعادل د راوستلو لپاره هڅه کوي، خو کله داسې هم کېږي، چې د شخص ایګو بریالی شي او په خپله شخص ماتې وخوري. کله چې په انسان کې یوه طبیعي غریزه سر راپورته کوي، ایګو غواړي دغه غریزه راضي کړي، خو سوپرایګو دا اجازه ورته نه ورکوي. په دې ډول ایګو، سوپرایګو ته تسلیمېږي او ستونزه هماغسې پاتې کېږي. په دې سره د غرایزو، نه ارضا کېدل یو کړکېچ منځته راوړي. د شخص له خوا ددغو کړکېچونو ځپل او شاته وهل، ترټولو ناسم دفاعي میکانېزم دی، چې شخص تل په خپل ځان او روان کې ناآرامه ساتي.**

(د ایګو، ایډ او سوپرایګو د پېژندنې لپاره د فروید ژوندلیک ته ورشئ.)

❖ ❖ ❖

**په اروا‌شننه کې د «انافروید» ویناو، کتابونو او هلوځلو یوشمېر نور اروا‌پوهان تر اغېز لاندې راوستل. په دغو اروا‌پوهانو کې المانی اروا‌پوه *اریک اریکسون* «۱۹۰۲م-۱۹۹۴م» لوی نوم پیدا کړ. نوموړی په اروا‌شننه کې «د هویت د بحران» د موضوع په مطرح کولو سره زیات شهرت ته ورسېد.**

**اریکسون په ۱۹۲۷م کال د وین د اروا‌شننې په مؤسسه کې زده کړې پیل کړې او د «انافروید» او نورو اروا‌شنونکو له ښوونو څخه برخمن شو. دی په ۱۹۳۳م کال امریکا ته ولاړ، د هغه ځای تابعیت یې ومانه او د هاروارد په پوهنتون کې ورته د استادۍ دنده ورکړل شوه. وروسته په بوستون کې د ماشومانو د اروایي چاروشنونکی شو. په همدې ډول ده په امریکا کې داسې نورې دندې هم ترسره کړې، خو ترټولو مهم څه دده هغه لیکنې او څېړنې دي، چې د خپل ژوند په اوږدو کې**


اریکسون

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې اروا پوهنې ته ورښنلې دي. دده د مهمو کتابونو نومونه دا دي:
«ټولنه او ماشومتوب»، «هويت، ځواني او بحران»، «دګاندي حقيقت»، «د ژوند د څرخې بشپړېدل» او «ځوان لوتر»
د څېړونکو په نظر، د ارواشننې د مکتب په پلويانو کې اريکسون په دې هم شهرت لري، چې ده ديوه نوي ژانر يا فورم ايجاد يې وکړ او هغه د «اروا پوهنيزو ژوندليکونو» ليکل وو. ده له رواني تحليل څخه په ګټه اخيستنې د ګاندي او لوترکينګ «چې د نړۍ مشهور کسان وو» ژوندليکونه تحليل کړل او په هغو کې يې د هويت د بحران غوره نمونې وښودلې. د اريکسون په اند: «د شخصيت په وده کې اصلي موضوع، د خپل هويت لپاره هڅه او پلټنه ده.»
اريکسون د هويت بحران له «دوهم ځل زيږېدنې» سره تشبه کوي. ده دغه فکر له «ويليام جيمز» څخه اخيستی. جيمز ويلي: «انسان چې کله د لومړي ځل لپاره نړۍ ته راځي، د ژوند په اوږدو کې په اسانۍ سره خپل ځان له هغو نويو باورونو او کلتوري نورمونو سره همغږی کوي، چې ورپکې ژوند کوي. يا په اسانۍ سره د نورو په واسطه له دغو باورونو او اجتماعي معيارونو سره همغږی کېږي.» اريکسون وويل: «هغه انسانان چې دوهم ځل زيږېدنه يا د هويت بحران تجربه کوي، تر ډېره بريده ځورېدلي او رنځېدلي موجودات دي، چې غواړي د خپلو باورونو او انګېرنو د بدلون او د نوي مسير د پيدا کولو له لارې رنځونه او کړاوونه له منځه يوسي او تسکين او آرامي ترلاسه کړي.»
د اريکسون په نظر، هغه کسان چې د قوي هويت احساس کوي، د ژوند له لويو مسايلو سره د مخامخ کېدنې لپاره چمتو کېږي او هغه کسان چې نه شي کولی، خپل هويت ومومي، د هويت له بحران سره مخ کېږي او کېدی شي د ژوند له سم مسير څخه «لکه د زده کړې، دندې، مسئوليت منلو، واده کولو...» څخه لرې پاتې شي او ښايي په جرايمو لاس پورې کړي، په مخدره

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکو یا نورو ناسمو تړولنیزو چلندونو پیل وکړي او په لنډه توګه منفي هویت راخپل کړي.

اریکسون د «زیګموند فروید» له هغه نظر سره مخالفت څرګند کړ، چې وایي: «موږ د خپل ماشومتوب د تجربو محصول یو او نه شو کولی خپل شخصیت ته د ژوند په نورو راتلونکو دورو کې بدلون ورکړو.»، اریکسون زیاته کړه: «د انسان د ماشومتوب د دورې تاثیرات مهم دي او ښایي ځینې وخت زیانونه هم ولري، خو د ژوند د نورو مرحلو پېښې او د هغو تاثیرات کولی شي، د ماشومتوب د دورې منفي پېښې او د هغو تاثیرات خنثی' کړي یا پر هغو باندې غالب شي او زموږ د وروستي هدف لپاره خدمت وکړي.»

❖ ❖ ❖

په دې ډول د فروید د ارواشننې مکتب د وخت په تېرېدو سره انکشاف وکړ او زیات پلویان یې پیدا شول، خو ددغو پلویانو په کارونو کې هم یو ډول رنګارنګي راپیدا شوه، چې په ځینو ځایونو کې یې ددغه مکتب د بنسټګر «فروید» له نظریاتو سره غوڅ توپیر درلود او حتی' د فروید په ژوند دده ځینې پلویان لکه، کارل یونګ، الفرډآدلر او نور دداسې نظري توپیرونو له امله ترې جلا شول. خو په بنیادي ډول پر دغو ټولو باندې د فروید اغېز شته ؤ. که څه هم یو لړ تېروتنې دوی ور اصلاح کړې او د ارواشننې مفکوره یې د نویو تجربو په کولو سره غني کړه.

ډېری څېړونکي د ارواشننې د مکتب په حلقه کې تر ټولو لومړی د فروید په نظریاتو باندې نیوکې کوي، دوی وایي، سره له دې چې د فروید نظریات د اروا پوهنې یو جالب او مشغولوونکی بحث دی، خو د هغو د علمي ارزښت تله سپکه ده، د دوی په باور: (ترښایسته زیاتې مودې پورې فروید پزم ته د یوې علمي نظریې په سترګه کتل کېدل او فکر کېده، چې د فروید اروایي تحلیل (Psycho-analysis) کولی شي، د شعور په باره کې ټولې ستونزې او لانجې حل کړي. په دې کې شک نشته، چې فروید د پتالوژیکي ذهني جریانونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنې په ترڅ کې هغه مبتذل مادي نظرونه رد کړل، چې په ذهني جریانونو کې تغیرونه او بدلونونه یې د فیزیولوژیکي علتونو زېږنده بلل؛ خو په همدې وخت کې یې د ذهني فعالیت د څېړنو عیني میتودونه-(Objective Methods) هم له نظره وغورځول او د خپلې خوښې نظریه یې وړاندې کړه. فروید ذهني فعالیت له مادي شرایطو او علتونو څخه جلا کوي. دده په نظر ذهني فعالیت یو خپلواک فعالیت دی، چې له مادي پروسو سره څنګ په څنګ اوسېږي او د مخصوصو، نه پېژندل کېدونکو، ابدي روحي قواؤ په ذریعه اداره کېږي.) ادبي څېړنې، ۴۱۴مخ

په ټولیز ډول د فروید معاصران له ده څخه په دریو ټکیو کې ناخوښه وو. **لومړی** دا چې فروید ویلي: د افرادو چال چلند د هغوی د ناهوښیاره ذهن یا تحت الشعور د هغو عواملو تر واکمنۍ لاندې دی، چې دوی وربانديې کنټرول او خبر نه لري او له دې امله اشخاص د خپل ذهن په زیاته یا تقریباً ټوله فضا کنټرول نه لري. **دوهم** دا چې فروید زیاته کړې: زموږ شخصیت د ماشومتوب د تجربو پر اساس ټاکل کېږي او افراد نشي کولی، پر خپل شخصیت او برخلیک باندې واکمن ووسي. او **دریم**: د فروید له خوا د انسان په رواني حالت کې د جنسي تمایلاتو پر اهمیت باندې زیات ټینګار او د جنسي مسایلو افراطي توضیح او تشریح، له ده څخه د معاصرینو د ناخوښۍ لاملونه وو.

په هرحال له دې او دې ته ورته نیوکو سره سره، فروید یولوی استعداد ؤ او ګڼ شمېر نورې داسې ارزښتمنې څېړنې او برسېرونې یې هم کړې دي، چې په اروا پوهنه کې د یوه ستر تحول سبب شوي دي.

(نور معلومات د فروید په ځانګړي ژوند لیک کې ولولئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلوک پالنه

## د اروا پوهنې په تاریخ یو بل ګام

سلوک پالنې Behaviorism ته په پارسي کې رفتارګرایي ویل شوي او ځینې نور نومونه لکه «عیني اروا پوهنه» او «انساني سلوک پوهنه» هم ورکړل شوي دي. د اروا پوهنې محققان وایي:«د شلمې میلادي پېړۍ په پیل کې عینیت پالنې او مادي پالنې ځانګړې وده کړې وه او تردې بریده یې دوام وموند، چې بالاخره د اروا پوهنې په یوې نوې بڼه بدل شول. د اروا پوهنې دغې نوې بڼې د ذهن او شعور د موضوع څېړل او سپړل شا ته واچول او په هغو شیانو متمرکزه شوه، چې د لیدلو، لمس کولو، اورېدلو... وړ وو.»

په دې اساس سلوک پالنه د اروا پوهنې له نورو مکتبونو سره په بنسټیزو نظریاتو کې غوڅ توپیر لري. د افرادو د سلوک، چلند او کړووړو څېړل، د دوی د کار بنسټ دی. د سلوکیانو په اند، افراد د خپل ماحول پر وړاندې غبرګون او عکس العمل ښیي، خو داسې غبرګون نه، لکه د اروا شننې په مکتب کې چې وایي، افراد د خپلو ناځرګندو تمایلاتو له مخې چې زیاتره په لاشعور کې دي هڅول کېږي. د دوی په باور، انسانان د خپل اختیار او ارادې پر اساس عمل کوي او همدغه عمل د یوه انسان شخصیت او ماهیت ټاکي. د سلوک د مکتب پلویان هڅه کوي، چې پر ذهن باندې له زیات تمرکز څخه ډډه وکړي او پر ځای یې د محیط د تغیراتو پر وړاندې د ژوندیو موجوداتو ځوابي غبرګونونه په نظر کې ونیسي.

دوی زیاتوي: (سلوک یا رفتار د محیطي پېښو یا «محرک» او «محرکي موقعیتونو» په مقابل کې د یوه ژوندي موجود «ځوابونو»، «غبرګونونو» او «جوړجاړیو» ته ویل کېږي. په دې ترتیب اروا پوهنه باید د یوه سلوکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رفتاري علم په توګه، يوازې له هغو کارونو سره سروکار ولري، چې په عيني ډول د «محرک او غبرګون»، «د عادتونو د رامنځته کېدو او جوړېدو» او «ددغو عادتونو د يوځای کېدو» له مخې تشريح کېږي. يا په بل ډول، سلوکي ارواپوهنه له محيط سره په تړاو کې ديوه ژوندي موجود له ټولنيز چال چلند څخه بحث کوي.)

ددغه مکتب «سلوک پالنې» بنسټ ايښودونکی، د امريکا وتلی ارواپوه ***جان واټسن*** «۱۸۷۸م–۱۹۵۸م» دی، «چې تاسې يې بشپړ ژوندليک په همدغه کتاب کې ترڅانګړي سرليک لاندې لوستلی شئ.»


واټسن

واټسن په ۱۹۱۳م کال کې چې ۳۵ کلن ؤ، ددغه مکتب بنسټ کېښود. واټسن په دې باور ؤ، چې ارواپوهنه بايد د شعور او ذهن مسئله کاملاً څنډې ته کړي او يوازې په سلوک، چال چلند، کړووړو او رفتار باندې بحث وکړي. نوموړي ليکلي:(ارواپوهنه لکه څنګه چې يې سلوک پلويان ګڼي؛ په بشپړه توګه د طبيعي علومو يوه عيني او ازمويښتي څانګه ده. ارواپوهنه بايد په خپل وار سره د سلوک او چال چلند پر مطالعه باندې راوڅرخي. د ارواپوهنې طريقه او روش بشپړ عيني او د ليدلو وړ دی او د هغو اصلي مسئله د رفتار او چال چلند وړاندوينه، کنټرول او مهار دی... د شعور او ځانخبرۍ حالات د «روح» د مسئلې غوندې د عينيت او ليدلو وړ نه دي. په همدې ډول هېڅکله نه شو کولی هغه په علمي توګه وڅېړو... سلوک پالنه د ذهني فعاليتونو هېڅ ډول عملي سند او مدرک چاته نه شي ورکولی... شعور د تعريف وړ شی نه دی او نه کومه د کارېدلو وړ جنبه لري، بلکې ها د پخوانيو زمانو د «روح» د نه اثبات شوې موضوع غوندې يوه موضوع ده... زما له نظره د ارواپوهنې لپاره چې کومه طرحه او نقشه غوره او دقيقه ده، د شعور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان خبرې له نظره غورځول دي؛ چې ما تقریباً ورڅخه انکار کړی دی او دا هم ددې لپاره چې د ازمویښتي تحقیق درشل ته لاره پرانیستل شي. شعور هېڅکله لیدل شوی نه دی، لمس شوی نه دی، بوی شوی نه دی... بس یوه ساده فرضي مسئله ده... او دا چې په نورو ټولو علوموکې واقعیتونه د عیني مشاهدې او اثبات وړ دي او د هرڅېړونکي او مشاهده کوونکي له خوا تحلیل کېدلی او څېړل کېدلی شي. خو که چېرې اروا پوهنه د شعور علم وبلل شي، نو بیا له نورو علومو سره کومه ګډه پوله نه شي درلودلی.)

مکتبهای روانشناسی ونقدآن، ښلاښل مخونه

(دا چې ولې واټسن په اروا پوهنه کې په دغه اساسي بدلون باندې باور درلود، سبب یې دا دی، چې ده به ویل، د علمي طریقې او روش ځواک د اثبات منلو پر مفهوم ولاړ دی او په اصل کې ټولې علمي ادعاوې تل کولی شو، ثابتې یا رد کړو. خو دغه ځواک په داسې شیانو پورې اړه ترلی دی، چې کولی شو، هغه په عیني ډول مشاهده کړو. د واټسن په نظر ذهني مسئلې د علمي مطالعې لپاره مناسب موضوعات نه دي. ځکه چې دغه ډول مسئلې تر زیاته بریده شخصي پېښې دي. هېڅوک نه شي کولی، د کوم بل چا فکرونه ووینې او یا هغه لمس کړي... د سلوک مکتب د ارګانېزم یا ژوندي موجود هرهغه فعالیت ته اشاره کوي، چې څرګند او د مشاهدې وړ وي. د واټسن په باور اروا پوهنه کولی شي، هرهغه څه چې افراد یې ترسره کوي یا یې وایي، مطالعه کړي، مګر دا نه شي کولی، چې هغه افکار، تمایلات او احساسات چې له دغو چلندونو او رفتارونو سره ملګري دي په عملي توګه وڅېړي.)

روانشناسي عمومي، وین ویتن، ۸مخ

د واټسن د سلوک پالنې اساسي اصول ساده، پرېکنده او جدي دي، چې یوازې عیني او د لیدلواو مشاهده کولو وړ مسایل د اروا پوهنې اصلي موضوعات ګڼي او د ذهن پلوه پرټولو اصطلاحاتو او مفاهیمو په خپل مکتب کې د بې معناتوب ټاپه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټسن د خپل مکتب ارزښت ته په اشارې سره لیکي: (زه فکر کوم، سلوک پالنه د عاقلانه ژوندانه په بنسټ جوړونه کې مرسته کوي. د سلوک پالنې څرګندونې باید پر داسې علمي ټکو ولاړې وي، چې انسانان د هغو په مرسته، د خپل سلوک او رفتار لومړني اصول چمتو کړي او نارینه او ښځینه افراد علاقه من کړي، چې خپل ژوند ته نوی ترتیب ورکړي.)

مکتبهای روانشناسی ونقدان

کله چې واټسن په رسمي توګه سلوک پالنه راپیل کړه، هغه مهال د عینیت پالنې، ماشین پالنې او مادیت پالنې نفوذ زیات ؤ. واټسن ته د هغو فیلسوفانو نظریات چې د عینیت او مادیت خواته یې زیات تمایل درلود، د الهام سرچینې وې. په دغو فیلسوفانو کې یو هم فرانسوی فیلسوف ***اګوسټ کنټ*** «۱۷۹۸م-۱۸۵۷م» ؤ، چې نظریاتو یې د واټسن او نورو سلوک پلویانو په کارونو سیوری غوړولی دی.




کنټ د فزیکي حقایقو او بشري حس په نظریه کې وایي: «له فزیکي حقایقو بهر او هغه شی چې نه حسیږي، هیڅ شی د کشف او پیژندنې وړ نه دي او انسان له اثارو د لیدلو او حس کولو پرته د هیڅ شي په باره کې پوهه حاصلولی نه شي.»


د سلوک پالنې پلویان د حیواني ارواپوهنې او انساني ارواپوهنې ترمنځ د اړیکو په موجودیت ټینګار کوي. پخپله واټسن د خپل مکتب په اړه وایي: (سلوک پالنه د شلمې میلادي پیړۍ په لومړۍ لسیزه کې د حیواني ارواپوهنې د مطالعې مستقیمه پایله ده.)

تاریخ روانشناسي نوین، ۲۸۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلوکیانو په څرکندونو باندې د روسي بیولوژیست **ایوان پاولوف** «۱۸۴۹م-۱۹۳۶م» او د تکامل د نظریې د بنسټګر **چارلز ډاروین** «۱۸۰۲م-۱۸۸۲م» نظریات ځانګړی اغېز


پاولوف

لري، خوځومره افراط چې د ډاروین په نظریاتو کې لیدل کېږي، د سلوک د پلویانو په نظریاتو کې نه لیدل کېږي. دغه اروا پوهان د انسان شخصیت تر زیاته بریده د خپل ماحول محصول بولي. خو د پاولوف له نویو تجربو سره بیا ښه اړخ لګوي، له همدې امله **واټسن** په ۱۹۱۵م کال په خپله وینا کې چې د امریکا د اروا پوهنې ټولنې ته یې اوروله، وړاندیز وکړ، چې نور دې د «باطن څېړلو» پرځان «شرطي غبرګونونه» چې د پاولوف نوې څېړنه وه، د اروا پوهانو د کار اصلي طریقه وټاکل شي.

واټسن په دې باور ؤ، چې «د افرادو په رفتار او سلوک ټاکنه کې تر ټولو مهم او د پام وړ شی چاپېریال دی، ده به ویل، د ځانګړو محیطي شرایطو په جوړېدو سره چاپېریال کولی شي، په افرادو کې د ټاکلي رفتار وړاندوینه وکړي.» د عمومي اروا‌پوهنې آرونه، ۱۳مخ

د واټسن په پورته نظریاتو کې مورډ د «اګوسټ کنټ» د هغې نظریې څرک لیدلی شو، چې وایي: «بشر په اصل کې ټولنیز مخلوق دی، انسان دا ټولنیزه غریزه له ټیټو حیواناتو څخه په میراث وړې ده او وروسته یې په هغه بشپړتیایي بهیر کې تهذیب او عقل ته نږدې کړې ده، چې دغې کار پېړۍ پېړۍ وخت غوښتی دی. وروسته عقل ورپورې تړل شوی دی، د ترحم او مهربانۍ، توندو او سرکشو احساساتو مورډ آرام کړي یو او نرمي یې رابښلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او په پای کې به د جګړه ماری غریزه زموږ د عدالت غوښتنې له خوا مغلوبه **شي...»** په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ۲۵٦مخ


ثورندایک

کومو اروا پوهانو چې د حیواني اروا پوهنې لپاره کار کړی، د سلوک پالنې لپاره یې زیات ارزښت درلود. په دغو اروا پوهانو کې له «پاولوف» نه وروسته، امریکایی اروا پوه ***ثورندایک*** «۱۸۷۴م-۱۹۴۹م» ځانګړی نوم لري. ثورندایک هغه مهال له اروا پوهنې سره مینه پیداکړه، چې د «سلیان» په پوهنتون کې یې د «ویلیام جیمز» د اروا پوهنې د اصولو کتاب ولوست. په همدې اساس خپلې نورې زده کړې یې د ویلیام جیمز ترښوونې لاندې د هاروارډ په پوهنتون کې بشپړې کړې. ثورندایک د دوکتورا تر اخیستو وروسته د حیواني اروا پوهنې په هکله څېړنې او مطالعې پیل کړې او د کلمبیا په پوهنتون کې د اروا پوهنې استاد شو.

نوموړي په همدغه ځای کې شهرت ته ورسېد او د کتابونو د تالیف او رواني ازموینو له امله یې زیاتې پیسې لاسته راوړې. ثورندایک وروسته حیواني اروا پوهنه پرېښوده او د انساني زده کړو او تربیتي اروا پوهنې پر خوا یې مخ راواړاوه. ده زده کړه د عمل او عکس العمل په پایله کې د عصبي روابطو د ټینګښت محصول وګڼه. د ساري په ډول دی وایي:«ژوندی موجود، د محرک په مقابل کې مختلف عکس العملونه ښیي، ددغو عکس العملونو تکرار په حقیقت کې د عصبي رابطو د استحکام سبب ګرځي، چې په پایله کې زده کړه رامنځته کېږي... د عکس العملونو تکرار او اجرا د ازموینښت او خطا د قاعدې تابع دي. یعنې کوم فعالیت چې د یوه ژوندي موجود له خوا د یوې موضوع د زده کړې لپاره ترسره کېږي. په لومړي سر کې له اشتباهاتو سره ملګری وي، خو د زده کړې په جریان کې د موضوع په اړه په تدریجي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه اشتباه ډوله عکس العملونه خپل ځای سمو او صحیحو عکس العملونو ته ورکوي او د وخت په تېرېدو سره خپل اصلي هدف یا د زده کړې موضوع ته رسېږي. په دې اساس زده کړه هغه وخت رامنځته کېږي، چې د ژوندي موجود موفق ډوله عکس العملونه د غلطو او اشتباه وزمه عکس العملونو ځای ونیسي...)

❖ ❖ ❖

څرنګه چې د سلوک پالنې مکتب زیات ټینګار پر عینیت کاوه، له همدې امله ټول اروا پوهان د واټسن له دا شان څرګندونو څخه راضي نه وو. ترټولو لویه نیوکه پر ده باندې دا وه، چې واټسن په خپلو افراطي ډلبندیو کې د اروا پوهنې خورا مهمې برخې نه دي راوړې یا یې ورڅخه انکار کړی دی. دغه نیوکه حتیٰ د هغو کسانو له خوا هم تائید شوه، چې په عمومي ډول یې له عینیت پالنې څخه ملاتړ کاوه.

د واټسن یو ترټولو ځواکمن مخالف، انګلیسی اروا پوهاند ***ویلیام مکدوګال*** «۱۸۷۱م-۱۹۳۹م» ؤ. مکدوګال په ۱۹۲۰م کال کې کله چې امریکا ته ولاړ. لومړی یې له «هاروارد» او بیا یې د «دوک» له پوهنتون سره همکاري پیل کړه. ده د غریزه اي سلوک د نظریې او د اجتماعي اروا پوهنې په باب د لیکنو او څېړنو له امله شهرت درلود. خو جالبه دا وه چې مکدوګال پخپله دومره اجتماعي نه ؤ، لکه نظریاتو چې یې د اجمتاعي اروا پوهنې سره مرسته کړې، ده پخپله لیکلي، چې هېڅکله په ژوند کې له کومې ټولنیزې ډلې ټېلې، ګوند او بل داسې څه سره یو ځای نه شوم!


مکدوګال

مهمه دا ده چې، واټسن په همدغو کلونو کې د مکدوګال د غرایزو نظریه رد کړه. بالاخره دغه موضوع تردې پورې راورسېده، چې په ۱۹۲۴م کال په واشنګټن ډي سي کې ددغو دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا پوهانو «***جان واټسن او مکدوګال***» ترمنځ مناظره جوړه شوه. په دغه مناظره کې ۱۰۰۰ زرو تنو ګډون کړی ؤ. مکدوګال ددې مناظرې په لړ کې وویل: «موږ له ډاکتر واټسن سره په دغه ټکي کې موافق یو، چې سلوکي چارې د اروا پوهنیزو څېړنو لپاره لازمې دي، خو ورسره دا غبرګوو، چې ذهني او شعوري چارې هم په همدغه اندازه اړینې دي... که چېرې اروا پوهان له باطن څېړلو څخه ګټه وانخلي، نو څنګه به له خپلو فکرونو او خیالونو څخه خبرتیا ترلاسه کوو؟...» ده واټسن وننګاوه او له هغو څخه یې وغوښتل، چې څرنګه یو سلوک پلوه د ویولن له یوه کنسرت څخه د خوند اخیستلو څرنګوالی توضیح کوي.

په هرحال د واټسن او مکدوګال ترمنځ په دغه مناظره کې د دواړو ترمنځ ګڼ بحثونه وشول، خو د مناظرې زیاتو ګډونوالو مکدوګال ته د بحث د ګټونکي رایه ورکړه.

❖ ❖ ❖

د سلوک پالنې د تحول او تکامل په بهیر کې، بل وتلی اروا پوه ***بي. اف. سکینر*** «۱۹۰۴م–۱۹۹۰م» دی، چې د واټسن له مرګ «۱۹۵۸م» څخه وروسته د سلوک پالنې د مکتب د رهبر په توګه رامیدان ته شو، ده یوځل بیا سلوک پالنې ته نوې ساه ورکړه او د واټسن په څېر یې د ذهني او باطني مسئلو له شتون څخه انکار وکړ او زیاته یې کړه، چې موږ نه شو کولی، دغه ډول ناڅرګند تمایلات په عیني او عملي ډول وڅېړو، یوازنی شی چې


سکینر

څېړل کېدل یې ممکن دي، هغه د ماحول د پېښو په غبرګون کې زموږ چلندونه، کړه وړه او عکس العملونه دي. ده د پاولوف غونډې لومړی پرحیواناتو باندې تجربې پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي پر کوترو او موږکو باندې د خپلو څېړنو په لړ کې وښوده: «څرنګه چې حیوانات د بهرنیو محرکاتو په مقابل کې ځواب ښیي، نوکولی شو، د هغوی چلند د ځواب ورکولو په بهیر کې کنټرول کړو او حتیٰ ترهغې اندازې کولی شو، چې د حیواناتو چلند په غیرعادي بڼه وروزو. همدا ډول موږ د انسان پېچلي رفتارونه هم کنټرولولی شو، چې همدغه چلند او سلوک څېړل او د هغوی بدلول، د اروا پوهنې ترټولو لویه دنده ده.»

سکینر د واټسن په پیروۍ یوازې د مشاهدې وړ یا مشاهده منونکی سلوک او رفتار مهم وګاڼه. نوموړي د هغو څه په اړه له فکر کولو او نظریې څرګندولو سره علاقه نه درلوده، چې ممکن د یوه ژوندي موجود په باطن کې جریان ولري او نه یې پرهغو باطني فرضیاتو باندې کار درلود، چې ګواکې د ژوندیو موجوداتو پر بیولوژیکي فعالیتونو باندې اغېز لري. د سکینر په سلوک پالنه کې هغه څه چې د محرک او غبرګون ترمنځ واقع دي، عیني چارې نه بلل کېږي، بلکې توصیفي او د خالي ارګانېزم یوځای کېدل بلل کېږي.

سکینر په خپلو ځینو څرګندونو کې ان د افراط لمن نیسي. یو ځای لیکي: «بهرني محرکات د انسان ټول سلوک ترکنټرول لاندې راولي. په دې اساس که چېرې تاسې فکر کوئ، چې زموږ اعمال، زموږ د ذهني او شعوري تصمیمونو حاصل دی، تېروتنه کوئ... موږ ټول د خپل ځان په واسطه نه، بلکې د خپل محیط او محیطي انګېزو په واسطه کنټرولېږو او حتیٰ خپلواکه اراده یو ناسم تصور دی!»

د سلوک پالنې مکتب له ۱۹۱۳م کال څخه د «جان واټسن» په ویناو، لیکنو او هلوځلو باندې پیل وموند او ددغه مکتب د وروستي فعال غړي «سکینر» په مړینه چې په ۱۹۹۰م کال وه، پای ته رسېږي. ددغه مکتب «سلوک پالنې» په پیاوړتیا کې د واټسن او سکینر په شمول ځینې نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا پوهانو لکه «البرټ بندورا»، «جوليان راتر»، «ليونارډهال»، «ادوين ګاتري» او «اډوارډ ټولمن» هڅې هم د ستايلو او يادولو وړ دي.

❖ ❖ ❖

دا چې د سلوک پالنې تقريباً ټولې څرګندونې پر عنيت راڅرخي او له ذهني او باطني مسايلو څخه «چې ملموسې بڼې نه لري» په يو نه يو ډول انکار کېږي، له همدې امله پر دغه مکتب باندې د نيوکو لړۍ هم له همدغه ځايه پيل کېږي. کره کتونکي وايي: «موږ نه شو کولی، چې د روان اصطلاح له روان پوهنې څخه حذف کړو، يا باطن څېړنه له ياده وباسو او تر اندازې زيات په عيني او ليدونکو مسايلو تکيه وکړو. دا ځکه چې د اروا پوهنې اصلي موضوع اروا يا ذهن دی، چې اروا پوهنه د هغو د فعاليتونو، حالاتو او اغېزو څخه خبرې کوي. له دې مخې موږ که چېرې يوازې او يوازې پر بهرني سلوک او رفتار باندې تمرکز وکړو، نو له اروا پوهنې څخه به يو وچ او محدود علم جوړ کړو او د ګڼو رواني اړخونو لکه انګېزو، باورونو، ذهني تمايلاتو، ادراکاتو، هيجاناتو، انګېرنو او نورو... څېړنه او پرهغوی د پوهېدنې ارزښتمنې شېبې به له لاسه ورکړو.»

د سلوک پالنې پرمکتب د يوې انساني پوهنې په توګه زياتې نيوکې شوې، خو له دې څخه هم سترګې نه شو پټولی، چې دغه مکتب د اروا پوهنې په باب ډېرنا ويلي ويل رابرسېره کوي، چې د اروا پوهنې په تاريخي مسير يې مثبت اغېز پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګشتالت پالنه

## د اروپاپوهنې په خدمت کې

لکه څرنګه چې د جوړښت پالنې مکتب د ذهن د تشکیلوونکو عناصرو مطالعه کوله او د عمل پالنې مکتب د ذهني چارو او فعالیتونو مشاهده او اندازه له محیط سره د تړاو په ترڅ کې ترسره کوله، خو د ګشتالت پالنې یا د ګشتالت د مکتب پلویان بیا ددغو دواړو مکتبونو پر خلاف حرکت وکړ. (دوی د وونټ په پیروانو باندې تور ولګاوه، چې هغوی وایي، زموږ ادراک له اشیاؤ څخه یوازې د حسي عناصرو ټولونه کوي. ګشتالتي اروا پوهانو وویل، کله چې حسي عناصر ترکیبېږي، هغه بیا نویو نمونو او شکل بندیو ته بڼه ورکوي. دوی زیاتوي، د موسیقۍ څو آلې سره څنګ په څنګ وغږوئ، د هغو د بېلابېلو غږونو له ترکیب څخه یو داسې نوی غږ یا آواز منځته راځي، چې په یوازې ډول یې په هغو ګڼو غږونو کې هېڅ یونلري. په لنډیز سره ویلی شو، کُل د هغو د اجزاو په پرتله بل ډول دی...) تاریخ روانشناسی نوین، ۹۷مخ

په همدې اعتبار ګشتالتیان وایي: «د انسان ذهن یا روان د تجربې وړ نه دي. ذهن باید د یوه کُل په ډول په نظر کې ونیول شي، ځکه چې تل د خپلو تشکیلونکو اجزاو لپاره اضافه شی لري. د کُل په یوه برخه کې بدلون کولی شي، په کُلي ډول د واقعیت پروسه بدله کړي.»

روانشناسي عمومي، حمزه ګنجي، ۱۹مخ

ګشتالت (Gestalt) چې یوه الماني کلمه ده، د یوې کُلي طرحې او جوړښت معنا ورکوي او په اروا پوهنه کې «کُل له اجزاؤ نه مخکې د هغو جوړونکی دی» معنا ښیندي. ددغه مکتب پلویان لکه **ماکس ورتایمر** «۱۸۸۰م-۱۹۴۳م»، **کورت کافکا**«۱۸۸۶م-۱۹۴۱م»، **ولفګانګ کوهلر** «۱۸۸۷م-۱۹۶۷م»، **لوین** «۱۸۹۰م-۱۹۴۷م»، **ویلر** «۱۸۹۲م-۱۹۶۱م»،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګولډاشټاین** «۱۸۷۸م-**۱۹۶۵**م» او نور په عمومي ډول د انسان ذهن او روان د هغو د اجزاو پرځای لومړی د یوه کُل په توګه په نظر کې نیسي. څېړونکي د دوی ددغې نظریې مفهوم په یوه مثال کې راښيي او وايي: (ګرداب یوه فزیکي اصطلاح ده، چې موږ ټولو به یې مسیر او بڼه په سیندونو، دریابونو او ویالو کې لیدلې وي او په خط السیر یې پوهېږو. په اروا پوهنه کې ګشتالت په دې نظر دی، چې سمه ده، ګرداب د اوبو له څاڅکو څخه جوړ شوی دی، خو د اوبو هرڅاڅکي ته ګرداب نه شو ویلی، بلکې یوازې د اوبو هغو څاڅکو ته ګرداب ویلی شو، چې په یوه خاص نظم او جوړښت سره په ترتیب په یوه ټاکلي موقعیت کې ځای شوي دي او د اوبو د حرکت یو خاص بهیر یې تشکیل کړی دی، چې موږ یې ګرداب بولو، خو شېبه وروسته همغه اوبه دي، چې په عادي ډول جریان لري.)


د عمومي اروا پوهنې آرونه، ۱۴او ۱۵مخونه

(د ګشتالت په مفکوره کې د ژوند فضا د هغو مؤثرو عواملو یو کُلي نمونه بلل شوې، چې په سلوک او چلند اثر اچوي او د فرد رواني نړۍ منځته راوړي، چې په ټوله کې په خپله فرد او د هغو رواني چاپېریال هم پکې داخل وي. له رواني چاپېریال څخه مطلب هغه فزیکي او ټولنیز محیط دی، چې هم فزیکي شیان او هم عملي روابط او اړیکې پکې شاملې دي. د ژوند په فضا کې نه یوازې هغه شیان چې په اوسنۍ زمانه کې ادراک کېږي، بلکې داسې مواد لکه حافظه، ژبه، هنر، افسانه، دین او امیدونه شامل دي. د رواني جهان مجموعه معمولاً د فرد د ژوند د فضا له ګډو فصلونو څخه تشکیل شوې ده. په رواني جهان کې استعدادونه، شخصي معلومات او باورونه، تېر او راتلونکي لرلیدونه، مجرد افکار او عیني شیان شامل دي... په دې اساس د ژوند فضا له فرد او د هغو د خاص رواني حالت او چاپېریال څخه جوړېږي. ددې معنا دا ده، چې دژوند فضا یو فعال او خوځند کُل«مجموعه» دی، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې برخې بدلون په نورو برخو هم اغېز کوي او هربدلون په ټولې وضعې پورې تړاو لري.)



ماکس ورتهایمر

داروا پوهنې ښوونځي، ۱۱۹او ۱۲۱مخونه

د ګشتالت د مکتب په پلویانو کې «**ماکس ورتهایمر**» ته «چې په پراګ کې زیږېدلی ؤ او د فلسفې او اروا پوهنې په برخوکې یې لوړې زده کړې درلودې» ددغه مکتب د بنسټګر خطاب شوی دی.

ده په ۱۹۲۱م کال د (کورت کافکا)، (ولفګانګ کوهلر) او (ګولډاشتاین) په همکارۍ د اروا پوهنیزو څېړنو په نوم د یوې مجلې په خپرولو پیل وکړ، چې همدغه پیل د ګشتالت د مفکورې د رامنځته کېدو لامل شو.

دغه مفکوره په المان کې ډېره ژر مشهوره شوه او د «برلین» د اروا پوهنې په مؤسسه کې ورته ځای ورکړل شو. تردې وروسته به ورته ډلې ډلې محصلین له مختلفو هېوادونو څخه راتلل او په دغه مرکز کې به یې چې د نړۍ په کچه یې یومجهز لابراتوار درلود، زده کړه کوله. خوکله چې په ۱۹۳۳م کال په المان کې د هیټلر په مشرۍ نازیان واک ته ورسېدل، د ګشتالتي اروا پوهنې پلویانو ته ستونزې جوړې شوې. په ځانګړي ډول ورتهایمر او نورو مشهورو پلویانو یې امریکا ته مهاجر شول. هلته د دوی ځینې کتابونه په انګلیسي ژبه وژباړل شول او یوشمېر اروا پوهان د دوی د افکارو تر اغېز لاندې راغلل، چې وروسته دغه اغېز نړیوال بهیر ته لاره پیدا کړه.

**ورتهایمر** په خپل وار پر نورو ملګرو باندې زیات اغېز درلود. دده له خوا په ۱۹۲۳م کال د ادراکو د جوړښتي اصولو تدوین د ګشتالت مکتب ته شهرت وبانښه. ورتهایمر څرګندہ کړه، چې اشخاص شیان په واحدانه ډول درک کوي، یا کله چې یو ژوندی موجود د قصد او نیت له مخې خپل ماحول ته ګوري او

(c) ketabton.com: The Digital Library




لیدنه، کتنه او پلټنه پیل کوي، نو په همزمانه توګه د ادراکو ترتیبېدنه او جوړېدنه هم رامنځته کېږي.

**تر** ***ورتایمر*** **مخکې اروا پوهانو دا نظر درلود، چې ادراک له هغو ساده او نه تجزیه کېدونکو عناصرو او احساسونو څخه تشکیلېږي، چې هر یوله هغو څخه په یوه ځانګړي حسي ارګان پورې تړلی وي، خو ورتایمر دغه نظر ناسم وګاڼه او ادعا یې وکړه، چې د دوو محرکاتو اثرات سره ترکیبېږي او یو نوی او متحد شکل رامنځته کوي، له دې مخې درک شوی حرکت نه شو کولی، په ټوټه ټوټه او پرله پسې احساسونو باندې وویشو.**


***ورتایمر*** **ددغه نظریې د ښې سپړنې او څیرنې لپاره د «ادراکي سازمان اصول» په نوم یوه معتبره مقاله خپره کړه. ددغې مقالې په یوه برخه کې د ادراکي سازمان څو قوانین هم وړاندې شوي دي، چې مهم قوانین یې عبارت دي له:«د مجاورت قانون، د شباهت قانون، د ادامې قانون، د ترمیم او رغولو قانون او د شکل او زمینې له قانون څخه...»**

***۱: د مجاورت قانون:***



**دغه قانون وایي، هغه پدیدې او چارې یا هغه اجزاوې چې د زمان او مکان له مخې یوبل ته سره نږدې واقع وي، اړوند او متعلق په نظر راځي. یا په بل ډول، هغه عناصر چې دیوه او بل په څنګ کې واقع وي، نو یو له بل سره په مجاورت کې د درک کېدلو لپاره ښه مساعد دي. تاسې ددې قانون په شکل کې دایرې، په دریو جفتو ستونونو کې وینئ، نه د یوې جمع او کُل په ډول.**

***۲: د شباهت قانون:***



**د شباهت قانون په دې معنا دی، چې سره ورته او مشابه شیان، له ناورته او غیرمشابه شیانو او مطالبو څخه په ښه ډول درک کېږي. یا مشابه او سره ورته**


(c) ketabton.com: The Digital Library



اجزاوې د يوې ډلې او کُل په ډول ليدل کيږي.ددغه قانون شکل کې دايرې او نقطې دواړې په نظر راځي، خو دلته دايرې له دايرو سره په رديف کې وينئ او نقطې له نقطو سره، خو په ګډه د هغوی دواړو ستونونه نشئ درک کولی.


**۳: د ادامې قانون:**

زموږ په ادراکو کې يو داسې تمايل شته دی، چې تل يو داسې لوری تعقيب کړو ، يا اجزاوې او عناصر په داسې ډول وصل کړو، چې ګواکې ادامه لري، يا يوه ځانګړې جهت ته جريان لري. د ساري په ډول ددې بحث په شکل کې تاسې تمايل لرئ، چې د دايرو ستونونه له پورته خوا څخه ښکتې خوا ته تعقيب کړئ.




**۴: د ترميم او رغولو قانون:**

زموږ په ادراکو کې دا تمايل هم شته، چې نابشپړ شکلونه په خپل ذهن کې بشپړ کړو. تاسې په شکل کې دری بشپړې مربع ګانې درک کوئ، په داسې حال کې چې هغه بشپړې نه دي او په منځونو کې يې تشې برخې ليدل کيږي.



**۵: د شکل او زمينې قانون:**

په دغه قانون کې له شکل څخه موخه هغه څه ده، چې د درک وړ وي، يا د درک کولو لومړنی موضوع وي او زمينه هغه صحنې يا چاپيريال ته ويل کيږي، چې شکل پکې ځای لري. په داسې يوه حالت کې شکل اصلي په نظر راځي او تر زمينې وتلی او برجسته معلوميږي. په مخامخ تصوير کې شکل او زمينه يو او بل ته ورګرځيدونکي دي يا په يو او بل اوښتونکي دي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن کله دوې څېرې په نظر راشي او کله یو ګلدان. له دغه قانون څخه د ښوونې او روزنې په نظام کې یوه داګټه اخیستل کېږي، چې د زده کړې وړ موضوع باید په واضح ډول ولیکل شي، هغه که په تخته وي او که په کتاب کې په بېلابېلو رنګونو.

❖ ❖ ❖

د ګشتالتیانو په څوکسیزه ډله کې تر «ماکس ورتهایمر» وروسته «***ولفګانګ کوهلر***» چې د دوی ویاند او فعال غړی ؤ، زیات شهرت لري. نوموړی په ۱۸۸۷م کال په بالتیک کې زیږېدلی ؤ او پنځه کلن ؤ، چې کورنۍ یې د المان شمال ته ولاړه او نور د همدغه ځای اوسېدونکي شول. ده لوړې زده کړې د «بن» او «برلین» په پوهنتونونو کې ترسره کړې او د فزیک په برخه کې یې هم ښه مطالعه درلوده. همدا لامل دی، چې د نوموړي په اروا پوهنیزو څېړنو کې هم د فزیکي مسایلو څرکونه لیدل کېږي.




کوهلر په ۱۹۱۳م کال په یوه سمندري سفر کې «تنریف» ته ولاړ او د افریقا په شمال لوېدځو سواحلو کې یې پر بیزوګانو باندې څېړنې وکړې. دده هغه کتاب چې په ۱۹۱۷م کال کې یې «د بیزوګانو ذهنیت» په نوم خپور کړی، په حقیقت کې د همدغو څېړنو نچوړ بلل کېږي. کوهلر تردې وروسته د برلین د پوهنتون استاد وټاکل شو. وروسته یې په یوشمېر نړیوالو پوهنتونونو کې «چې د هغو له ډلې څخه د امریکا د هاروارد او کلارک پوهنتونونه یادولی شو» ویناوې وکړې. کوهلر په ۱۹۲۹م کال خپل ترټولو مشهور کتاب «د ګشتالت اروا پوهنه» ولیکه. وروسته د نورو ګشتالتیانو په څېر امریکا ته ولاړ، هلته یې د پنسلوانیا په کالج کې په تدریس پیل وکړ او څو نور کتابونه یې هم خپاره کړل او څه مهال د امریکا د اروا پوهانو د انجمن رئیس هم پاتې شو. نوموړی په ۱۹۶۷م کال هملته ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ ❖ ❖

دريم کس چې په ګشتالت پالنه کې د نوم خاوند دی، «***کورت کافکا***» دی. کافکا په ۱۸۸۶م کال د المان په برلين کې زېږېدلی ؤ او هملته يې خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې ترسره کړې وې. دی د لوړو زده کړو په لار کې لومړی د فلسفې مينه وال شو، خو له څه مهال وروسته يې د اروا پوهنې پر زده کړه مخ راواړاوه او په ۱۹۰۹م کال کې يې په همدغه څانګه کې دوکتورا ترلاسه کړه.


کورت کافکا


د زده کړو ترېشپړولو وروسته له «ورتهايمر» او «کوهلر» سره اشنا شو او د ګشتالت پالنې لپاره يې هلې ځلې پيل کړې. وروسته «۱۹۱۴م» د «ګيس» پوهنتون ته ولاړ او هلته يې درې کاله تدريس وکړ. د لومړۍ نړيوالې جګړې پر وخت يې د رواني درملنو په روغتون کې دنده ترسره کړه او تر جګړې وروسته يې خپلې څېړنې او تجربې په دوو کتابونو «د ګشتات په نظريه باندې مقدمه» او «د ذهن وده» کې خپرې کړې، چې ډېر ژر د ګڼو اروا پوهانو له هرکلي سره مخامخ شوې. وروسته امريکا ته ولاړ او د «کرنل» او «ويسکانسين» په پوهنتونونو کې يې د مېلمه استاد په توګه تدريس وکړ، بيا د «سميټ» پوهنتون ته ولاړ او د عمر ترپايه «۱۹۴۱م» پورې هملته پاتې شو.

❖ ❖ ❖

بل وتلی پوهاند چې د ګشتالت په برخه کې يې کار کاوه، الماني اروا پوه «کورت لوين» دی. لوين په ۱۸۹۰م کال د المان د موګيلنو په ښار کې زېږېدلی ؤ او په ۱۹۱۴م کال کې يې د برلين له پوهنتون څخه د اروا پوهنې دوکتورا اخيستې وه. تر زده کړو وروسته يې د المان په پوځ کې خدمت وکړ. دی په لومړۍ نړيواله جګړه کې ټپي شو او د زړورتيا او خدمت مډال ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library






شو. وروسته د برلین پوهنتون ته راغی او د ګشتالت له ډلې سره یې همکاري پیل کړه.

نوموړي په همدغو وختونو کې د تداعۍ او انګېزې په اړه څېړنې وکړې او وروسته یې «د میداني نظریې» په تدوین لاس پورې کړ. لوین په ۱۹۳۳م کال د هیټلري نظام د فشارونو له امله امریکا ته مهاجر شو، ده همغه مهال کوهلر ته ولیکل: «اوس فکر کوم، چې زما لپاره نور له مهاجرت څخه پرته بله لار پاتې نه ده، که څه هم دغه کار به زما ژوند در په در کړي!»

لوین په امریکا کې دوه کلونه د «کرنل» په پوهنتون کې او نور کلونه یې د «ایوا» په پوهنتون کې په تدریس تېر کړل او د ماشوم د ټولنیزې اروا پوهنې په باب یې یو شمېر مهمې څېړنې ترسره کړې او بالاخره په ۱۹۴۷م کال په امریکا کې ومړ. د لوین د کارونو یو توپیر د ګشتالت د نورو پلویانو سره دا دی، چې هغوی به زیات تمرکز د ادراکو پر مطالعه باندې کاوه، خو د ګشتالت په چوکاټ کې د لوین تمرکز پر شخصیت او اجتماعي اروا پوهنه باندې ؤ، چې له همدې امله نوموړي د اجتماعي اروا پوهنې مخکښ هم بلل شوی دی.

❖ ❖ ❖

د ګشتالت پالنې پلویان په خپلو څرګندونو کې «وجود» او «واقعیت» سره جلا ګڼي. دوی د شیانو د خپلواک وجود له انکار څخه پرته باور لري، چې هر فرد خپل فرضي جهان په داسې طریقه درک کوي، چې هغو ته یوه معناداره بڼه ټاکي او د هغو د تعبیر او تفسیر پر بنسټ خپل اعمال طراحي کوي. دوی د سلوک پلویانو پرخلاف «چې مادي او اروا پوهنیز محیط یو ګڼي» څرګندوي، چې مادي او اروا پوهنیز محیط یو شانته نه دی. اروا پوهنیز محیط هغه دی، چې فرد یې له خپل چاپېریال څخه درک کوي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مادي ماحول نه دی، چې فرد یې محاصره کړی دی، بلکې دا د فرد هغه ادراکي میدان دی، چې نوموړی راچاپېروي.
د ارواپوهنیز محیط زیاتره مظاهر یا جوړښتي توکي د مادي محیط ځینې برخې دي، نه ټولې برخې. د اشخاصو اروایپوهنیز محیطونه یوله بل سره توپیر لري. همدا لامل دی، ښایي د دوو کسانو چال چلند د هوښیارۍ له مخې سره یو شانته وي، مګر له عیني واقعیتونو سره به یې برخورد او مخامختیا بل شانته وي. دا ځکه چې د دوی اهداف او د تجربو اړخونه هم سره په توپیر کې دي. هرکله چې یو فرد نوې تجربه په لاس راوړي، د هغه رواني محیط هم ورسره په بدلون کې کېږي...
ګشتالت دغې پوښتنې ته چې «څنګه د یوې کورنۍ دوه غړي یوله بل سره په توپیر کې دي، یو مثبت پرمختګ لري او له بل څخه د ژوند کنټرول له لاسه وځي؟» په ځواب کې وايي؛ دا سبب په هغه تعبیر او تفسیر کې نغښتی دی، چې دوی یې له نړۍ څخه لري، که څه هم په یوه ورته مادي او اجتماعي محیط کې ژوند کوي. دا شان تعبیر او تفسیر د یوه شخص د حس، درک، برداشت او اخیستنې فعاله پروسه ده.
ګشتالتیان، ادراک یوه واحده مرحله ګڼي، چې په هغو کې حس له معنا سره او معنا له حس سره متقابلې اړیکې لري او په یو وخت او همزمانه توګه پېښېږي. په همدې دلیل د یوه حس یا ادراک معنا په ټول موقعیت پورې تړلې ده. د شخص او محیط ترمنځ تعامل د هغو اړیکو ښکارندوی دی، چې د هغو په لړ کې واقعیت درک کېږي. شخص له خپل مشخص هدف یا خپل مشخص ذهني تصویر سره هڅه کوي، چې محیط او له هغو څخه مطلوبې ګټه اخیستنې ته معنا وښيي. په دغه مرحله کې شخص هم ځان او هم محیط ته بدلون ورکوي، خو ډېری داسې وي، چې مادي محیط پرخپل حال وي، مګر د شخص برداشت او اخیستنه ورڅخه په بدلون کې وي، چې په دې سره یې د تعامل اړخ هم له یو لړ بدلونونو سره مخ کېږي. د ساري په ډول، د یو کوچیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د اوراپوهنیز محیط مهم اړخونه دده مور، پلار، خویندې او وروڼه تشکیلوي، کله چې د کورنۍ دوهم ماشوم نړۍ ته راځي، لومړی ماشوم خپل موقعیت درک کوي او ارزوي. که چېرې احساس کړي، چې مور او پلار یا د کورنۍ نور غړي یې د پخوا په څېر ورته پاملرنه نه کوي. دغه احساس د والدینو له چلند څخه د مادي محرکونو په دلیل سرچینه نه اخلي، بلکې زیاتره د هغو نوي تړاو څخه د برداشت او اخیستنې له امله ورته پیداکېږي، چې والدین یې له بل ماشوم سره لري. په بل عبارت خبره دا نه ده، چې ایا دوهم ماشوم ته زیاته پاملرنه ددې لامل شوې، چې په لومړي ماشوم کې یې هغه احساس رامنځته کړی او یا یې نه دی رامنځته کړی، بلکې اصلي ټکی دا دی، چې ایا لومړی ماشوم، دوهم ماشوم له خپل ځان څخه مور او پلار ته زیات نږدې بولي او که نه؟

د ګشتالت پلویانو په اند، تجربه هم د شخص او درک شوي محیط له تعامل څخه رامنځته کېږي. ددغه دوه اړخیزه تعامل واقع کېدل، د تجربې د دوام او استمرار سبب کېږي. هره تجربه، له مخکنیو تجربو څخه متاثره کېږي او راتلونکو تجربو ته بدلون ورکوي، یا کېدای شي د راتلونکو تجربو پرحالت او موقعیت باندې اغېز وکړي. د تجربې او انګېزې له نظره تېرمهال او راتلونکی مهال د شخص لپاره په اوس مهال کې معنا لري، یو شخص معمولاً خپلې تېرې تجربې او راتلونکي معیارونه په نظر کې نیسي، خو تر زیاتې اندازې د ژوند له اوسنۍ فضا څخه انګېزه راخپلوي.

څرنګه چې د ذهن او بدن ترمنځ اړیکې د اروا پوهنې د مکتبونو د بحث له اصلي موضوعاتو څخه ګڼل کېږي او تقریباً ټول اروا پوهان په دغه ټکي کې سره موافق دي، چې انسان کولی شي، په دوو متضادو سطحو کې یعنې په «ذهني» او «بدني» سطحو کې فعالیت ترسره کړي. ګشتالت پلویانو هم په دغه باب یو لړ څرګندونې کړې دي، د دوی په اند: «ذهني فعالیت د هغو مشخصو عملونو نتیجه ده، چې د بدني فعالیتونو په پرتله کم ځواک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انرژۍ ته اړتيا لري. د مثال په ډول يو پوهاند چې د ميز شا ته ناست او په فکر کې ډوب دی، نسبت هغه کارګر ته چې کلا جوړوي، کمې انرژۍ ته اړتيا لري. څرنګه چې اوبه د تودوخې او حرارت پر وړاندې په بخار بدلېږي، همداسې ښکاره بدني فعاليتونه هم په پټو فعاليتونو بدلېږي. يو ژوندی موجود له محيط سره متقابل عمل ترسره کوي. هر کله چې په دغه مرحله کې د محيط او ژوندي موجود د متقابل عمل شدت راکم شي، بدني فعاليت په ذهني فعاليت بدل شي او کله چې شدت ومومي، ذهني فعاليت، بدني فعاليت ته خپله بڼه وربدلوي.

ګشتالت پالنه د انسان د چال چلند ذهني او بدني اړخونه د جلا او خپلواکو وجودونو په توګه نه څېړي، بلکې هغه د يوې نه جلا کېدونکې مجموعې او يوه کُل په ډول څېړي. د دوی په نظر، تفکر او عمل يا ذهني فعاليت او بدني فعاليت په واقعيت کې دواړه له يوې ريښې څخه دي او کولی شو، هغه له يوې سطحې څخه بلې سطحې ته يا له ذهني سطحې څخه بدني سطحې ته او له بدني سطحې څخه ذهني سطحې ته ولېږدوو.

د ګشتالتيانو په عقيده، د انسان ذهني فعاليتونه د هغه له باطني نړۍ او بدني فعاليتونه د هغه له بهرنۍ نړۍ سره زيات تړاو لري. يا په بل عبارت انسان دوې نړۍ لري، باطني نړۍ او بيروني نړۍ. کله چې د يوه انسان ددغو دواړو نړيو ترمنځ کړکېچ او بېګانګي رامنځته شي، نو د رواني ستونزو راپيدا کېدلو ته زمينه برابرېږي او د انسان ذهني تعادل ته صدمه رسېږي. ددې په مقابل کې هغه وګړي له رواني اړخه سالم بلل کېږي، چې د هغو داخلي او خارجي نړۍ يا باطني او بيروني نړۍ سره توافق ولري.

کله چې د يوه شخص د ځان او جهان ترمنځ مستقيم پيوند او همغږي موجوده وي، هغه کولی شي، له خپلو وړتياؤ څخه په ښه توګه ګټه واخلي او خپلې علاقې او استعدادونه وپالي. خو هغه څوک چې ونه شي کولی، د خپلې باطني او بيروني نړۍ ترمنځ همغږي راولي، هېڅکله به خپل واقعي ځان ته ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېږي. دغه ډول اشخاص یا په تېرمهال کې ډوب پاتې کېږي او یا د راتلونکي بې واقعیته خیالونو ته پناه وړي. څرنګه چې یو انسان نورو ته هم اړتیا لري او هېڅ شخص په یوازې سر پر ځان بسیا «خود کفا» نه دی، له همدې امله د انسان د رواني او عاطفي بقا چانس په یوازیتوب یا په هغه یو اړخه نړۍ کې چې ده ته ورپاتې ده کم دی. انسان په خپل ماحول کې انسان دی او په هر وخت کې د خپل ماحول یوه برخه یا یو جز دی. په همدې سبب د ده چلند هم د محیط او محیطي مسئلو تابع دی. یا په بل عبارت د ژوندانه په بهیر کې محیط یو اړخ دی او د فرد خپل وجود بل اړخ دی. که چېرې نوموړی فرد د خپل ځان او جهان ترمنځ د اړیکو پوله او سرحد ونه پېژني، روان مړاوی انسان ورنه جوړېږي او که چېرې دا هرڅه وپېژني او د هغو ترمنځ وحدت او پخلاینه راوستلای شي، سالم او سلیم انسان ورڅخه جوړېږي.

❖ ❖ ❖

(ګشتالتیانو په خپلو څېړنو کې څرګنده کړه، چې په لیدني یا دیداري درک پورې مربوطو ازمویو کې ماغزه همېشه هڅه کوي، چې له نیمګړو او ناقصو تصویرونو سره د برخورد او مخامخ کېدنې پرمهال هغه بشپړ او تکمیل کړي. زموږ ماغزه په داسې ډول پروګرام بندي شوي، چې په هره موقع کې په یوه شکل یا یوه شخصیت پسې ګرځي، یعنې له یوه شي څخه په استفادې، بل شي ته رسي او د رنګونو او شکلونو د ګڼه ګوڼې په منځ کې د معنا او مفهوم په لټه کې کېږي... همدا ډول د هر فرد شخصیت تل د یوې غالبې اړتیا له مخې ځان جوړوي او کله چې یې دغه اړتیا پوره کېږي، نو سمدلاسه یوې داسې مرحلې ته داخلېږي، چې هغه د یوې بلې اړتیا لاره ورته پرانیزي. په دې ترتیب فرد خپل ټول ارګانېزمونه په داسې بڼه تنظیموي، چې په هغو وکولی شي، هغه څه په لاس راوړي، چې دده د بقا او پایښت لپاره اړین دي. خو زموږ انسانانو ستره ستونزه دا ده، چې تل زموږ پېچلتاوې ددې لامل کېږي، چې د اړتیاؤ د پوره کېدلو ساده معادله مو پېچلې او مبهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوړي. موږ كولی شو، خپلې ځينې اړتياوې وځپو او ځينې مهمې او واقعي وښيو يا غالبې اړتياوې ورنه جوړې كړو... زموږ غالبې اړتياوې، زموږ له ځانباورۍ او عزتِ نفس سره پيوند خوري، خو د كوم فرد نفس چې حوصله بايلي او نور زيان نه شي منلی، هغه له رواني مړاويتوب سره مخ كېږي او خپل كنټرول او هوښياري له لاسه وركوي.) روانشناسي، ټامر باتلربودن، ۳۳۲مخ

د ګشتالتيانو په باور، زموږ پنځه ګوني حواس لكه د بويولو، لمس كولو، خوند معلومولو، اورېدلو او ليدلو حسونه له نړۍ سره د ارتباط او اړيكو پولې دي. كله چې يو څوك خپل ځان له نورو خلكو څخه كوم جدا شی وبولي، نو د حس او درک پولې ورانوي او له نورو سره اړيكې او ارتباطات له لاسه وركوي.

ددغه مكتب يوبل پلوي «فريتزپرلز» وايي: «خلک د خپل مرګ پرمهال دا نه وايي، چې كاشكي زياتې پيسې مې په لاس راوړې وی! بلكې وايي، كاشكي له وختونو او فرصتونو څخه مې ښه استفاده كړې وی او ښه او زيات كارونه مې ترسره كړي وی! يعنې خلک هيله كوي، چې كاشكي له خپل ژوند سره يې ښې او غوره اړيكې درلودلې وی... هغه كسان چې له خپل چاپېريال سره رښتنی ارتباط لري، تل په هيجان كې وي. دغه ډول كسان ټول وخت په يوه نه يوه بڼه د احساس كولو په حال كې وي، خو ددې په مقابل كې هغه كسان چې له رواني مړاويتوب سره لاس او ګرېوان دي، پرته له دې چې اقدام وكړي او له واقعي نړۍ سره اړيكې ونيسي، معمولاً خپلې هغې باطني نړۍ ته چې دی د ځان دننه ورسره اشنا دی پناه وړي او ځان له واقعي پرمختيا او څخه بې برخې كوي. سالم انسانان خپل ځانونه له ژوند سره نښلوي، علاقه ښيي، پرځان كنټرول ساتي، له انسانانو سره پالي، قاطع وي، درک كوي، مسئوليت مني او د ژوند په هره برخه كې زده كړه كوي.»

د ګشتالتيانو هدف دا دی، چې انسانان له خودكاره ژوند كولو څخه راوګرځوي، دوی وايي، زياتره انسانان په خپل اوس كې ژوند نه كوي، په دې معنا چې انسان يا په خپلو تېرو خاطرو او احساساتو كې بوخت وي او يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول وخت د راتلونکي ناراغليو چارو ته په فکر کې دی. په دې بنسټ که چېرې افراد خپل ژوند تحليل کړي، د خپلو معيارونو سره ګام واخلي، تر زياتې اندازې په خپل اوس کې ژوند وکړي، خپل اوس ته فکر وکړي او په خپلو اوسنيو چارو مسلط شي، نو له زيات پرمختګ، نظم او ذهني آرامښت سره به مخ شي.

ګشتالت که څه هم په اروا پوهنه کې تقريباً يو زوړ مکتب دی، خو د دوی دا پورته ډول څرګندونې تلپاتې ارزښت لري او ښايي همدا لامل وي، چې د ګشتالت تر زمانې څولسيزې وروسته انسان پاله يا بشري اروا پوهنه د دوی «ګشتالتيانو» تر اغېز لاندې راغله او ځينې بنسټيز توکي يې د ګشتالت له اروا پوهنې څخه واخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ***انسان پالنه***

## د اروا پوهنې د لړۍ بله کړۍ

په نولسوه پنځوسمو کلونو کې «***اروا شننه***» او «***سلوک پالنه***» په اروا پوهنه کې تر ټولو بانفوذه مکتبونه بلل کېدل؛ خو له دې سره سره ځینو اروا پوهانو ته دغه دواړې فکري څانګې د زغملو وړ نه وې. تر ټولو ستر تور چې پر دغو مکتبونو ولګېد، هغه دا ؤ، چې دوی «***انسانیت ځپونکي***» دي. د اروا شننې مکتب د هغو مفکورې له امله «چې ویل به یې د انسان زیاتره چلندونه په لاشعور کې د ناسمو تمایلاتو له مخې اداره کېږي» ترحملې لاندې راغی او د سلوک پالنې پرمکتب دا نیوکه کېده، چې دوی د حیواني اروا پوهنې پرنسیبونه پر انساني اروا پوهنه باندې تطبیقوي او یا انسان ته «د هغو عاطفي احساس او ذهني حالتونو ته» د ارزښت نه ورکولو په صورت دیوه ژوندي موجود خطاب کوي.

پر دغو دواړو مکتبونو «اروا شننه او سلوک پالنه» باندې یوه بله جدي نیوکه دا وه، چې دوی وایي، «انسانان خپل برخلیک په خپل واک کې نه لري، یا د لاشعور تر اغېزو لاندې دي او یا محیط د هغو ماهیت بشپړوي». په همدې اساس په اروا پوهنه کې یو بل مکتب د امریکا د مشهورو اروا پوهانو «***آبراهام مازلو***» او «***کارل راجِرز***» له خوا د «***انسان پالنې***» یا انسان پالې اروا پوهنې په نوم، چې انګلیسي کې ورته (humanistic-psychology) ویل کېږي رامنځته شو.

د انسان پالنې د مکتب پلویانو له احتیاط څخه کار واخیست او د انسان د ماهیت په برخه کې یې خوشبینانه څرګندونې وکړې. دوی وویل: «انسانان د حیواني میراثونو او محیطي شرایطو د لاس آلې نه دي... څرنګه چې انسانان


(c) ketabton.com: The Digital Library



**په بنسټيز ډول له نورو حیواناتو څخه توپیر لري، په دې اساس د حیواناتو په برخه کې څېړنې، د انسانانو د چال چلند په معلومولو کې چندان رول نه لري.»**

روانشناسي عمومي، وین ویتن، ۱۱مخ

**د څېړونکو په باور د انسان پالنې مکتب د ارواشننې او سلوک پالنې د مکتبونو پرځای، د ګشتالت پالنې له مکتب څخه زیات اغېز موندلی دی. (انسان پالې اروا پوهنې د ارواشننې پرخلاف، په رواني ستونزو کې د لاس او ګرېوان کسانو د مطالعې پرځای، له رواني اړخه د روغو کسانو د مطالعه کولو هڅه کوي. په همدې توګه د انسان پالې اروا پوهنې د درملنې رنګ بل ډول دی او «وده ورکوونکې درملنه» ورته ویل کېږي. چې له ۱۹۶۰م کال څخه تر ۱۹۷۰م کال پورې یې زیات رواج وموند)**


کارل راجرز

تاریخ روانشناسي نوین، ۵۳۸مخ

**ددغه مکتب یو مهم غړی *کارل راجرز* «۱۹۰۲م-۱۹۸۷م» په دې باور ؤ، چې« د هر انسان چلند په عمومي ډول د هغه د ځانوالۍ او ځان خیال ساتلو-Self) (Concept په واسطه اداره کېږي، چې په غالب احتمال حیوانات له هغو څخه بې برخې دي.»** روانشناسي عمومي، وین ویتمن، ۱۱مخ

❖❖❖

**د انسان پالنې بل پیاوړی غړی *آبراهام مازلو*«۱۹۰۸م-۱۹۷۰م» وایي:«د تاریخ په اوږدو کې د انساني فطرت د ځپلو هڅه شوې ده، زموږ ټولو نظر باید د انسان د اصلي فطرت په اړه دومره پراخه شي، ترڅو د بشپړو او موفقو انسانانو ځانګړتیاوې راخپلې کړو.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library





آبراهام مازلو

ددغه مکتب پلویان په ټولیزه توګه هڅه کوي، چې انسان خپل ځان ته متوجه کړي او په ځان کې یې له پټو وړتیاؤ او شاته اچلول شویواستعدادونو سره اشنا کړي، ترڅو له خپلو ارزښتونو سره د جوړجاړي په فضا کې ژوند وکړي او په ډاډه ډول خپل ماهیت په خپله وټاکي.

انسان پالنه هڅه کوي، چې اروا پوهنه باید له کوم پېچلی، له بې اړتیا افکارو ډک او یوازې ترپوهنتون لوستو کسانو پورې محدود علم نه وي، بلکې یوه داسې وسیله وي، چې له ټولو افرادو سره د هغو د ورځني ژوندانه د مسایلو په حل او پېژندنه کې مرسته وکړي، یعنې یو داسې علم چې تر نظري اړخ یې، کاري اړخ یا د کارېدنې رول پراخه وي.

له همدې امله دغه مکتب پر هغو موضوعاتو په باندې تمرکز کوي، چې په نورو فکري نظامونو او نظریاتي نظامونو کې ورته کمه پاملرنه شوې ده. د ساري په ډول ځانخبري، ځانجوړونه، مینه، علاقه، خلاقیت، د نوښت او ابتکار حس، د انسان طبیعي او غیر تصنعي حالت، آرامښت، ځان واکمني، د لوړو ارزښتونو او باورونو راخپلول، رواني استقلالیت، د مسئولیت احساس، په اعمالو کې د هوډ او ارادې شتوالی، د اوچتو تجربو درلودل او پالل، د جرئت درلودل، سالم درک او داسې نور... هغه موضوعات دي، چې د انسان پالنې مکتب ورته په خپله لمن کې ځای ورکوي.

همدا لامل ؤ، چې نوموړی مکتب له ۱۹۶۰م کال راوروسته د ځوانو اروا پوهانو، استادانو، ښوونکو او حتیٰ عامو وګړو له خوا له تاوده هرکلي سره مخ شو. ځینو محققانو د انسان پالنې د استقبال یو لامل دا ښودلی، چې د هغه مهال اروا پوهنې د انسان له اصلي چلند او اړتیا وړ مسایلو څخه غفلت کاوه او د هغو پرځای یې ځینې دوهمه درجه مسایلو ته پاملرنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم په شلمه میلادي پېړۍ کې اروپايي فلسفې د بشرپالنې، هیومانیزم او وجودي فلسفې نغرې تود کړی ؤ، خو د انسان پالنې مکتب چې د نړۍ په هاغه بله څنډه یعنې امریکا کې وزرې خپرې کړې، د اروپا ددغې نوې فلسفې په ستنو یې کمه تکیه درلوده. یا په بل عبارت د انسان پالنې د مکتب پلویانو د انسان ماهیت او د ژوندانه چارو ته په فلسفي نظر نه، بلکې په یوه ځانګړي اروا پوهنیز نظر وکتل. د دوی په اند، د انسان طبیعت تل د انساني کېدو په حال کې دی، چې ټولنه ورته ځانګړی بستر تیا کي، د انسان او ټولنې ترمنځ د راکړې ورکړې دغه تکاملي پروسه تل په جریان کې ده. ځینې وخت انسان د ماحول د ارزښتونو، باورونو او انګېزو له مخې خوځول کېږي او ځینې وخت د خپلو باطني غرایزو او تمایلاتو له مخې... دغه خوځون انسان د عمل او فعالت ډګر ته مخکې کوي، خو څومره چې انسان سم عمل ترسره کوي، هغومره زیات د آزادۍ احساس کوي.

له سم عمل کولو څخه مطلب دا دی، چې خپله لاره او روش، ټولو حاضرو محرکاتو ته «هغه که محیطي او بهرني وي او که باطني او رواني وي» په پام سره انتخاب او په مؤثره توګه تعقیب کړي. په بل ډول، انسان له ټولو بیروني او باطني چارو سره په شخصي رابطه کې دی او د همدغې شخصي رابطې پربنسټ د خپل چلند او رفتار طریقه او سلیقه تیا کي.

یو آزاد، مثبت او سالم انسان، د ټولو محرکاتو پر وړاندې د مسئولیت احساس کوي او له هغو څه څخه چې د ننه او د باندې یې ګرځي، په بشپړ ډول خبرتیا لري، په داسې یوه حالت کې د محیطي او باطني عواملو ترمنځ کوم کړکېچ نه لیدل کېږي او د سازش او جوړجاړي چانس یې زیات وي.

د خپل ځان تحقق، د انسان د ژوند تر ټولو مهم هدف دی. د ځان کېدلو پروسه د بشر په وجود کې یوه ذاتي تلوسه ده، چې سالم انسانان ورپکې زیات بریالي وي. کله چې یو انسان د خپل ذهني تصویر مطابق وده کوي، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې یو انسان د ځان په تحقق کې مخ په بره روان وي، معمولاً د نورو په وړاندې د مهموالي احساس کوي او د نورو دوستی او قبول ته علاقه ښیي.

په انسان کې دغه ډول تنده هغه وخت خړوبېږي، چې فکر کوي، دده احساسات، تمایلات او نور شخصي او باطني تجارب، د نورو اشخاصو له خوا په مثبته بڼه منل کېږي. کله چې دغه څه ترسره شي، بیا شخص د خپلو تجربو او تمایلاتو په رڼا کې د انتخاب، تصمیم نیولو او عمل کولو بڼه وړتیا پیدا کوي، چې همدغه شان ټکي د انسان د رواني شخصیت او استقلالیت نښې دي.

د انسان پالنې مخکښه څېره «*آبراهام مازلو*» د انسان په دا رنګه رغنیز شخصیت او طبیعت کې په څلورو اصولو ټینګار کوي:

(۱: انسانان د خپل ځانګړي فطرت او طبیعت لرونکي دي او زیاتره غوښتنې، اړتیاوې او استعدادونه یې بیولوژیکي بنسټ لري، چې هغه په خپل وار د مشترکو او متضادو اړخونو لرونکي دي.

۲: انسانان ذاتاً ښه موجودات دي او د هغو په اصلي طبیعت کې شر او بدي نشته ده، په دې اساس باید داسې زمینه ورته مساعده شي، چې خپل دغه ښه او غوره فطرت وغوړوي او هغو ته په خپل ځان او جهان کې پراختیا ورکړي.

۳: د انسانانو طبیعت، د حیواناتو د طبیعت پر خلاف، د بدلون او سمون وړ دی او د ټولنیزو او فرهنګي عواملو تراغېز لاندې راځي. د انسان دغه جوړېدونکی او بدلون منونکی طبیعت، هېڅکله له منځه نه ځي.

۴: هغه څه چې یو انسان د بدۍ او شرارت خواته رهبري کوي او هغه په رواني اختلالونو کې ښلوي، نامساعد اجتماعي محیط دی. مازلو د یوه بل اروا پوه «اریش فروم» په څېر باورمن دی، چې «سالم شخص، په سالمه ټولنه کې منځته راتللی شي!») روانشناسی عمومی انسان، ۸۰۶مخ

په دې اړه د انسان پالنې بل وتلی غړی «*کارل راجرز*» وایي: «د بشپړ انسان مفهوم تر ډېره یو ارماني مفهوم دی او فرضي شخص دی، په دې معنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هېڅوک په مطلق ډول د ځانوالۍ او ځان جوړونې ورستي برید ته نه رسېږي، خو بشپړتیا غوښتونکي اشخاص په دایمي ډول هغې خوا ته په هڅه کې دي، هغوی له حقایقو او واقعیتونو سره په شخړه کې نه راګیرېږي، عقدې نه راخپلوي، خپل طبیعي حالت د پېچلتیا خوا ته نه بیایي، هره لحظه په نرمال او طبیعي ډول د خپلو اهدافو په لور حرکت کوي او د ځینو ناسمو او نابرابرو شرایطو پر وړاندې د تسلیم او ماتې لاره نه نیسي. دغه ډول اشخاص د خپلو ټولو تجربو، زده کړو، انګېرنو او اخیستنو پر وړاندې حساس وي او ظاهري او باطني چلند یې، هم د ځان او هم د ټولنې د ګټورتوب پر محور څرخي. د مثبتو خیالونو، کارونو او پایلو خوا ته تمایل لري. مثبت انتخاب کوي، په شخړه پارونکو مسایلو پسې نه ګرځي، هیله منتیا ښیي، په حل لارو پسې هڅه کوي، منطقي چلند ته لومړیتوب ورکوي او په ټولیزه توګه د ژوندانه په شېبه شېبه کې له خپل اصلي او انساني طبیعت سره همغږي ښیي...»

راجرز یو بل ځای د یوه بالیني او انسان پاله ارواپوه په توګه «چې د انسان ژوند تر بل هرڅه مهم ګڼي» د یوه سالم انسان ځانګړنې په لاندې ډول په ګوته کوي:

(۱: په خپلو شخصي او شعوري تجربو باندې متکي وي او د بېلابېلو نورو تجربو د راخپلولو لپاره چمتووالی لري، خو د هغو لاسپوڅی نه واقع کېږي.

۲: ژوند ورته معنادار وي، هره تجربه نوې انګېري او د هغو د راخپلولو لپاره تل هیجان او تلوسه لري. په بله وینا، سالم شخص له هرې نوې تجربې سره تحول او تکامل مومي.

۳: پر خپل ځان او ارګانېزم باندې باوري وي، سلوک او چال چلند یې د عقل، منطق او عاطفې پر بنسټ ولاړ وي. یعنې څومره چې د عمل پرمهال منطقي عواملو ته پاملرنه لري، هغومره عاطفي عوامل هم په پام کې نیسي، ځکه چې ژوند له دغو ټولو عوملو څخه رغېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴**: سالم انسان خلاق او نوښتګر وي او له یونواختۍ څخه کرکه لري. په بل عبارت یو سالم شخص هڅه کوي، چې په هر وخت او هرځای کې نوي څه ترسره کړي، خلاقیت وښيي او په همدغه توګه خپل ځان په واقعي ډول ژوندی احساس کړي.

**۵**: د عمل خپلواکي او ښه انتخاب تجربه کوي، یعنې د خپل فکر او عمل لپاره محدودیت نهویني. له دغه ټکي څخه خوند اخلي، چې پرخپل ژوند لاسبري او تسلط لري.

**۶**: له تېرمهال څخه راتلونکي مهال ته زیاتره پاملرنه کوي، ځکه باور لري، چې راتلونکی یوازې په ده پورې اړه لري او د تېرمهال د پېښو او موقعیتونو په لاس نه اداره کېږي. په لنډ ډول د ژوند ترټولو مهم هدف «انسان» دی.)

روانشناسی عمومی انسان، ۷۹۵مخ

❖ ❖ ❖

«***آبراهام مازلو***» مخکنۍ اروایپوهنه د ناسمو اشخاصو د څېړلو محدوده ساحه وګڼله او زیاته یې کړه چې، اروایپوهنه باید نوره په دغه تیاره څنډه کې پاتې نه شي، بلکې د روغو او سالمو اشخاصو د لوړاوي او د هغو د وړو ستونزو د حل لپاره هم باید اغېزناک ګامونه واخلي، چې په دغه لار کې ترټولو مهم شی، د روغ او سالم انسان د تعریف مشخص کول دي.

مازلو د سالم شخص یوه ځانګړتیا د هغو د شخصیت یووالی او وحدت ګڼي، چې د خپلو ځواکونو په مرسته په وېرو، تشویشونو، رواني اندېښنو او نورو ستونزو لاسبری پیداکوي او له دې مخې د خپل ژوند پرټوله فضا باندې تسلط مومي. د ژوند په بهیر کې د جسمي او رواني وړتیاؤ په مرسته دغه ډول تکاملي پروسه دځان تحقق یا د ځانوالۍ په رڼا کې ځان هسکونه بلل کېږي.

د مازلو په باور، څومره چې یو انسان خپل ځان او خپل روان ته نږدې کېږي، هومره له هغو «هغسې والي» څخه فاصله نیسي، لکه نور یې چې له ده څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمه لري. رواني سلامتیا ته نږدې کسان خپلو معيارونو، مثبتو ذهني تصويرونو او اوچتو انساني استعدادونو ته د فعليت ورکولو له لارې خپل ځان ثبيتوي او د همدغو ارزښتونو له مخې خپل چاپېريال، نړۍ، واقعيتونه، شرايط، روابط او امکانات تحليلوي. خو که چېرې کوم شخص د خپلو بنسټيزو اړتياو «چې مازلو دغه اړتياوې په يوه هرم کې ښودلې او تاسې يې د مازلو په ژونديک کې کتلی شئ» په پوره کولو کې پاتې راشي، نو نوموړی شخص د يولړ رواني کړکيچونو لکه تشويش، غوسه، ناهيلي، د حقارت عقده او نورو سره لاس او ګرېوان کېږي.

د مازلو په باور هريو انسان چې خپل ځان نفې کوي، په واقعيت کې له خپلو ذاتي استعدادونو سره خيانت کوي. د مثال په ډول که چېرې يو هوښيار او مناسب سړی، حماقت او ناپوهي کوي، دا يوه ناروغي ده. دغه ډول افراد د خپل وجود په ژورو کې پوهېږي، چې له خپل ځان سره يې ظلم کړی. مګر بيا هم خپل ځان او روان تحقيروي. دغه لړۍ که دوام پيدا کړي، نو يو روغ سړی په يوه روان مراوي او ځان تخريبي سړي بدلېږي.

په هرحال د انسان پالنې په مکتب کې د آبراهام مازلو، کارل راجرز، ساليوان او نورو اثار او افکار بنسټيز ځای لري، چې پر هغو باندې بحث کول لويه موضوع جوړوي، خو په خورا لنډه توګه د يادو اروا پوهانو د افکارو يا د انسان پالنې څو عمده ځانګړنې په لاندې ډول ښودلی شو:

- ★ شخص د يوه کُل او مجموعې په ډول د انسان پالنې ترټولو مهمه څېړنيزه موضوع ده.
- ★ د شخص د ژوند ټول تاريخ د دوی د پاملرنې وړ دی.
- ★ د انسان وجود او د هغو قصد او ارادې ته زيات ارزښت ورکول کېږي.
- ★ د ژوند ټوليز او عمومي هدفونه، مساوي ګڼل کېږي. مثلاً نه شو کولی، د بيولوژيکي اړتياؤ ارضا د رواني اړتياؤ تر ارضا مهمه ګڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ انساني خلاقیت، په انسان پاله اروا پوهنه کې لومړی ځای لري.
★ په انسان پالنه کې رواني درملنې ته ځانګړې پاملرنه کېږي. د دوی په باور، د هرشخص ژوند د هغوی د تجربو د معناؤ پربنسټ پېژندل کېږي او ژوند له زیږېدنې څخه تر مړینې پورې یوه روان پوهنیزه مسئله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شناخت پالنه

## او د اروا پوهنې نورې لاسته راوړنې

د اروا پوهنې په نوي تاریخ کې د شناخت پالنې مکتب «چې د پېژندنې اروا پوهنه (Cognitive-psycholog) هم ورته ویل کېږي» له ۱۹۷۰م کال راپه دې خوا په رسمي ډول رامنځته شو. ددغه نوي مکتب پلویان هم د انسان پالنې د مکتب د پلویانو په څېر د نورو اروا پوهنیزو مکتبونو په ځانګړي ډول د «اروا شننې» او «سلوک پالنې» په ډول انسان د کوم ماشین او باطني تمایلاتو د یرغمل په ډول په نظر کې نه نیسي.

(دوی ترډېره انسان د پېژندنې او شناخت د یوه شنونکي او تحلیل ګر په توګه پام کې نیسي. څرنګه چې سلوک پالنې هم شناختي مرحلو او زده کړه ایزو پېژندنو ته لېوالتیا درلوده او د فرد د تحلیل او تفکر پر ځواک به یې له محیطي محرکاتو سره د ارتباط په ترڅ کې ارزونه کوله. خو له دوی سره د پېژندنې یا شناخت پالنې د مکتب یو عمده توپیر دا دی، چې دوی ترهرڅه وړاندې په شناختي مسئلو باندې لاس ږدي او هغه د چلند او رفتار بنسټ ګڼي. په داسې حال کې چې سلوک پالنه پرچلند باندې د محیطي محرکاتو په اغېز ټنیګار کوي.) روانشناسي عمومي، حمزه گنجي، ۲۰مخ

له شناخت او پېژندنې څخه موخه هغه ذهني مراحل او مسایل دي، چې په ټوله معنا د زده کړو او تجربو په راخپلولو کې دخالت لري. د پېژند پالنې د پلویانو په اند، انسانان په رواني لحاظ له هغو شیانو څخه اغېزمن کېږي، چې دوی یې د ژوند په هره مرحله کې زده کوي او یا یې تجربه کوي. د دوی په نظر، د ژوندانه له بېلابېلو مسایلو څخه د خپلو زده کړو او رواني تجربو په رڼا کې حسي او ادراکي برداشتونه او اخیستنې د افرادو ذهني پانګه جوړوي او د وخت په تېرېدو سره یې رواني هویت ته لوری ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پېژندپالنې د مکتب اروا پوهان د ذهن په وسیله د تجربو جوړښت او د هغو د ترتیبولو او رهبري کولو موضوع ته زیات ارزښت ورکوي. د دوی په باور ذهن ټولو ادراکي او رواني تجربو ته بڼه او پیوستون ورکوي. موږ ځینې تجربې له پامه غورځوو او ځینې نورې خپلې فعالې حافظې ته د سپارلو لپاره ټاکو او په ټوله معنا د بهرنیو محرکاتو ځوابوونکي نه یو او نه هغه سپینې لوحې یو، چې یوازې حسي تجربې راباندې لیکل کوي.

د پېژندپالنې په څېړنو کې د شعور موضوع یوځل بیا خپل ځای ونیو او د عیني پدیدو پرځای د ذهني پدیدو د څېړلو یو نوی باب پرانیستل شو. ددغه مکتب اروا پوهانو څرګنده کړه، چې د انسان ذهن یو خارق العاده تفسیر کوونکی ماشین دی، چې د فرد لپاره یې خپلې لیدنې او کتنې نمونه اي کوي او د بهرنۍ نړۍ هغه تصویرونه ورته را ایجادوي، چې د فرد چلند او رفتار د هغو پر اساس ټاکل کېږي.

د دوی دغه ډول څرګندونې ددې لامل شوې چې وروسته اروا پوهان دې پایلې ته ورسېدل، چې «زموږ افکار، زموږ احساساتو ته بڼه ورکوي او موږ کولی شو، د خپلو احساساتو په بدلون سره د ژورخفګان او افسردګۍ کچه راټیټه کړو او یا خپل چال چلند او سلوک تر زیات کنټرول لاندې راولو. د پېژندپالنې دغې طریقې په رواني ستونزو د اخته کسانو د رواني درملنې لپاره هماغه ځای ونیو، لکه یو وخت چې د فروید د رواني تحلیل طریقه ورڅخه برخمنه وه.

د پېژندنې د اروا پوهنې په غېږه کې چې کوم بل څه راوزېږېدل، هغه د مثبتې اروا پوهنې منځته راتګ ؤ. مثبتې اروا پوهنې هڅه وکړه، چې د اروا پوهنې لوري ته بدلون ورکړي او د ذهني ستونزو د مطالعې پرځای د انسان د خوښۍ، خوشبینۍ او له ژوند سره د جوړجاړي د عواملو مطالعه د اروا پوهنې موضوع وګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول د پېژندنې د ارواپوهنې پلویان تر ۱۹۷۰م کال پورې زیات شول او د یوې لسیزې په اوږدو کې یې شپږ مجلې تاسیس کړې. د هغو مجلو نومونه په لاندې ډول دي:

- (**د پېژندنې ارواپوهنه**)، په ۱۹۷۰م کال کې
- (**شناخت یا پېژندنه**)، په ۱۹۷۱م کال کې
- (**حافظه او پېژندګلوي**)، په ۱۹۷۳م کال کې
- (**د ذهني تصویر مجله**)، په ۱۹۷۷م کال کې
- (**شناختي درملنه او څېړنه**)، په ۱۹۷۷م کال کې
- (**د پېژندنې علم**)، دا هم په ۱۹۷۷م کال کې

د څېړونکو په نظر، د پېژندپالنې مکتب د ارواپوهنې د نورو مکتبونو غوندې په یوځل او یو وخت ظهور ونه کړ. ددغه مکتب د زیاترو اړخونو وړاندوینه د نورو ارواپوهانو په کارونو کې شوې ده. له همدې امله دغه مکتب ته د ارواپوهنې په تاریخ کې د داسې نوي مکتب خطاب شوی، چې ریښې یې په زړو مکتبونو کې هم لیدل کېږي. د پېژندپالنې د مکتب د وړاندویونکو له ډلې **څخه** یو هم سویسی ارواپوهاند ***ژان پیاژه*** «۱۸۹۶م–۱۹۸۰م» دی. ژان پیاژه مخکې له دې چې په ارواپوهنه لاس پورې کړي، د طبیعي علومو استاد ؤ او زیات وخت یې د سویس د لویدیځې خوا په غرونو او غونډیو کې د حلزونونو په راټولولو او څېړلو تېر کړی ؤ.


ژان پیاژه

ده د خپلې دوکتورا تېزس هم د «والې» د غرونو د حلزونونو په اړه لیکلی ؤ. دده پلار د «نوشاتل» په پوهنتون کې د ادبیاتو استاد ؤ. ده د دوکتورا تراخیستو وروسته له ارواپوهنې سره مینه پیدا کړه او د ژوند تر پایه پورې یې نور په همدې برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار وکړ او د «ژینو»، «نوشاتل» او «سوربون» په پوهنتونونو کې یې استادي وکړې.


پیاژه خپلې زیاتې څېړنې د ماشوم د اروا پوهنې په څانګه کې ترسره کړې او څو مهم کتابونه یې لکه: «د ماشوم ژبه او فکر»، «له نړۍ څخه د ماشوم درک»، «په ماشومانو کې د هوښیارۍ ریښې»، «د ماشومانو اخلاقي قضاوتونه»، «شعور ته لاس رسی»، «پوهه او بیولوژي» او نور... ولیکل. څېړونکي وايي، د ژان پیاژه تحقیقاتو په ۱۹۴۰م کلونو کې په اروپا کې زیات اغېز درلود، خو په امریکا کې یې هغه مهال دومره شهرت او محبوبیت لاسته را نه وړ، ځکه په امریکا کې یې له «سلوک پالنې» سره همغږي نه درلوده، مګر تر ۱۹۶۰م کال وروسته یې په امریکا کې د پېژندنې پرنهضت اغېز زیات شو، تر دې چې دی «پیاژه» امریکا ته ورغوښتل شو او په ۱۹۶۹م کال کې ورته د امریکا د اروا پوهنې د انجمن له خوا د ممتازه علمي خدمت جایزه ورکړل شوه. په دې ډول ژان پیاژه لومړنی اروپایي اروا پوه ؤ، چې په امریکا کې ورته دغه جایزه ورکړل شوه.

لکه مخکې چې یادونه وشوه، د پېژندپالنې مکتب په یوځل منځته رانه غی. له همدې کبله د دغه مکتب د بنسټګر خطاب یوه کس ته نه دی شوی. خو څېړونکو دوه اروا پوهان په ګوته کړي، که څه هم په رسمي ډول د پېژندپالنې د مکتب بنسټګران نه شمېرل کېږي، مګر دا چې له هغو څخه یوه اروا پوه د دغه مفکورې د پراختیا لپاره یو څېړنیز نظام جوړ کړ او بل اروا پوه د دغې لارې د خدمت په موخه یو ستر کتاب خپور کړ. له همدې امله د دوی دواړو هڅې د پېژندنې د اروا پوهنې اصلي پایې وګڼل شوې. دغه اروا پوهان یو «*جورج میلر*» او بل «*اولریک نیسر*» ؤ.

❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library






**جورج میلر** چې په ۱۹۴۶م کال کې له هاروارد پوهنتون څخه د ارواپوهنې دوکتورا اخیستې وه. ده خپلې څېړنې د ژبې د ارواپوهنې په ساحه کې پیل کړې او په ۱۹۵۱م کال کې یې «د ژبې او اړیکو» په نوم کتاب خپور کړ. میلر په ۱۹۶۰م کال کې په هاروارد پوهنتون کې د انسان د ذهن د مطالعې لپاره یو څېړنیز مرکز تاسیس کړ. ده چې کله دغه مرکز جوړاوه، نو د هاروارد پوهنتون رئیس ته یې د څو خونو د ورسپارلو وړاندیز وکړ. د پوهنتون رئیس ورته هغه کور ورکړ، چې یو وخت پکې نامتو فیلسوف او ارواپوه «ویلیام جیمز» اوسېدو. میلر وروسته خپل دغه ځای ته د پېژندنې د مطالعاتو د مرکز نوم ورکړ. ده په دې هکله لیکلي:

(موږ د پېژندنې یا شناخت د کلمې په کارولو سره ځانونه له سلوک پالنې څخه جلا کول. موږ داسې څه غوښتل، چې رواني وي، مګر «رواني روان پوهنه» په وحشتناکه توګه تکراري خبره وه. «د سلیم عقل ارواپوهنې» په یو نه یو ډول د بشرپوهنې مفهوم ورکاوه او «عامه ارواپوهنې» بیا د وونټ اجتماعي ارواپوهنه د سړي سترګو ته دروله، په دې اساس موږ «پېژندنه» غوره کړله.) تاریخ روانشناسی نوین، ۵۴۷مخ

د میلر په دغه مرکز کې د ژبې، حافظې، ادراکو، مفهوم جوړونې، تفکر او تربیتي ارواپوهنې په باب کار وشو. له همدې امله میلر ته د امریکا د ارواپوهنې د انجمن له خوا د اوچتو علمي خدمتونو جایزه ورکړل شوه.

دوهم ارواپوه «***اولریک نیسر***» ؤ، چې په ۱۹۶۷م کال کې یې «د پېژندنې د ارواپوهنې» کتاب د پېژند پالنې مکتب ته نوی رنګ ورکړ. اولریک نیسر په ۱۹۲۸م کال د المان په «کیل» کې زیږېدلی ؤ. کله چې ۳ کلن شو، مور او پلار یې امریکا ته ولاړل او نور د ټول عمر لپاره هملته پاتې شول. نیسر د

(c) ketabton.com: The Digital Library




اولریک نیسر

هاروارډ په پوهنتون کې د فزیک په برخه کې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې، خو وروسته ددغه پوهنتون د ځوان استاد «جورج میلر» تر اغېز لاندې راغی او اروایپوهنه یې خپل هدف وګرځوله.

په همدې حوډ د «سوارتمور» پوهنتون ته ولاړ او د ګشتالت د اروایپوهنې د یوه غړي «ولفاګانګ کوهلر» تر لارښوونې لاندې یې د اروایپوهنې فوق لیسانس ترلاسه کړ. وروسته د دوکتورا د اخیستو لپاره د هاروارد پوهنتون ته راغی او په ۱۹۵۶م کال کې یې د اروایپوهنې ډاکتري واخیسته.

د پېژندنې داروایپوهنې په پرمختیایي بهیر کې تر «ژان پیاژه»، «جورج میلر» او «اولریک نیسر» وروسته یوشمېر نورو اروایپوهانو لکه «چامسکي»، «هربرټ سیمون»، «نیوول» او نورو هم کار کړی او دغه مکتب ته یې نړیوال نوم وربښلی دی.

❖❖❖

په لنډ ډول ویل شو، د اروایپوهنې په تاریخ کې دا او دې ته ورته هڅې وې، چې نن سبا دغه پوهنه یوه نړیواله مسئله ګرځېدلې ده. اوس په نړۍ کې په میلیونونو ټوکه کتابونه د اروایپوهنې په بېلابېلو څانګو کې خپرېږي. د نړۍ د ټولو هېوادونو په پوهنتونونو، تعلیمي مؤسسو او کالجونو کې اروایپوهنه تدریسېږي او د اروایپوهنې د څانګو اکثره متخصصین په روغتونونو، پوځي ادارو، تحقیقي مؤسسو، دولتي ادارو، تجارتي او صنعتي دفترونو، د مشورو په مرکزونو، د ماشومانو په روزنتونونو او نورو داسې ځایونو کې په کار بوخت دي.

اوسمهال اروایپوهنه په بېلابېلو څانګو وېشل شوې ده، چې شمېرې یې تر «۵۰» اوړي. موږ یې په لاندې ډول د ځینو مهمو څانګو نوم‌ونه اخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- حقوقي ارواپوهنه
- حیواني ارواپوهنه
- طبي ارواپوهنه
- اجتماعي ارواپوهنه
- فردي ارواپوهنه
- فیزیولوژیکي ارواپوهنه
- ژنېټیکي ارواپوهنه
- روزنیزه ارواپوهنه
- سوداګریزه ارواپوهنه
- نظامي ارواپوهنه
- بالیني یا کلینیکي ارواپوهنه
- صنعتي ارواپوهنه
- آزموینتي ارواپوهنه
- تعلیمي ارواپوهنه
- د ماشوم ارواپوهنه
- د شخصیت ارواپوهنه
- د فردي توپیرونو ارواپوهنه
- د ژبې ارواپوهنه
- تحلیلي ارواپوهنه
- جنایي ارواپوهنه
- د خلاقیت ارواپوهنه
- د استثنایي ماشومانو ارواپوهنه
- د پېژندنې ارواپوهنه
- سلوکي ارواپوهنه
- مثبته ارواپوهنه
- د بریا ارواپوهنه
- تکاملي ارواپوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library




- ❖ د کورنۍ ارواپوهنه
- ❖ د دین ارواپوهنه
- ❖ د بوډاګانو ارواپوهنه
- ❖ د ښځو ارواپوهنه
- ❖ د هنر ارواپوهنه
- ❖ د کار ارواپوهنه
- ❖ د خوب اروپوهنه
- ❖ د ودې او رشد اروپوهنه
- ❖ د سپورټ اروپوهنه
- ❖ تجربي اروپوهنه
- ❖ عمومي اروپوهنه
- ❖ د روغتیا اروپوهنه
- ❖ سیاسي اروپوهنه
- ❖ او نورې څانګې...

ددغه کتاب په راتلونکو پاڼو کې د هغو لسو اوچتو اروپوهانو ژوندلیکونه او د هغوی پرځینومهمو نظریاتو باندې لنډې خبرې راوړو، چې په تېرو پاڼو کې معرفي نه شول او غوره مو وګڼله، چې دا ترټولو نامتو اروپوهان په لږ څه تفصیل سره در وپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ویلهِلم وونټ



(د انسان د اعمالو شمېر ارواپوهنه نه ده، بلکې د روښانه شعور د محتویاتو شرحه د ارواپوهنې هدف او منظور دی.) **ویلهلم وونټ**

(د ورځني ژوند بېلابېلې تجربې، زموږ په ذهن کې بېلابېل ذهني حالتونه منځته راوړي.) **ویلهلم وونټ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویلهلم وونټ** «Wilhelm wundt» د اروا پوهنې په تاریخ کې تر ټولو اروا پوهانو مخکې ځای لري. نوموړی د اوسنۍ اروا پوهنې پلار بلل شوی. په بله وینا وونټ هغه عالم ؤ، چې د لومړي ځل لپاره يې د اروا پوهنې په نوم یوه نوې پوهنه د علومو نړۍ ته راوړاندې کړه.

وونټ نه یوازې په اروا پوهنه پوهېده، بلکې د پوهنتون یو نامتو استاد، وینا وال او د زیاتو کتابونو لیکوال ؤ. ده د خپل ژوند په اوږدو کې «**۵۴۰۰۰**» مخونه لیکنې کړې دي.

څېړونکي وايي، څرنګه چې اروا پوهنه په لومړي سر کې له دوو علمي څانګو «فیزیولوژۍ او فلسفې» څخه سرچینه اخلي، نو ویلهلم وونټ په لومړي ځل نړۍ ته وښوده، چې اروا پوهنه دفلسفې په پرتله زیاته تجربي ده او د فیزیولوژۍ په پرتله زیاته پر ذهن او ذهني مسایلو تکیه کوي، نو په دې توګه باید د یوه ځانګړي علم په توګه راوړاندې شي.

وونټ خپلې دغې مفکورې ته د واقعیت ورکولو په موخه په **۱۸۷۹**م کال د «لایپزیک» په پوهنتون کې د نوي لابراتوار په لرلو سره د اروا پوهنې یوه تجریبوي مؤسسه تاسیس کړه، ده په دغه مؤسسه کې یو شمېر لایق محصلین او څېړونکي پرځان راټول کړل او په همدغه کال او له همدغه ځایه يې اروا پوهنې ته د یوه مستقل علم په توګه رسمیت ورکړ.

اوسمهال په اروا پوهنه کې د ویلهلم وونټ کار او فکري لارې ته د جوړښتي یا ساختماني مکتب نوم ورکول کېږي، چې په اروا پوهنه کې له نورو اروا پوهنیزو مکتبونو لکه سلوک، روان شننې، انسان پالنې او ګشتالت سره یو ځای زموږ مخې ته درېږي.

❖ ❖ ❖

ویلهلم وونټ په **۱۸۳۲**م کال د المان د «مانهایم» په کوچیني ښارګوټي کې زیږېدلی دی. پلار يې یو مذهبي او روحاني شخص ؤ. د وونټ مشر ورور له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې کورنۍ څخه لرې په یوه ښوونځي کې زده کړه کوله؛ له همدې امله به وونټ په خپله کورنۍ کې یوازې ؤ او له نورو ماشومانو سره یې چندان ناسته ولاړه نه درلوده. کله چې یې د ښوونځي لاره ونیوله، هلته هم د یوه غلي او ګوښه ګیر ماشوم په څېره کې څرګند شو، په ازموینو کې به یې کمزورې نمرې وړې، زیاتره وخت به له خپله ځانه سره په فکر کې ډوب ؤ او په راتلونکي کې د یوه مشهورلیکوال جوړېدلو هیلې به یې په زړه کې راګرځېدلې.

د وونټ کورنۍ ان له نیکونو او اجدادو راپه دې خوا لوستې پاتې شوې وه، له همدې کبله د دوی د کورنۍ هرغړی په زده کړه او تعلیم کې کم ساری ؤ؛ خو په وړوکي وونټ کې د زده کړې او مطالعې چندان څرک نه لیدل کېده، له نورو زده کوونکو به ګوښه ګرځېده، لوست ته به هم شا نه تېتېده او ښوونکي به ورسره په لانجه کې وو. خو له څو کلونو وروسته، کرارکرار د خپل حالت په بدلون کې شو، په خپلو خیالونو یې لاسبري پیدا کړه، مګر بیاهم له ښوونځي څخه بېزاره ؤ؛ کله چې څو نورکلونه تېرشول، د وونټ په وجود کې یوپټ استعداد په څپو شو او د ښوونځي د ممتازو زده کوونکو په لېست کې یې نوم راغی.

وونټ دا مهال پرېکړه وکړه، چې خپلې لوړې زده کړې د طب په برخه کې ترسره کړي. همغه وو، چې د «توبینګن» او «هایدلبرګ» پوهنتونونه یې د فزیک، کیمیا، فیزیولوژۍ او رنځپوهنې په زده کړې پسې را پل کړل. په پایله کې د فیزیولوژۍ په څانګه کې ورنه فارغ شو او وروسته یې پر همدغه رشته کې د هایدلبرګ له پوهنتون څخه د دوکتورا سند ترلاسه کړ.

وونټ په ۱۸۶۷م کال چې عمر یې د **۲۵** کالو په شاوخوا کې ؤ، د هایدلبرګ پوهنتون د ځوان استاد په توګه وټاکل شو. نوموړی کلونه کلونه په دغه پوهنتون کې د فیزیولوژۍ په تدریس او څېړنه بوخت ؤ، چې وروسته همدغو هلوځلو دده په ذهن کې د اروا پوهنې مفهوم ورکړ. ده څو کاله د حسي ادراکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه ښېړنه وکړه او وروسته یې په خپل کورکې یونیمګړی ازمویښتون جوړ کړ.

وونټ تردې یوکال وروسته د انسانانو او حیواناتو د ذهن په اړه خپلې ویناوې د یوه کتاب په بڼه خپرې کړې. په دغه کتاب کې یې وروسته بیابیا سمونې او زیاتونې وکړې او یو خورا مهم اثر ورنه جوړ شو، چې همغه مهال له الماني څخه په انګلیسي ژبه وژباړل شو او ګڼ شمېر لوستونکي یې پیدا کړل.

وونټ د خپلې استادۍ په پیل کې د فیزیولوژیکې ارواپوهنې درس پیل کړ، چې دا په نړۍ کې لومړی درس ؤ، چې د داسې موضوع په اړه په رسمي توګه ورکول کېده. وونټ د خپلو لیکچرونو په لړ کې یو بل کتاب « د فیزیولوژیکې ارواپوهنې اصول» په نوم ولیکه. دغه کتاب یې د ۳۷کلو په اوږدو کې له ۶ ځلو سمونو او زیاتونو وروسته په یوه داسې اثر بدل کړ، چې پرته له شکه یې د نوې ارواپوهنې بنسټونه ورباندې پاخه کړل.

د څېړونکو له نظره ویلهلم وونټ د خپل ژوند تر ټولو مهمه دوره له ۱۸۷۵م کاله راپیل کړه. دا هغه وخت ؤ، چې نوموړی پکې د «لایپزیک» د پوهنتون استاد وټاکل شو او ۴۵ کاله یې په دغه پوهنتون کې خورا مهم کارونه ترسره کړل.

نوموړی په ۱۸۷۹م کال په دې وتوانېد، چې په یاد پوهنتون کې د ارواپوهنې لومړنی ازمویښتون«لابراتوار» جوړ کړي او ارواپوهنې ته د نورو علومو په څنګ کې د یوه خپلواک علم په توګه رسمیت ورکړي. وونټ تردې وروسته د روان پېژندنې د مطالعاتو په نوم یوه مجله هم راوایستله. دغه کارونو وونټ شهرت ته ورساوه او زیات شمېر محصلین د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو لکه روسیه، جاپان، ایټالیا، انګلستان او نورو څخه د لایپزیک پوهنتون ته راغلل او دلته یې د وونټ له ازمویښتون، کتابونو او لکچرونو څخه ددغه نوي علم «ارواپوهنې» په باب ډېر څه زده کړل. دغه زده کوونکي چې کله خپلو هېوادونو ته ستانه شول، هلته هغوی په خپل وار سره ارواپوهنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کار پيل کړ. هغوی د ويلهلم وونټ زياتره کتابونه او مقالې په روسي، انګليسي، جاپاني او نورو ژبو وژباړل او د توکيو، مسکو او امريکا په پوهنتونونو کې يې د وونټ د لابراتوار په څېر لابراتوارونه جوړ کړل. دا او دې ته ورته لاروچارو د ويلهلم وونټ د شهرت او محبوبيت اوازه په نړۍ خپره کړه.

ده به چې کله د لايپزيک په پوهنتون کې ويناکوله، نو په همغه ټولګي کې به ورته تر ۶۰۰ زيات کسان کېناستل. وونټ نه يوازې د يوه عالم په توګه خلکو ته د درناوي وړ ؤ، بلکې په خپل شخصي ژوند او ټولنيزو روابطو کې هم يو آرام او کمينه انسان ؤ. د سهار له خوا به يې په يوه مقاله او يا کوم کتاب باندې کار کاوه. بيا به يې د محصلينو څېړنيز راپورونه کتل او يا به يې مجله ترتيبوله. ترهغې وروسته به خپل ازمويښتون ته ورتلو، هلته به يې کار کاوه، ماسپښين مهال به تر ډوډۍ خوړو وروسته د باندې راوتو، قدم به يې واهه او د مازيګرنۍ وينا لپاره به يې تياري نيوه. په دې ډول وونټ هغه زيات کاره انسان ؤ، چې د مرګ ترمهاله يې له کاره لاس وانه خيست. زيات کتابونه يې وليکل او بې شمېره شاګردان يې وروزل... په پای کې دغه نامتو اروا پوهاند د بل هر انسان په شان د ۸۸ کلو په عمر په ۱۹۲۰م کال له دې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې.

❖ ❖ ❖

وونټ په ټوليز ډول اروا پوهنه د شعور علم بلله. ده ترهرڅه وړاندې احساس ترڅېړنې لاندې ونيو او د شعور اصلي عنصر يې وباله. ده احساسات پر دوو برخو ووېشل. لومړی هغه احساسات، چې زموږ له بدن څخه بهر راځي؛ يعنې سرچينه يې زموږ له بدن څخه د باندې ده. دوهم ډول يې هغه احساسات وګڼل، چې تصور کوو، زموږ په بدن پورې تړلي او منبع يې زموږ په وجود کې ده. وونټ لومړۍ ډله چې بيروني احساسات ورته وايي، له حواسو سره تړلي ګڼي او د لومړنيو حسي تجربو بڼه يې بولي. دی وايي، هرکله چې کوم حسي غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحريک شي، احساس منځته راوړي او ترمغزو پورې يې اثرات غځونې کوي.

د وونټ په نظر د بيرونيو احساساتو او ذهني تصويرونو ترمنځ کوم بنيادي توپير نشته. دا ځکه چې ذهني تصاوير هم په مغزي تحرکاتو پورې تړاو لري او دوهمه ډله يا باطني احساسات بيا د وونټ په اند: «د بيرونيو احساساتو ذهني بشپړتياوې دي. په دې معنا چې نننې يا باطني احساسات په مستقيمه توګه له حسي غړو څخه سرچينه نه اخلي، بلکې بيروني احساسات د باطني احساساتو له بېلابېلو حالاتو سره ترکيب مومي او يو څه پېچلې حالت منځته راوړي، چې په دغه بهير کې د باطني احساساتو کيفيت حاصلېږي.»

وونټ له دې اړخه باور درلود، چې د انسان په وجود کې ټول هيجانات په واقعيت کې د بيرونيو ابتدايي احساساتو پېچلې ترکيبونه دي.

وونټ يو مهال د خپلو څېړنو په ترڅ کې وويل:

«د اروا پوهنې کار، د هغه شي په باره کې څېړنه او پلټنه ده، چې موږ هغه ته باطني او نفسي تجربه وايو. له باطني تجربې څخه مقصد هماغه حس، د فکرجريان، اراده او تصميم دی، چې د خارجي تجربې په مقابل کې قرار لري.»

وونټ له لويه سره د هغو تجربه پلوو فيلسوفانو تر اغېز لاندې ؤ، چې د انسان ټول معلومات يې د هغوی له تجربو څخه رامشتق ګڼل. ده د خپل نوي علم موضوع «بې واسطې تجربه» يا د ذهن د محتوياتو مشاهده معرفي کړه او هغه يې د «باواسطې تجربې» پر وړاندې ودروله، چې ديوه شي په اړه معلومات که هغه شی نه وي هم، نو ورڅخه ترلاسه شوي معلومات يې زموږ تجربه جوړوي. دده په نظر، تجربه په اصل کې هماغه ذهني تصوير دی، چې له بهرني محيط څخه د حواسو په مرسته ذهن ته راځي او په مجموع کې د انسان ذهنيت ورڅخه جوړېږي. مثلاً که چېرې يوه ګل ته وګورو. نو دلته زموږ بې واسطه تجربه همغه احساسونه دي، چې له ګل څخه زموږ پر ذهن راپاتې شوي دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختلفو تصوراتو په بڼه چې په رنګ، ښکلا، شکل او تازګۍ پورې اړوند دي خپل ځان راښيي.

د وونټ په نظر، بې واسطه تجربه، د تجربه کوونکي له هر ډول تعبير او تفسير څخه تشه وي. وونټ احساس د تجربې يو له اصلي شکل څخه ګڼي او وايي: «د حسي غړي تحريک او ټکاني اتصال په مغز کې حاصل ورکوي. د ليدلو، بويولو، اورېدلو، لمس کولو او خوند معلومولو احساسونه د نوعيت او دوام له مخې ډلبندي کولی شو، خو د احساس او ذهني تصوير ترمنځ کوم بنيادي توپير نه شو موندلی... عواطف د تجربې يو بل شکل دی. احساسونه او عواطف په همزمانه ډول بې واسطه تجربې دي... احساسونه له يو شمېر عاطفي خصوصياتو سره ملګري وي، کله چې احساسونه د يوه پېچلي احساس د تشکيل لپاره سره يوځای کېږي، معمولاً عاطفي خصوصيت ورڅخه منځته راځي... او هيجانات بيا د ابتدايي عواطفو پېچلي ترکيبونه دي، چې دا ټول ذهني محتويات بلل کېږي.»

وونټ وايي، کله چې واقعي نړۍ ته ګورو، د ادراکو وحدت او يووالی مو د سترګو پر وړاندې مجسم کېږي. مثلاً موږ ښايي يوه ونه د يوه واحد په توګه ووينو، مګر هغه بېلابېل احساسونه نه وينو، چې د ونې د رنګ، اندازې او شکل څخه زموږ په باطني تجربو کې ځان راښيي. ليدنۍ تجربه، ونه د يوه واحد په توګه په بر کې نيسي، نه د هغو بېلابېلو ابتدايي احساسونو او عواطفو په توګه چې ونه جوړوي.

❖ ❖ ❖

ويلهلم وونټ د شعور او فيزيولوژيکې اروا پوهنې له مطالعاتو وروسته د فلسفې، تاريخ او ټولنپوهنې په برخو کې مطالعه پيل کړه. دغې مطالعې نوموړي ته د فرهنګي اروا پوهنې سوژه ورکړه. ده د انسان د ذهني حالاتو د تحول او تکامل بهير د بېلابېلو ټولنو، په تاريخي جرياناتو، افسانو، هنرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عنعنوي ارزښتونو کې ترکتنې او څېړنې لاندې ونیوو او پـه دې توګه یې د فرهنګي اروا پوهنې په طرح کار پیل کړ.

ده پوره لس کاله په دغه موضوع کې خواري وکړه او د لسو ټوکونو په اندازه کتاب یې پکې چمتو او خپور کړ؛ خو د څېړونکو په نظر د فرهنګي اروا پوهنې په نوم د وونټ دغه لوی کار پـه اروا پـوهنې دومره اغېز ونکړ، لکه دده نورو کتابونو چې وکړ.


په ځانګړې توګه په امریکا کې د اروا پوهنې په روان بهیر د وونټ د فرهنګي اروا پوهنې اغېز کم ؤ. د یوې څېړنې له مخې هغه مجله چې ۹۰ کاله په امریکا کې د اروا پوهنې په نوم خپرېده، د وونټ له فرهنګي اروا پوهنې څخه پکې یوازې ۴۰٪ سلنه نقل قولونه یا اخځونه اخیستل شوي وو. خو د هغه له نورو کتابونو په ځانګړي ډول د هغه د «فیزیولوژیکې اروا پوهنې له اصولو» څخه ۶۱٪ سلنه نقل قولونه ترسره شوي وو.

په هرحال ویلهلم وونټ چې کوم اغېز د اروا پوهنې د پیدا ښت او پا یښت په بهیر کړی، هغه بل اروا پوهاند نه دی کړی. ده چې کوم شاګردان د لایپزیک په پوهنتون کې وروزل، له هغوی څخه په خپل وار د اروا پوهنې د تاریخ لوېې څېرې جوړې شوې. د ساري په توګه دده په شاګردانو کې، ټیچنر، سټانلي هال، کېټل، ویتمر، فرانک آنجل، کراپلین، سټراټون او سکرپچر هغه څوک وو، چې تر وونټ وروسته یې اروا پوهنې ته زیات څه وربښلي دي او د وونت دغه بنې یې رېژبدلو ته نه دی پرېښودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ویلیام جیمز



(د اعصابو په سلسله باندې د تجربې اغېز د عادت بنسټ جوړوي او هره تجربه د انسان سلوک ته بدلون ورکوي او د وروستي چلند لاره اسانه کوي.) **ویلیام‌جیمز**

(شعور فردي جنبه لري او هر فکر د فردي شعور جز دی.) **ویلیام‌جیمز**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویلیام جیمز**«William James» د امریکا ترټولوفیلسوفانو لوی فیلسوف ګڼل کېږي. د نوموړي هلې ځلې نه یوازې پرفلسفه باندې څرخي، بلکې د اروا پوهنې په برخه کې یې هم دومره څه کړي، چې نن سبا د «ویلهلم وونټ» ترڅنګ دده نوم هم د نوي اروا پوهنې د بنسټګرانو په ډله کې اخیستل کېږي. ده هغه مهال چې په نړۍ کې یوڅو ګوته په شمار اروا پوهان میدان ته راوتلي وو، په دوو ټوکونو کې یو لوی کتاب چې «د اروا پوهنې اصول» نومېده ولیکه. جیمز که څه هم د یوه فیلسوف په توګه زیات ستایل کېږي او په فلسفه کې یې زیات شمېر اثار لکه، پراګماتېزم، د عقل اصالت، د حقیقت معنا، اراده او ایمان او نور لیکلي، خو د هغه د اروا پوهنې د اصولو کتاب او په امریکا کې د لومړي ځل لپاره دده په لاس د اروا پوهنې د ازموینښتون تاسیس، هغه څه دي چې نوموړی یې د اروا پوهنې په تاریخ کې د مطالعې وړ شخصیت وګرځاوه.

موږ دلته د جیمز پر فلسفه باندې نه غږېږو، بلکې پرهغو ټکو نظر اچوو، چې د جیمز او اروا پوهنې ترمنځ د تړاو لامل شوي دي.

❖❖❖

پروفیسور ویلیام جیمز په ۱۸۴۲م کال د نیویارک ښار په یوه بډایه کورنۍ کې نړۍ ته راغی. دی د پلار په پنځو اولادونو«یوه لور او دریو زامنو» کې مشر زوی ؤ. د جیمز په دغه دریو نورو وروڼو کې ترټولو کشر «هنري جیمز» نومېده، چې وروسته ورڅخه لوی لیکوال جوړ شو.

د جیمز کورنۍ د خپلې سیمې یوه له سوکالو کورنیو څخه وه، پلار یې هڅه کوله، چې ټول زامن یې په لوړه کچه زده کړې وکړي، هغه فکر کاوه، چې هر یو زوی یې مخکې له دې چې د معاش د لاسته راوړلو په فکر کې شي، باید ټوله پاملرنه زده کړې ته واړوي. د جیمز پلار له مسافرت سره لېونۍ مینه درلوده؛ لندن، پاریس، بردو، ژینو او بن ته یې سفرونه کول او د مختلفو فرهنګونو او ژبو له وګړو سره پېژند ګلوي درلوده. ښایي همدغه د پلار نه ورپاتې علاقه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، چې وروسته جیمز هم د اروپا ټولو مهمو ښارونو ته سفرونه وکړل او له بېلابېلو ژبو او ټولنو سره اشنا شو. جیمز څه مهال د امریکا په خصوصي ښوونځیو کې درس ولوست. خو په **۱۸۵۵**م کال کې یې کورنۍ اروپا ته مهاجره شوه او جیمز د فرانسې، انګلستان، المان او سویس په علمي مرکزونو او کالجونو کې خپلې زده کړې پرمخ بوتلې.

جیمز ۱۸ کلن ؤ، چې بېرته امریکا ته راغی او نور وروڼه یې هملته پاتې شول. ده په امریکا کې له ځانه سره پرېکړه وکړه، چې نورې زده کړې باید د نقاشۍ په څانګه کې وکړي او یو اوچت نقاش ورڅخه جوړ شي. یو کال او څو میاشتې د مشهور نقاش «موریس هانټ» ترښوونې لاندې د نقاشۍ په چارو بوخت شو. خو د کار په لړ کې په دې پوه شو، چې په ځان کې د نقاشۍ استعداد نه لري.

په دې توګه ولاړ او د «هاروارد» پوهنتون کې یې لومړی د کیمیا او وروسته د طب په څانګه کې زده کړه پیل کړه. دغه مهال له کورنۍ څخه د لرې والي او په نقاشۍ کې د ماتې له مله، له سخت خفګان او رواني فشار سره مخ شو. دغه روان رنځوري په ده کې ترډېره پاتې شوه.

ده په **۱۸۶۸**م کال له یاد پوهنتون څخه د طب په څانګه کې د دوکتورا سند ترلاسه کړ، خو د هغه رواني مړاویتوب او غمګینۍ ترپخوا لازیاته شوه، له ناځرګندو وېرو سره لاس او ګرېوان ؤ، د شپې مهال به یې نه شوی کولی، چې یوازې د باندې ووځي؛ څوځله یې د ځان وژنې پرېکړه وکړه، خو مقرره نه وه. په همدغه وختونو کې نوموړي ته د یوه فیلسوف «چارلز» یوه مقاله چې د ارادې د خپلواکۍ په اړه لیکل شوې وه لاسته ورغله.

دغه مقاله یې څوځله ولوستله، خپلې ارادې یې پکې انځور کړې او تریوه بریده یې له وېرې او زړه تنګۍ ځان وژغوره. له دې وروسته جیمز له فلسفې سره زړه وتاړه او په لنډ وخت کې یې د نړۍ د زیاتو فیلسوفانو اثار ولوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جيمز لکه څنګه چې د هاروارډ له پوهنتون څخه په اوچتو نمرو وتلی ؤ، نو له فراغت څخه درې کاله وروسته په ۱۸۷۲م کال کې چې عمر يې ۳۰کالو ته رسېده، د هماغه پوهنتون د ادارې له خوا ورته د فيزيولوژۍ په برخه کې د استادۍ وړانديز وشو. جيمز دا وړانديز ومانه، په کار يې پيل وکړ، خو ترڅنګ به يې خپل زيات وخت د فلسفي او روان پوهنيزو اثارو په مطالعه تېرواوه.

جيمز په دغه وختونو کې د اوچت اروا پوهاند «ويلهلم وونټ» اثارو ته هم لاس رسی پيدا کړ، هغه يې مطالعه کړل او څو کاله وروسته يې پخپله له ويلهلم وونټ سره ليدنه کتنه وشوه. جيمز له وونټ سره د دغې ليدنې په اړه ليکلي: «د وونټ غوړېدلي تندي، خوشاله څېرې او نرم او مهربانه غږ، په ما باندې ډېره عجيبه اغېزه وکړه...» له اروا پوهانو او د هغوی له اثارو سره د جيمز اړيکې، ددې لامل شوې، چې په ۱۸۷۵م کال کې يې په هاروارډ پوهنتون کې د اروا پوهنې درسونه را پيل کړل او د لومړي ځل لپاره يې په امريکا کې د تجربي اروا پوهنې ازموينتون جوړ کړ.

د نوموړي د اروا پوهنې د اصولو کتاب چې په ۱۴۰۰مخونو کې ليکل شوی، په حقيقت کې د همدغو هلوځلو ثمره ده. دغه کتاب له خپرېدو سره سم زيات بحثونه راوپارول، ځينو څېړونکو وستايه او ځينو وربانديې نيوکې وکړې. حتیٰ «ويلهلم وونټ» ددغه کتاب د اصلي موضوع په اړه شک څرګند کړ، وونټ وويل: «دا کتاب ادبيات دي، هغه هم ډېر ښکلي، خو اروا پوهنه نه ده!»

❖❖❖

اوسني څېړونکي وايي، د اروا پوهنې په برخه کې ويليام جيمز په نظرياتي لحاظ ښکلي او تيوريک بحثونه کړي دي، خو څرنګه چې نوموړی کوم ازموينتګر نه ؤ، نو دغه لړۍ يې ژوند ترپايه پورې ونه شوی غځولی. په خپله جيمز هم د ځان په اړه ويلي وو: «زه د فکرکولو او نظري کارونو لپاره جوړ شوی يم، نه د عملي چارو او فعال ژوند لپاره!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیمز د خپل ژوند یوه برخه ارواپوهنې ته وقف کړې وه. خو کله چې د نوموړي د «ارواپوهنې اصول» کتاب له نیوکو سره مخ شو، جیمز له دغې شېبې وروسته ارواپوهنې ته شا کړه او نوره یې فلسفه خپل هدف وګرځوه. دده د «پرینسټون» په پوهنتون کې ترخپلې ویناګانو مخکې غوښتنه وکړه، چې نور دې د روان پوه په توګه معرفي نه شي.

په هرحال له دې سره سره چې په خپله جیمز هم د ژوند په وروستیو کې له ارواپوهنې څخه مخ واړاوه، خو دده مخکني کارونه د ارواپوهنې په نړۍ کې بې اغېزې نه وو. په دې سبب اوسمهال د ویلیام جیمز له نامه سره د فیلسوف او ارواپوه دواړه ستاینومونه لیکل کېږي. دده فلسفه هم په ځینو ټکیو کې ارواپوهنې ته ورته کېږي، ده به ویل: «فلسفې ماته دا را زده کړل، چې تر ډېره بریده په خپله کورنۍ کې د آرامتیا احساس وکړم.» ده په دې ډول له خپلو زیاتره فلسفي نظریاتو سره ارواپوهنیز ټکي غاړه غړۍ کړي، نوموړی په خپلو فلسفي لیکنو کې یو ځای لیکي: «موږ ټول د توان یوه داسې زېرمه لرو، چې هېڅکله مو په کار نه ده اچولې. له دې سرشارې سرچینې څخه ګټه پورته کړه، چې له خپل هغه ځواک څخه چې د ستونزو د هوارې لپاره یې لرې حیران شې. په خپلو پښو باور ولره او له هر خطر سره مقابله وکړه... ژوند د مبارزې ډګر وګڼه او د ځان د پریشانۍ او د نړۍ د ناولتیا او بدرنګیو پرضد پاڅون وکړه...»

د جیمز په اند «ارواپوهنه د انسان د رواني ژوند علم دی.»

جیمز د انسان احساسات، ادراکات، عادتونه، هیلې، ناهیلۍ، خفګانونه، خوشالۍ او نورې داسې مسئلې د ارواپوهنې د بحث وړ موضوعات ګڼي. دده په نظر: «د انسان ځان خبره ذهن یا شعور په ټوټه، ټوټه شکل نه دی. د هغو د معرفۍ لپاره د ځنځیر د کړیو مثال ورکول، موږ ته سمه توضیح نه شي راکولی، بلکې هغه د یوه جریان بڼه لري او د یوه سیند او چینې مثال ورکول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي د ځان خبره ذهن مفهوم راکړي. چې مورډ د ځان خبره ذهن دغه جريان ته د ذهني ژوند نوم ورکولی شو.»

جيمز د دغه مفهوم د لا وضاحت لپاره ليکي: « د انسان په شعوري جريان کې کومې ځانګړې وقفې نه رامنځته کېږي...انساني ذهن په ويښ بهير کې انتخاب کوي او ديوه انتخابګر رول لري. ذهن په خپل شعوري فعاليت کې د هغو زياتو محرکاتو له منځه انتخاب کوي، چې دی ورسره مخامخ وي. په دغه ګڼو محرکاتو کې ځينې ځنډې ته وباسي، ځينې له ځينو نورو سره ترکيبوي او ځينې چې ورته مناسب ښکاري، هغه انتخابوي او هڅه کوي له هغو سره منطقي چلند وکړي، ترڅو يوه معقوله نتيجه لاس ته راوړي.»

جيمز د انسان فکر او فکري پروسه هم د يوې روانې ويالې په شان ګڼي او ليکي: «له يوې موضوع څخه بلې موضوع ته د يوه فکر تلل او راتلل، د کومې وقفې د رامنځته کېدو په معنا نه دي، بلکې دغه تېرېدنه هم يو له بل سره اړيکې لري او داسې دي، لکه په يوه زينه کې چې بېلابېلو پلو ته ګامونه اخلې، خو له اصله ټوله يوه زينه ده او ټول يو فکري جريان بلل کېږي.»

جيمز د انسان ادراکات درې ډوله بولي: لومړی، هغه ادراک چې بشر يې د ظاهري حواسو په واسطه حاصلوي. دوهم، هغه ادراک چې بشر يې د باطني حواسو او عقل په ذريعه حاصلوي او دريم، هغه هغه ډول ادراک دي، چې ښايي انسانان يا ځينې انسانان يې ولري، چې تر باطني او عقلي ادراکو څخه هم ډېر باطني او داخلي دي. جيمز دغو ادراکاتو ته د ديني ادراکو نوم ورکوي.

جيمز په خپلو اروايپوهنيزو څرګندونو کې يو ځای د يوه انسان د فردي او اجتماعي نړۍ خبره را اخلي او څرګندوي: «هر فرد د يوه دېوال په واسطه چې جمجمه يا د سر کوپړۍ نومېږي له نورو افرادو څخه جلا کېږي.» جيمز د انسان تر دغه حريم ورهاخوا يوه بل حريم ته هم اشاره کوي او وايي:

«ديوه انسان نړۍ پردوو برخو وېشله کېږي. نيمه د انسان فردي نړۍ ده، چې يوازې په ده پورې مربوطه ده او نيمه بله هغه نړۍ ده، چې په نورو پورې اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري... زموږ زیاتره علایق او منافع په هغه نیمه نړۍ پورې ځان نښلوي، چې یوازې په موږ پورې اړوند پرې.»

جیمز د انسان شعور د هغه د باطني او رواني نړۍ یومهم توکی شمېري، لکه چې وایي: «د شعور رول دا دی، چې موږ د هغه هدف په لوري رهبري کوي، چې د ژوند د دوام لپاره ضروري دی؛ یا په بل عبارت شعور د انسان پېچلې اړتیاوې د هغه له پېچلي محیط سره اشنا کوي.»

د جیمز په اند: «د انسان عقلاني بهیر د هغه د بدن له فیزیولوژیکي تاثیراتو لاندې عمل کوي.» په دې توګه نوموړی د انسان د شخصیت ځرنګوالی د هغه د تمایلاتو تابع بولي او د تمایلاتو نیمګړتیاوې یې د هغه دبشپړ تابه لپاره نه جبرانېدونکی ګواښ ګڼي. دی په دې هکله وایي:

«د انسان غوښتنې او اړتیاوې، د هغه د شخصیت په تشکیل کې لوی لاس لري. له دې مخې انسانان په بشپړه توګه معقول مخلوقات نه دي، ځکه چې د هغوی ټولې غوښتنې معقولې نه دي.»

د جیمز په اثر «د اروا پوهنې اصول» کې یو څپرکی د عادت په باب راغلی دی. ده په دغه بحث کې ټول ژوندي موجودات د عادت تابع بللي او زیاته کړې یې ده: «کله چې موږ ژوندیو موجوداتو ته له باندې څخه ګورو، لومړنی شی چې زموږ پاملرنه ور اړوي، دا ده، چې هغوی ټول په عادتونو کې راګیر دي.» جیمز د عصبي سیستم دفیزیولوژۍ په اړه د څېړنو په لړ کې دې پایلې ته رسېدلی ؤ، چې د عادت د قیقې معنا لپاره یې « د عصبي مرکزونو خروجي محصول» عبارت غوره کړ.

دده په اند: « عادت له لویه سره هغه څه دی، چې موږ ټول د ځینو چلندونو تکرارولو او یا د هغو اطاعت کولو ته رابولي.» د جیمز په باور ، د ټولو حیواناتو سلوک او رفتار د عادت له مخې دی، د حیواناتو عادات محدود او ساده وي، خو دا چې د انسان غوښتنې، هیلې او ذهني ظرفیت لوی او پېچلی دی، نو عادتونه یې هم په همدې ډول دي. جمیز په انسانانو کې د عادتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلون او يا د نويو عادتونو راخپلول ممکن ګڼي. دی وايي: «که چېرې وغواړو، چې نويو پايلو ته دې ورسېږو، بايد په ځان باخبره ډول د ځان لپاره نوي عادتونه وټاکو. دلته ستونزدا ده، چې د نويو عادتونو د جوړولو او پاللو لپاره بايد زحمت وايستل شي...د ښو عادتونو د پلي کولو کيلي دا کېدای شي؛ کومې پرېکړې چې کوئ، هغو ته د واقعيت ورکولو لپاره په قاطع ډول عمل کوئ. په عمل لاس پورې کول او يا خپل ذهني چلند، په عملي چلند اړول، زموږ د عصبي سيستم هغه برخه فعالوي، چې معمولاً هيله او آرزو په عادت بدلوي. مغز بايد زموږ د هيلو او ارزوګانو مطابق وده وکړي او د عمل له تکرار پرته په مغزو کې کوم ځانګړی مسير نه ايجادېږي.»

جيمز په خپل اثر کې يوه بله نوې موضوع راسپړي، دغه موضوع د نظرياتو او احساساتو د بدلون مسئله ده، چې په هکله يې ليکي:

«هر وخت نه شي کېدلی، چې يوفکر له يوځل څخه زيات په سر کې ولرو. ښايي حيران شو، چې يو فکر دقيقاً هماغسې چې په لومړي ځل مو په ذهن کې تېر شوی ؤ، بيا راغی. مګر دغه واقعيت په داسې يوه نړۍ کې چې په دايمي ډول د بدلون په حال کې ده او زموږ غبرګونونه هم ورسره بدلېږي، ناممکن دی.» د جيمز مطلب دا دی، چې فکر کټ مټ د لومړني حالت غوندې د يوه انسان په ذهن کې بيابيا نه راګرځي او که راوګرځي هم، نو په يوشمېر جزياتو کې به يې خامخا توپير وي. دی وايي:

«زياتره وخت موږ د يوې موضوع په اړه د خپل نظر له بدلون څخه تعجب کوو. د ساري په ډول که د يوه شي يا يوې موضوع په باب يوه مياشت مخکې په يو نظر وو، خو اوس ورته په بل نظر ګورو او په علت يې هم نه پوهېږو. کال پر کال د ژوندانه د بېلابېلو مسايلو په هکله زموږ نظريات بدلېږي او دا هېڅ کومه ستونزه نه ده، ځکه دغه حالت د حرکت نښه ده او موږ له همدې امله انسانان بلل کېږو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library




جيمز د احساساتو بدلون هم همدغه ډول ګڼي: «زموږ احساسات په خوب يا ويښه، په لوږه يا تنده، په ستړيا يا دمه جوړې، په شپه يا ورځ، په اوړي يا ژمي او تر ټولو مهم په ماشومتوب، ځوانۍ او زړېودۍ کې متفاوته بڼه لري. زموږ د ادراکو بدلونونه هم په ځانګړې توګه د عاطفې له مخې د عمر په بېلابېلو مرحلو کې توپير کوي... د مثال په ډول کوم څه چې يومهال زموږ لپاره جالب او هيجان پاروونکي وي، بل وخت راته زاړه، ستړي کوونکي او بې حاصله شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاولــوف



(شرطي غبرگونونونه د ورځني ژوند نه شلېدونکې برخې دي. موږ دغه عکس العملونه او غبرگونونه په خپل ځان او نورو کې په بېلابېلو نومونو لکه د زده کړې، عادت، ښوونې او روزنې په بڼو پېژنو، خو په واقعیت کې دا په یوه ژوندي موجود کې د عصبي اتصالونو د رامنځته کېدو له پایلو پرته بل څه نه دي.) **پاولوف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ایوان پتروویچ پاولوف** (Ivan Petrovitch Pavlov) څېړنو په اروا پوهنه کې د سلوک پر مکتب زیات اغېز کړی دی. پاولوف د روسیې هغه نومیالی بیولوژیست او څېړونکی دی، چې په معده او کولمو کې یې په هضمي پروسې او هضمي غدو باندې د خپلو ځوکلنو څېړنو له امله په **۱۹۰۵**م کال یعنې هغه وخت چې نوموړی **۵۳** کلن ؤ، د نوبل جایزه وګټله. دده په څېړنو کې درې مسئلې د یادولو وړ دي. لومړی د زړه پرعصبي سیستم باندې کار، دوهم پرهضمي غدو باندې هر اړخیزې څېړنې او دریم د شرطي غبرګونونو په اړه تحقیق او برسېرونې، چې د اروا پوهنې په تاریخ کې یې لوی ځای ونیو. پاولوف په لومړیو کې له سلوکي او جوړښتي اوراپوهنو سره اشنا ؤ، خو دده به د ویلیام جیمز هغه نظر تائیداوه، چې ویلي یې وو: «اروا پوهنې تر اوسه پورې د یوه علم ځای نه دی راخپل کړی.»

ده په خپل ازموینښتون کې په هغو کسانو جریمه اېښې وه، چې د فیزیولوژۍ پر ځای به یې د اروا پوهنې اصطلاح کاروله. خو د عمر په ورستیو وختونو کې یې دغه نظر بدلون وکړ او حتی په خپله به یې ځان ته د یوه ازموینښتګر اروا پوه خطاب کاوه.

❖❖❖

پاولوف په **۱۸۴۹**م کال د مرکزي روسیې په «ریازن» ښارکې نړۍ ته راغی. دی دیوه کلیوال کشیش په «۱۱» اولادنو کې ترټولو مشر زوی ؤ. څرنګه چې د دوی کورنۍ ګڼه وه، همداسې یې لګښتونه هم زیات وو، په دې اساس پاولوف له هماغه ماشومتوب څخه له سخت کار کولو سره روږدی ؤ. دی «۷» کلن وو، چې په یوه تصادف کې یې سر سخته ضربه ولیده، له همدې امله تر «۱۱» کلنۍ پورې ښوونځي ته په تللو ونه توانېد. ده ته تر دغه وخته پورې خپل پلار په کور کې ځینې مذهبي درسونه وښودل. دده مور او پلار هیله درلوده، چې پاولوف به د خپل پلار په شان شي او د «ارتودوکس» په کلیسا کې به کشیش کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاولوف په همدغه نيت يوې سيمه ايزې مدرسې ته چې په کشيشانو پورې يې تړاو درلود ولېږل شو. ده دلته څو کلونه تېر کړل، په همدغو وختونو کې د «ډاروين» ځينې ليکنې لاس ته ورغلې. کله چې ده هغه ولوستې، نو له مدرسې وتښتېد. څو کلومتره پلی تگ يې پرځان ومانه او د «سنت پيترزبورگ» پوهنتون ته يې مخه کړه.

پاولوف په دغه پوهنتون کې د فيزيولوژۍ د څانگې مينه وال شو او له څو کلونو زده کړو وروسته يې په حيواني فيزيولوژۍ کې د تخصص سند ترلاسه کړ. نوموړي ترديې وروسته د څو وتليو استادانو په لابراتوارونو کې کار وکړ او همدا شان دروسي روښانفکرانو له ډلې سره يوځای شو.

پاولوف له څنگه چې له يوې ساده او کليوالې ټولې څخه راپورته شوی ؤ، خو په فکري او تحصيلي لحاظ له هغو څه په لوړه کچه ؤ، مگر د اشرافو په پرتله غريب او تش لاسی ؤ.

دی پوهېده، چې په خپل چاپېريال کې دا لږ سوکالي هم د تحصيل او زيار له مخې راته ميسره شوې ده، نو په دې بنسټ يې د يوه ځوان روښانفکر په توگه وپتېيله، چې راتلونکی ژوند بايد په عملي او څېړنيزو چارو کې تېر کړي. په دې توگه يې د نورو زده کړو په موخه د دووکالونو لپاره المان ته ولاړ. کله چې له المان څخه راستون شو، په سلطنتي طبي اکاډمۍ کې يې په کار پيل وکړ.

پالوف په خپل ټول ژوند کې يوجدي پروگرام پلی کړ. ده به د سيپټامبر له مياشتې څخه ترمۍ مياشتې پورې د اوونۍ په هرو اوو ورځو کې کار کاوه. ده چې کله په په ۱۸۸۳م کال کې د دوکتورا رساله بشپړوله، لومړی زوی يې پيدا شو، دغه ماشوم زيات کمزوروی او ناروغ ؤ. دا مهال د پاولوف دومره لاس تش ؤ، چې د ماشوم د ښې درملنې او د اوسېدو لپاره يې د يوه مناسب کور پيسې نه درلودې.

څه پيسې يې قرض کړې. په لږ ليرې ځای کې يې کور پيدا کړ او پرماشوم يې درملنه وکړه، مگر دا وخت نور ناوخته ؤ او وروسته له څو ورځو يې ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه ورکړه. هغه مهال چې د پاولوف دوهم زوی پیداشو، نو په همغه لیرې او نامناسب ځای کې اوسېدل او لایې په کوم مناسب کور وس نه رسېد. د پاولوف د شاگردانو یوې ډلې چې دده له مالي ستونزو څخه خبر شوي وو، دده د وینا و په بهانه یې ورته یوشمېر پیسې راټولې کړې، خو کله چې پاولوف ته ورکړل شوې، هغه یوه هم د ځان لپاره ونه لګوله او د سپیانو د فیزیولوژیکي څېړنو په هکله یې یو ازموېښتون ورباندې جوړ کړ. پاولوف ترهغې اندازې پورې له کار او څېړنې سره تعهد او ژمنتیا درلوده، چې خپلو مالي مشکلاتو ته یې به چندان پکې پام نه ؤ.

ده په دې اړه ویلي: «دغه شان مشکلات هېڅکله زما لپاره د کومې اندېښنې سبب نه دي شوي!»

په ۱۸۹۰م کال پاولوف د «سنت پیترزبورګ» د ازموېښتي علومو په مؤسسه کې د فیزیولوژۍ ټولنه تاسیس کړه. ده په همدغه ځای کې خپلې زیاتره څېړنې ترسره کړې، چې د شرطي غبرګونونو او هضمي غدو اوچتې څېړنې دده د همدغه وخت لاسته راوړنې ګڼل کېږي. پاولوف په دغه مؤسسه کې د ځوانو څېړونکو د یوه لوی ټیم مسئولیت هم پر غاړه درلود.

هغه وخت چې په روسیه کې انقلاب راغی او د «لینن» په مشرۍ کمونیستي رژیم پر روسیې وزرې وغوړولې. نو د پاولوف روابط هم ورسره کړکېچن شول. په ځانګړي ډول کله چې لینن مړ شو او واک د سرسخت دیکتاتور «ستالین» ګوتو ته ورغی، د پاولوف زړه نور هم ورسره تنګ شو او په ښکاره به یې په اشتراکي حکومت نیوکې کولې. خو د واکمن رژیم پر وړاندې دده له دغه منفي نظر سره سره حکومت دده او دده د څېړنو درناوی کاوه او هېڅ ډول فشار یې ورباندې رانه ووړ.

پاولوف د ژوند ترپایه پورې د یوه زیات کاره عالم په توګه کار وکړ. دده عادت و، کله به چې کومه ناروغي ورته پیدا شوه، ځان به یې په خپله کوت. نوموړی چې د ژوند په وروستیو کې د سږیو د ناروغۍ له امله سخت کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی ؤ. یوه ورځ اړ شو، یو بل ډاکټر د ځان لپاره راوغواړي، کله چې ډاکتر ورته راغی. هغه ته یې د خپلې ناروغۍ د حال ترڅنګ وویل:

«ماغزه مې سم کار نه کوي، له وسواسه ډک احساسات او غیر ارادي حرکات رانه څرګندېږي، ښایي مرګ راباندې راتلونکی وي!»

له ډاکتر سره یې څه نورې خبرې هم وکړې، ډاکتر یې رخصت کړ او دی ویده شو. کله چې ویښ شو، په ځای کې راکښناست او د خپلو کالیو په لټون پسې یې هڅه وکړه، خو درد وریاندې راغی او چیغې یې کړې:

«د پاڅېدلو وخت دی، راسره مرسته وکړئ، باید جامې بدلې کړم!»

د همدغې جملې په ویلو سره پرستره را ړنګ شو او له نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې. نوموړی د مړینې پر وخت«۱۹۳۶م»، ۸۶ کلن ؤ.

❖❖❖

په اروا پوهنه کې چې کوم ځای پاولوف لري، دا په حقیقت کې دده د «شرطي غبرګونونو» نظریې رامنځته کړی دی. د شرطي غبرګونونو د راپیدا کولو مفکوره هم د ځینو نورو علمي کشفیاتو غوندې له یوې تصادفي پېښې څخه سرچینه اخلي. پاولوف هغه مهال چې د سپیانو د هضمي غدو په باب یې له جراحي طریقې استفاده کوله، نو فکر ورته پیدا شو، چې یوه داسې طریقه په کار واچوي، چې د حیوان له بدن څخه د باندې د هغه هضمي ترشحات مشاهده، اندازه او ثبت کړی شي.

ده یو سپی د خپل ازموینښتون په یوه ځانګړې کوچینۍ کوټه کې تر ازموینې لاندې ونیو. نوموړي لیدل کله به یې چې سپي ته د ډوډۍ یا غوښې کومه ټوټه ورکوله، نو په خوله کې به یې د هغو د خوړو پر وخت لاړې او ځګونه راپیدا شول. دغه لاړې او ترشحات هم د هضمي بهیر یوه برخه ده، چې کابو د ټولو حیواناتو په خوله کې د خوړو پرمهال راپیدا کېږي. خو پاولوف چې کوم سپی تر تجربې لاندې نیولی ؤ، د هغه د هضمي ترشحاتو لړۍ تردې پورې راورسېده، چې ان د خوړو په لیدو به یې له خولې څخه لاړو سر وکړ. پاولوف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغو لاړو لپاره ځانګړي پایپونه تیار کړل او هغه یې داسې ورته ولګول، چې لاړې به یې پکې لاندې یوه بل اېښودل شوي لوښي ته راټولېدلې. دده موخه دا وه، چې ددغو لاړو هضمي خصوصیات وڅېړي. خو په دې لړۍ کې نوموړی دې شي ته لا زیات متوجه شو، چې سپي به ان چې دده د پښو غږ واورېد، په خوله کې به یې لاړې راپیدا شوې.

پاولوف د خپلې ازموینې لړۍ نوره هم اوږده کړه، کله به یې چې سپي ته خواړه راوړل، نو د څه وخت لپاره به یې د خوړو تر وړښکاره کولو مخکې زنګ واهه، لنډه دا چې د څو ورځو په تېرېدو سره یې سپي ته دا ور وښوده، چې کله زنګ ووهل شي، خواړه رارسي. نو د سپي به هم پرته له دې چې خواړه ووینې، د زنګ په غږ به یې لاړې جاري شوې.

پاولوف د زنګ پرځای د څو ورځو لپاره له برقي ګروپ څخه استفاده وکړه او تر خوړو مخکې به یې ګروپ روښاناوه. په دې توګه سپي ته ګروپ د خوړو معنا پیدا کړه او همغه ډول به یې ورته په خوله کې ترشحاتو جریان وموند. په همدې بڼه پاولوف په سپي باندې داسې نور شیان هم تجربه کړل، خو سپي له ټولو چارو سره ورته عمل ترسره کاوه.

پاولوف له دغې نسبتاً اوږدې ازموینې څخه وروسته دې پایلې ته ورسېد، چې حیوانات د خپل ماحول پروړاندې دوه ډوله غبرګونونه ترسره کوي.

لومړی، طبیعي یا غیر شرطي غبرګونونه: د مثال په ډول کله چې سپی په خوراک پیل کوي، په طبیعي ډول د هغو لاړې راځي، چې د غذا په هضم کې ځانګړی رول لري.

دوهم، اکتسابي یا شرطي غبرګونونه: دا ډول غبرګونونه هغه دي، چې د ځان ناخبرې زده کړې او یادګیرۍ له لارې څرګندېږي. د ساري په توګه، د زنګ له غږ سره د سپي لاړې راپیدا کېږي، یا پرته له دې چې خواړه ووینې، یا سړی ووینې، چې خواړه یې راته راوړل، د ګروپ د روښانولو په لیدو سره یې لاړې روانېږي، چې دا یو تر شرط لاندې راغلی یا زده شوی عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاولوف په لومړي سر کې د لاړو دغه ځواب ته د علامې څخه وروسته «ارواییي ترشح» نوم ورکړ. خو د نوموړي د سپي د ارواییي ژوند له فرضیاتو څخه د هغه د فیزیولوژیکي فرضیاتو سره ډېره علاقه وه، نو د پورته اصطلاح څخه یې لاس واخیست او پر ځای یې د «شرطي رفلکس» یا شرطي غبرګون اصطلاح وړاندې کړه او علامت یا نښې ته یې «شرطي انګېزه» وویله.

پاولوف تردغې تجربې وروسته، مشهور فیلسوف «رِنه دکارت» وستایه، چې ترده درې پېړۍ وړاندې یې حیواناتو ته د داسې ژوندیو ماشینونو خطاب کړی ؤ، چې له ځانه د محیطي محرکونو په مقابل کې داسې د وړاندوینې وړ غبرګونونه ښیي، چې له محیط سره په یوه ښه تعادل غوره کړي. دده له نظره دا شان غبرګونونه د عصبي دستګاه د فعالیت یوه برخه ده، چې د ټاکلیو عصبي اتصالونو په لړ کې منځته راځي او یو له دې څخه د لاړو ترشح ده.

پاولوف څرګندوي: « د محیط پر وړاندې د یوه حیوان غبرګون دوې برخې لري. یوې برخې ته د عصبي تحلیل سطحه ده، چې په دې کې یوحیوان د شیانو د تشخیصولو لپاره له پنځګونو حسي قواو څخه استفاده کوي او بلې برخې ته د عصبي ترکیب سطحه ده، چې په هغه کې یوحیوان د ځان لپاره مشخصوي، چې څه ډول هرشی دده د غبرګون او درک په چوکاټ کې ځای پیداکوي... یومعمولي سپی له کوچینیو موانعو او یا په محیطي محرکونو کې د کوچینیو بدلونونو پر وړاندې یو ډول پلټونکي غبرګونونه له ځانه ښکاره کوي. غوربونه ځک نیسي، شیان بویوي، په همدې توګه یو سپی زیات وخت په پلټنه تېروي، ترڅو چې خپل غبرګونونه د محیط له ترټولو نویو تغیراتو سره تطبیق کړي... په دې ډول یوفرهنګ یا یوه ټولنه کولی شي، د غبرګونونو د مدیریت یو پېچلی سیستم وبولو. یوازنی توپیر د انسان له سپي سره دا دی، چې د انسان د شرطي غبرګونونه له طبیعي غبرګونونو څخه زیات دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library




پاولوف ليکي: «انسانان معمولاً له ماحول سره د تمدن د جوړولو له مخې غبرګون ښيي... خو له دې سره موږ نه شو کولی د انسان د عاطفي غبرګونونو بشپړه وړاندوينه وکړی شو. لکه د يوه شديد سپکاوي پر وړاندې او د کوم دوست د لاسه ورکولو پرمهال د انسان نه اټکل کېدونکي غبرګونونه... خو دا چې موږ خپل زيات عمر د عادت او فرهنګ منلو پر اساس ژوند کوو، نو ممکنه ده، چې خپلو چلندونو ته بدلون ورکړو. موږ هم د بل هر حيوان په څېر د شرطي کېدو وړ يو، مګر په عين حال کې که چېرې پام وکړو، زموږ په ژوند کې داسې نمونې هم شته، که دهغو پر اساس چلند وکړو، نو زموږ په ګټه به نه وي، خو موږ دا کولی شو، د خپل ځان د شرطي کولو او يا ځان ته د ورښودلو او عادتولو له لارې هغه بدلې کړو.»

پاولوف په ټوليز ډول تر ټولو عيني او دقيق اصطلاحات او سنجشونه د زده کړې او تداعی مطالعاتو ته ننوستل. ده څرګنده کړه، چې اوچت ذهني فعاليتونه کولی شو، د فيزيولوژۍ د اصطلاحاتو په قالب کې او له حيواني ازموينښتونو څخه په استفادې مطالعه کړو. په دې ډول نوموړي د عينيت خوا ته د ارواپوهنې په بېولو کې لويه دنده ترسره کړه. همدالامل دی، چې د سلوک پالنې په مکتب کې د شرطي غبرګونونو مسئله مرکزي رول ادا کوي. خو ځينو کره کتونکو ويل، چې د بېلابېلو محرکاتو پر وړاندې د افرادو د شرطي کېدلو فکر، د انسان لپاره يو سپکاوی دی، دا ځکه چې دغه روش د حيواناتو د تجربې له مخې انسان ته ګوته نيسي. په داسې حال کې چې انسان له حيواناتو څخه زښته زيات توپير لري او له آزادې ارادې څخه برخمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زیګموند فروید



( د انسان ذهن د یخ یوې داسې ټوټې ته ورته دی، چې نهه برخې یې تر اوبو لاندې او یوازې یوه برخه یې راوتلې وي.) **فروید**

(د انسان د ماشومتوب د دورې ټولې حادثې او خبرې د هغه د باطني شعور یا تحت الشعور برخه ګرځي.) **فروید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زیګموند فروید** (Sigmund Freud) **هغه اوچت اروا پوهاند او مفکر دی،** چې په اروا پوهنه کې د اروا شننې یا روانکاوۍ د مکتب په بنسټ ایښودلو او د لاشعور د موضوع په رامنځته کولو او مشهورولو سره نړیوال شهرت لري. فروید د اروا پوهنې په څانګه کې خپل کارونه وروسته پیل کړل، نوموړي دژوند یوه برخه د طبابت او نورو کارونو په ترسره کولو کې تېره کړه. دی مخکې له دې چې د اروا پوهنې نړۍ ته راشي، د خبرې کولو د اختلالونو او د کوکائینو د تاثیراتو په باب د مقالولیکلو له لارې د عصب پېژندنې حوزې ته داخل شو او ډېر کلونه په دغه څانګه کې بوخت پاتې شو. خو کله چې یې د اروا پوهنې په درشل ګام کېښود، تر بل هر وخت نه ښه وځلېد او د دغه نوي علم د پرمختیا او پراختیا لپاره یې لوی لوی کارونه ترسره کړل.

❖❖❖

فروید په ۱۸۵۶م کال د فرایبورګ د ښار «چې اوس د چک د هېواد خاوره ده» په یوه متوسطه کورنۍ کې نړۍ ته راغلی دی. دده پلار د وړیو تجارۀ او یو ډول سخت ګیره او قدرت طلبه خوی یې درلود. هغه وخت چې فروید ۴ کلن ؤ، کورنۍ یې له فرایبورګ څخه لومړی لایپزیک او وروسته د وین ښار ته ولاړه او کابو ۸۰ کاله هملته پاتې شوه.

فروید ان د ماشومتوب له دورې د خپل پلار د «۸» نورو اولادونو په پرتله د تېز ذهن او ښه استعداد خاوند ؤ، همدا لامل ؤ، چې ده ته یې مور او پلار تر نورو اولادونو زیا ته پاملرنه کوله. هغه مهال چې نوموړی ښوونځي ته واستول شو، نو همغه وخت یې پلار ورته په خپل کور کې د مطالعې لپاره یوه خونه ځانګړې کړه. کله به چې فروید د شپې له خوا مطالعه کوله، نو د کور یوازنی څراغ به یې خپلې ځانګړې خونې ته یووړ او د کور نورو غړو به د ځان لپاره شمعه لګوله. همدارنګه د کور نور ماشومان نه پرېښودل کېدل، چې ده ته شورماشور جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرويد په ښوونځي کې ډېر ژر د يوه لايق او ممتاز زده کوونکي نوم وګاټه او په ۱۷ کلنۍ کې يې ورنه په لوړو نمرو د فراغت برې ليک ترلاسه کړ.

همدغه وختونه وو، چې د «ډاروين» د تکامل نظريې د فرويد ذهن ولړزاوه او له دې وروسته يې د طبي علومو د لوستلو لپاره تصميم ونيو. ده په طبابت کې د ځان بوختولو لپاره زيات تمايل نه درلود، خو دغه رشته يې ددې لپاره انتخاب کړه، چې په راتلونکي کې يې د زياتو علمي څېړونو لپاره رهبري کړي.

فرويد بالاخره د طب په برخه کې د دکتورا سند ترلاسه کړ، خو په ټوله تحصيلي دوره کې يې د طبي مسايلو ترڅنګ ګڼ شمېر فلسفي او ادبي کتابونه هم مطالعه کړل. دی لا محصل ؤ، چې د کوکائينو په اړه يې څېړنې ترسره کړې. ده له دغې مادې سره زياته مينه درلوده او هر کله به يې ويل، چې ددغې مادې کارول د انسان افسردګي، ذهني ستړيا او يوشمېر نورې ناروغۍ له منځه وړي. دی په دې اند ؤ، چې يو مهم درمل يې کشف کړی دی او له دې لارې يې غوښتل چې شهرت ته ورسېږي. خو داسې ونه شول، د نوموړي يوه ملګري چې د کوکائينو په باب ددهٔ وينا واورېده، نو هغه هم په دغې مادې يوه نوې ازموينه ترسره کړه او ثابته يې کړه، چې دغه درمل کولی شي، د انسان د سترګو په بې حسه کولو کې په کار راشي. په دې ترتيب د سترګو د جراحۍ عمل د لومړي ځل لپاره ممکن شو. فرويد په دغه وخت کې د کوکائينو د ګټو په اړه يوه مقاله خپره کړه، خو ډېر ژر له يو شمېر نيوکو سره مخ شوه او فرويد نور په بشپړه توګه ورڅخه لاس واخيست او بيا يې هېڅکله نوم په خوله را نه ووړ. فرويد له پوهنتون څخه ترفراغت وروسته شپږکاله د «بروک» د سايکالوژۍ په لابراتوارونو کې ازموينې او څېړنې وکړې او په دې لړکې يې د انسان د عصبي مرکزي نظام تشريح او توضيح وکړه.

نوموړی په خپلو دغو هلوځلو کې د څه مهال لپاره پاريس ته ولاړ او هلته يې د اعصابو له وتلي متخصص «جين شارکوټ» او د «وين» له مشهور

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبيب «ډاکټرجوزف بروير» سره همکاري پيل کړه، چې وروسته يې د ډاکټر بروير په ملتيا د عصبي ګډوډيو په هکله يو کتاب خپور کړ. له دې څخه وروسته فرويد بېرته خپل هېواد ته راستون شو او په مستقله توګه يې خپلو کارونو ته دوام ورکړ. ده په دغو وختونو کې خپله زياته پاملرنه عصبي او رواني مسايلو ته واړوله او په دغو برخو کې يې زيات شمېر کتابونه تر نظر تېر کړل، تردې چې د خپلو مطالعو او څېړنو په بنسټ يې يو بل مهم اثر د خوبونو د تعبير په نامه وليکه، دغه اثر فرويد شهرت ته ورساوه او نړيوالو ته يې وښوده، چې يو نوی اروا پوه د پوهې نړۍ ته راوتلی دی.

د فرويد په نظرياتو او فکري نړۍ باندې د «ډاروين» او «فخنر» کارونو هم لوی اغېز وکړ، خو دده د مفکورې په بشپړ ټينګښت کې تر دغه دوو پوهانو ورها خوا، ځينې نور پوهان (لکه «پاستور» او «رابرټ کخ» چې د ميکروبونو په کشف کې يې لوی کارونه کړي او «ګريګورمندل» چې د جنيټيک د علم بنسټ يې کېښود) هم بې اغېزې نه وو.

ده په ۱۹۰۲م کال کې د چهارشنبې د ډلې په نوم د روان څېړونکو يوه جلسه جوړه کړه، په دغه جلسه کې به هره چهارشنبه ده او نورو روان څېړونکو ګډون کاوه او د بېلابېلو رواني مسايلو په باب به يې خپل نظريات پکې شريکول. فرويد په همدغه کال د وين په پوهنتون کې د اروا پوهنې استاد وټاکل شو او دری کاله وروسته يې دری رسالې د جنسي تمايلاتو د تيورۍ په باب وليکلې.

نوموړی په ۱۹۰۸م کال کې په دې بريالی شو، چې د خپلو څېړنو او برسېرونو مطابق د روان شننې يوه غونډه جوړه کړي، چې وروسته همدغه غونډه په يوه نړيوال نهضت بدله شوه او فرويد د خپل دغه نهضت د خورولو په موخه په ډېرو هېوادونو کې ويناوې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو څرنګه چې نوموړي په خپلو رواني شننو کې جنسي تمایلاتو ته زیات ارزښت ورکاوه، له همدې امله ځینې روان څېړنکي لکه الفرډ آډلر او کارل یونګ له ده سره مخالف شول، مګر بیا هم ده خپله لاره وپالله.

❖❖❖

فروید په خپلو څېړنو کې د انسان د وړکتوب له دورې څخه بیا د ژوند ترپایه پورې ټولې قضیې، پېښې، خوښۍ، ناخوښۍ، ماحول، منظرې، لیدنې، کتنې، وېرې، نفرتونه، ګناوې، تاوانونه، لذت، درد، روغتیا او ناجوړۍ، تحقیر او درناوی، د ظلم او استبداد سره مخ کېدل، تشویق او تهدید، د حقوقو څخه یې سرغړونه، د ژوند په اوږدو کې برۍ او ناکامي، هیلو ته رسېدل او نه رسېدل، د ژوند اقتصادي حالات، دیني او مذهبي عقاید، د چاپېریال رواجونه، د دوستانو مشکلات، د هغو ناجوړۍ او مړینې، د جنسي غریزې محرومیت یا نه محرومیت، جنګونه، ټولنیزه اوضاع او نور داسې شیان د انسان د سلوک، شخصیت، رواني حالتونو، عقدو، احساساتو او نورو مسایلو علتونه وبلل.

ده د انسان په ننیو یا باطني حالتونو باندې د خپلو څېړنو په لړ کې د اروا پوهنې موضوع او طریقې ته بدلون ورکړ، ده په اروا پوهنه کې د احساس، ادراک، تفکر او ذکاوت پرځای هغه رواني جریانات ترڅېړنې لاندې ونیول، چې د انسان د مبهم شعور یا ځان ناخبره ذهن مربوط وو. فروید عقیده درلوده، چې باید د ټولو رواني بې نظمیو او تضادونو منبع د شعور په ځان ناخبره برخه یا ناخودآګاه کې وپلټل شي. په دې ډول فروید لومړنی اروا پوه وو، چې د تحت الشعور یا ناخوداګاه ضمیر کشفونه یې وکړه، چې نوې اروا پوهنې ته دغه کشف دده ترټولو لوی خدمت بلل کېږي. ده د تحت الشعور په معرفۍ کې شاته وهل شویو احساساتو ته اهمیت ورکاوه او فکر یې کاوه، چې هېر کړای شوي او ځپل شوي غرایز، عواطف، غوښتنې او احساسات د تحت الشعور موضوع جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده به ويل: « د انسان عملونه، فكرونه، عادتونه او غوښتنې، بې له دې، چې پرځان پوه شي، د لاشعور تر اغېز لاندې دي. انسان خپله هره غوښتنه، چې وربانديې ځورېږي، د خپل ياد او په لنډه توگه د شعور له ساحې باسي، لاشعور ته يې ټېل وهي او هلته يې بندي كوي.» دده په اند : «بنيادم خپلې گڼې غوښتنې او خاطرې؛ ځكه له خپل شعوره شړي، چې دده له وجدان، كورنۍ روزنې، دودونو، عقيدو او اقدارو سره په ټكر كې وي.» دده په باور كله چې د لاشعور په سمڅه كې ايسارې غوښتنې ډېرې زورورې او د شعور ساحې ته د راتلو لپاره يې فشار ډېر شي؛ نو وگړي ته روحي ناروغي پيدا كېږي.

فرويد به چې كله د رواني ناروغانو درملنه د مصنوعي خوب «تنويم» له لارې كوله، نو ناروغانو به خپل يادونه له لاشعور څخه راايستل او ده ته به يې وړاندې كول. دا يادونه به كه څه هم د ځينو كيسو يا اشخاصو په لړ كې وو؛ خو پر دغه يادونو باندې د نيمگړو خواهشاتو يو ژور رنگ پروت وو. فرويد دا محسوسه كړه، چې دغو تېرو او هېرو يادونو په ښكاره خپل ارزښت له لاسه وركړی دی، مگر په لاشعور كې لاژوندي پاتې دي او په شعوري كردار باندې په بېل بېل ډول خپل اغېز اچوي. ځكه كوم اعمال او افعال چې څومره په شدت سره څوک بد او ممنوع گرځوي، هغه هغومره زورورې او تونده لاشعوري غوښتنې پيدا كوي.

فرويد ته د هغو رواني ناورغانو د درملنې پرمهال چې له وسواس سره به مخ وو څرگنده شوه، چې د دوی د وسواسي حركاتو شاته د ماضي د يوې واقعې يا تجربې لاس شته، كومې چې د دوی د ذهن په ژورو پوښو كې پټې دي. د ساري په توگه د پېغلې «ميكبټ» په وار وار د لاسونو منځلو شاته د ماضي هغه كيسه پرته وه، چې ددې له لاسه قتل شوی ؤ او ددې لاسونه په وينو سره شوي وو.

لكه څرنگه چې د شخصيت مسئله په اروا پوهنه كې يوه د بحث وړ موضوع ده او د ځينو اروا پوهانو څرگندونې او ډلبندۍ په دې برخه كې مشهوري دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډله کې فروید هم چوپ نه دی پاتې شوی. ده له تحت الشعوري چارو سره د تطابق په صورت کې د افرادو د رواني شخصیت په اړه څرګندونې کړې دي.

(فروید په دې نظر ؤ، چې دهر فرد شخصیت له دریو سیستمونو څخه تشکیل شوی دی، چې له عبارت دي له:

- ID
- Ego
- Super ego

ID: **ایډ**، چې په ادبیاتو کې د «هغه» په نامه راځي. فروید یې په ستاینه کې وایي، چې دغه سیستم له ټولو هغو شیانو څخه جوړ دی، چې موږ ته په میراثي ډول پاتې وي او د زیږون له مهال څخه راسره په وجود کې ثابت پاتې شوي دي، بدني اساس لري... دغریزوي خوځښتونو مرکز او اصلي سرچینه ګڼل کیږي او د ذهن په تحت الشعور کې ځای لري او تل غواړي، چې د Egoسیستم راوتنې ته لاره پیدا کړي...

Ego: **ایګو**: دې ته په ادبیاتو کې د «زه» کلمه راغلې ده او کولی شو، په ځان غوښتنه یې تعبیر کړو، چې د غریزوي اړتیاو او د چاپېریال د حقیقتونو ترمنځ د اړیکې په توګه عمل کوي. د کمال او شخصیتي تکامل د ساتنې رول او دنده ورپه غاړه ده، یا په بل عبارت ایګو د شخصیت مرکزي هسته ګڼل کیږي، چې د اړتیاو او د چاپېریال د شته امکاناتو ترمنځ د عمل دنده ور د غاړې ده...) دعمومي اروا پوهنې آرونه، سالمي

Super ego: **سوپر ایګو**: ددې معنا «تر زه اوچت یا بر زه» راځي، دا برخه د محیطي روزنیزو چلندونو په سبب د انسان په شخصیت کې بڼه غوره کوي، چې د اخلاقي وجدان نوم هم ورته ورکولی شو. څرنګه چې ماشومانو ته د چال چلند قواعد د مور او پلار او نورو روزونکو له خوا د تشویق او تهدید، یا د ناز او ټینګار پر اساس ورښوول کیږي. هغه یې د خپل ځان د ننه جذبوي. ناسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلندونه چې ورباندې له تهديد سره مخامخ کېږي، د ماشوم د وجدان يوه څانګه ګرځي، چې د سوپرايګو يا له ځان غوښتنې اوچت يوه برخه يې جوړوي او سم چلندونه چې د هغو په سبب نازول کېږي يا له تشويق سره مخامخ کېږي، د ماشوم د ارماني ځان يا سوپرايګو يوه بله برخه يې منځته راوړي، چې په دې ډول د سوپر ايګو د بشپړېدو په صورت کې چې فرد نور له ماشومتوبه وځي او نور يې چلندونه د ځان کنټرولۍ له لارې ټاکل کېږي.

په دې ترتيب د فرويد په اند د شخص په باطن کې تل يو دوامداره کشمکش جريان لري. دا ځکه چې Ego يا «زه» د مخالفو قواو تر فشار لاندې واقع وي، نو دى بايد هڅه وکړي، چې د ID يا «هغه» بې رحمانه فشارونه وځنډوي يا يې پرشا وتمبوي او په دې ډول واقعيت درک کړي، ترڅو د ID اغېز راکم او د Super ego په هڅو د نجات او ثبات څنډې ته ورسېږي. خو کله چې Ego له اندازې زيات ترفشار لاندې راشي، بيا يې نو پايله هماغه اضطراب او رواني ګډوډي ده.

د فرويد په نظر که څوک په ارواييي لحاظ سالم وي، دا دا درې واړه سيستمونه «ايډ، ايګو او سوپر ايګو» پکې يو همغږی او متحد سازمان جوړوي او د دې سيستمونو تر منځ همکاري روانه وي. د دې همکارۍ په برکت انسان کولای شي له محيط سره ګټورې اړيکې ټينګې کړي. برعکس، که يو سيستم له بل سره په ټکر کې وي، انسان نامتعارف ګڼل کېږي او داسې کس له ځانه او له جهانه ناراضه وي.

استاد اسدالله غنضفر د خپلې هغې اوږدې مقالې په يوه برخه کې چې د پوهاندمجروح د ځانځاني ښامار پرکتاب يې ليکلې، د فرويد د «**ايډ**»، «**ايګو**» او «**سوپرايګو**»، مفاهيم په خورا ښه او ساده بڼه بيان کړي دي نوموړی ليکي: (فرويد د انسان هغه اړخ، چې يوازې په خوند پسې ګرځي او هېڅ ډول اجتماعي اصول نه مني، ايډ ID بولي، ايډ چې ټول د ذهن په لاشعوري برخه کې دی، د لبيډو Libido يعنې د شهوت د انرژۍ مخزن او

(c) ketabton.com: The Digital Library




ګودام دی. د فروید د نظریې په اساس د ماشوم شخصیت د زیږېدلو په وخت کې یوازې **ایډ** لري. دغه ماشوم یوازې ړنده غوښتنه وي او بس. خو د وخت په تېرېدو سره پوه شي، چې د هوس د پوره کولو لپاره د چاپېریال غوښتنو ته پام پکار دی. د اور لمبه به ښکلې وي، مګر لاس باید ورنه وړي، چې سوځوي یې. د پیالې په ماتولو کې به خوند وي، خو په دې کار کې خطر دی، ځکه مور به یې ووهي. د چاپېریال د غوښتنو په چوکاټ کې د خپلو غریزو او غوښتنو ایسارول، د بنیادم د شخصیت بل اړخ دی، چې فروید ورته **ایګو** Ego وایي. ایګو د ایډ د ړندو غوښتنو مخالف نه دی، خو څرنګه چې په چاپېریال خبر دی؛ نو د هوس د پوره کولو لپاره شرایطو ته هم پام کوي. زموږ عقلاني فعالیتونه او حافظه له ایګو سره تعلق لري. ایګو یوڅه په شعور او یوڅه په لاشعور کې واقع ده. په څلور، پنځه کلنۍ کې د ماشوم د شخصیت د یو بل اړخ وده پیلېږي، چې فروید یې **سوپر ایګو** Super ego بولي. کله چې ماشوم د مور و پلار او نورو لارښوونې له وېرې نه، بلکې د زړه له تله ومني، معنا یې دا ده، چې په شخصیت کې یې د سوپرایګو اړخ پیدا شوی دی. سوپر ایګو تر ډېره حده د ټولنې د اقدارو، باورونو او ارزښتونو مدافع او د **ایډ** د بې شرمو غوښتنو مخالف دی. د سوپر ایګو لویه برخه په لاشعور کې وي. د فروید په نظر په روحي لحاظ روغ بنیادم پیاوړی **ایګو** لري. پیاوړی ایګو هم **ایډ** کنټرولوي، هم **سوپر ایګو** دې ته نه پرېږدي، چې بنیادم د وچو اخلاقو پیرو او له خلکو سره په رابطو کې متعصف قاضي کړي. **ایګو** له یوې خوا له خارجي واقعیت سره د ارتباط ذریعه ده او له بلې خوا د ایډ او سوپرایګو په شخړه کې د تعادل هڅه کوي. که یوڅه په غیرفني ژبه وغږېږو، ویلای شو، چې **سوپر ایګو** وجدان، **ایډ** اماره نفس «امرکوونکی نفس» او **ایګو** عقل دی.)★

★ «پیغامونه پټ پراته په افسانو کې» استاد غضنفر، ځولی مجله، دویم کال، لومړی ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






ذهن= باخبره+ نیم خبره+ ناخبره

شخصیت= ایډ+ ایګو + سوپر ایګو

د فروید په اند

***لنډه توضیح:***

ناخبره شعور د انسان د اعمالو لومړنی محرک دی، په ناخبره شعور کې چې د انساني شعور زیاته برخه تشکیلوي دایمي او نه بدلېدونکې غوښتنې، آرزوګانې او انګېزې متمرکزې شوې دي، چې د هغو منشا هم غریزې او نه پېژندل کېدونکي روحي عوامل دي. کله چې له ناخبره شعور څخه یوه غوښتنه او آرزو راولاړه شي، نیم خبره شعور ته ځان رسوي. نیم خبره شعور سرحدي کرښه ده. باخبره شعور هڅه کوي، چې نوموړې غوښتنه یا آرزو کنټرول او سانسور کړي؛ خو په اکثرو مواردو کې غوښتنې او آرزوګانې بې پاسپورټه د عمل میدان ته ورتېرېږي.

(د ایډ، ایګو او سوپرایګو د توضیح لپاره تردغه مخ، وړاندې مخونه ولولئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ ❖ ❖

فروید په خپلو څېړنو کې اضطراب «چې یوه رواني ناروغي ده» په دریو برخو وېشلې دی. واقعي اضطراب، نوروتیک اضطراب او اخلاقي اضطراب.

۱: واقعي اضطراب، Reality Anxiety:

دغه اضطراب د اصلي او اساسي اضطراب یو ډول دی، چې د واقعیتونو په نړۍ کې د حقیقي او رښتینیو خطرونو له وېرو څخه منځته راځي، چې نوروتیک او اخلاقي اضطرابونه هم ورڅخه سرچینه اخلي.

۲: نوروتیک اضطراب، Neurotic Anxiety:

دغه ډول اضطراب د غرایزو د ارضا پرمهال د خطرونو له تشخیص او پېژندنې څخه سرچینه اخلي. دغه اضطراب ته د ډار او وېرې نوم هم ورکولی شو، چې په خپله له غرایزو څخه نه، بلکې د غرایزو د ارضا په بهیر کې له شته ګواښونو څخه سر راپورته کوي.

۳: اخلاقي اضطراب، Moral Anxiety:

اخلاقي اضطراب له شعوري وېرو څخه راپیدا کېږي. هرکله چې انسان له خپل سوپرایګو یا اخلاقي یوجدان سره یو داسې کار وکړي، یا د یوه داسې کار د ترسره کولو فکر یې په ذهن کې راپاڅي، چې له اخلاقي ارزښتونو سره په مغایرت او ټکر کې واقع وي او له مخې یې په خپل ځان کې د ګناه احساس وکړي، نو تل داسې وېره او تشویش ورسره پیداکېږي، چې ګواکي اخلاقي وجدان ته یې زیان رسېدلی، چې دغه وېره او ډار پخپله اخلاقي اضطراب دی. یو غیر اخلاقي عمل، چې په تېرمهال کې د یوه انسان د تحدید سبب شوی وي، که چېرې بیا تکرار شي، نو دا هم انسان له اخلاقي اضطراب سره لاس او ګرېوان کوي.

د فروید په اند، په ټولیزه توګه هر اضطراب له یوه اندېښناک حالت سره ملګری دی او لکه د لوږې، تندې او جنسي غریزې په شان خاصیت لري، خو لږ توپیر یې په دې کې دی، چې دغه غرایز د انسان د وجود له د ننه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرچینه اخلي او اضطراب په بنسټیزه معنا له خارجي عواملو څخه سرچینه اخلي. کله چې اضطراب اوج ته ورسېږي، انسان د هرډول کار، یا غبرګون لپاره پارول کېږي. ممکن له هغې سیمې څخه تېښته غوره کړي، چې دی ورڅخه تهدیدېږي او یا کوم بل دفاعي چلند ترسره کړي. د اضطراب پرمهال د یوه شخص دغه ډول مقابلې رواني دفاعي میکانېزمونه بلل کېږي...

❖ ❖ ❖

لکه مخکې چې یادونه وشوه، زیګموندفروید په خپلو هڅو سره په اروا پوهنه کې د روانکاوۍ یا ارواشننې (Psychoanalysis) نظریه رامنځته کړه، چې په لنډ وخت کې یې د یوه اروا پوهنیز مکتب بڼه پیداکړه. دغه نظریه چې ځینې خلک ورته «فرویدېزم» هم وایي، له بنسټګر فروید ترڅنګ یوشمېر نورو اروا پوهانو هم برخه درلوده، چې تاسې یې په مخکنیو پاڼو کې نومونه ولوستل.

د فروید اروا شننه له لویه سره هغه روش دی، چې د رواني ګډوډیو او ناروغیو د درملنې لپاره په کار وړل کېږي. په دغه روش کې له بېلابېلو لارو چارو لکه آزادي رایادونې یا تداعي او د خیالونو له تعبیر څخه کار اخیستل کېږي. د رواني شننې موخه د هغو رواني ګرمونو او عقدو رابرسېره کول او له ځان ناخبره ذهني برخې څخه یې را ایستل دي، چې د یوه چا د کړووړو د ګډوډوالي لامل شوي وي. د فروید له نظر سره سم، د جنسي غریزو تمبېدل، سره له دې چې له خاطراتو څخه هېر هم وي، بیا هم د شخص په ځان ناخبره ذهن کې پاتې کېږي. دغه خاطرات ورو ورو هغلته راټولېږي او د عصبي تشویش او دایمي بدلون لامل ګرځي او په شخص کې د رواني نارامۍ او د مزاج د تعادل د ګډوډ کېدو لامل کېږي.

فروید او ورسره ملګري اروا پوهان په دې باور وو، (چې روحي او عصبي ګډوډۍ د هغه څه برعکس چې پخوانیو اروا پوهانو یې فکر کاوه، عضوي ریښه او سرچینه نه لري، بلکې دا له روحي او ناڅرګندو فشارونو او افکارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځخه راپیدا کېږي...دوی په خپل وار هڅه کوله، چې له ناپوره شویو هیلو، خاطراتو، روحي فشارونو او بې ځایه فکرونو څخه ناروغ وژغوري... ارواپوه په دې برخه کې یوازې دا هڅه نه کوي، چې ناروغ له دغه ډول فشارونو څخه خلاص کړي، بلکې دا هڅه هم کوي، چې دهغه د ننه شخصیت پرانیزي او د ناروغ ناڅرګند او پټ شخصیت راڅرګند کړي. کله چې د فروید نظریې د خپل شهرت وروستي پړاو ته ورسېدې، د هغه د پلویانو او مخالفانو ترمنځ د نظر توپیر پیدا شو. یوشمېرهغه ارواپوهان چې له ده څخه جلا شوي وو، یوه جلا او خپلواکه لاره یې خپله کړه، چې د نویوفرویدیانو New freudists په نوم یاد شول. په داسې حال کې چې ګڼ شمېر نویو فرویدیانو د فروید نظریه د ناهوښیارۍ یا ناخبره ضمیر په اړه منله، خو له دغه ټکي سره مخالف وو، چې فروید د شخصیت د تدوین او جوړېدنې ټولنیزو او کلتوري ځواکونو ته پاملرنه نه ده کړې...)** اریانا دایرة المعارف، څلورم ټوک

❖❖❖

**فروید د ژوند په وروستیو کې له ګڼو ناخوالو سره لاس او ګرېوان شو، کله چې په ۱۹۳۸م کال نازیانو د هیټلر په امر پر اتریش یرغل وروړ، د فروید کتابونه یې وسوځول او د جنسي مسایلو په باب یې د هغه نظریات د انسان شرافت ته سپکاوی وګڼل. دا مهال فروید ۸۲ کلن ؤ، خوشنګه چې هیټلر په یهودو پسې را اخیستې وه او د فروید بله بدمرغي دا وه، چې دی هم یهود ؤ، په دې اساس لندن ته ترې وتښتېد او هلته له یو کال ژوند کولو وروسته په ۱۹۳۹م کال د ۸۳ کالو په عمر د خولې د سرطان له امله ومړ. ویل کېږي چې فروید ددغې ناروغۍ د درملنې لپاره ۳۳ ځله جراحي عملیات وکړل، خو نتیجه یې ورنه کړه. ده به د ورځې تر ۲۰ زیات سګرټ څکول. طبیبانو ده ته ځوځله ددغه عمل د پرېښودلو ویلي وو، خو ده ان د ناروغۍ د تشخیص پر مهال هم له سګرټو لاس وانخیست او په پای کې تردې پورې راورسېد، چې د خولې د زیاتو عملیاتونو له امله یې سمې خبرې هم نه شوی کولی، خو له زده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکو سره یې لیدنو کتنو ته دوام ورکړ، مګر درد او ناروغۍ یوه ورځ له داسې حال سره مخ کړ، چې خپل ځانګړي جراح ته یې وویل: چې نور ورته ژوند له درد او رنځ څخه پرته بله معنا نه لري! په همدې ډول یې ورڅخه وغوښتل چې له ده سره په ځان وژنه کې مرسته وکړي. همغه وو، چې دغه جراح چې «ماکس شار» نومېد، د مرفین د ورکولو شمېر ترانداز ي ورزیات کړ او د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې یې فروید نور د ژوند له مداره وغورځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جان واټسن



(ديوه فرد شخصيت، د نوموړي دهغو ځوابونو او تمايلاتو مجموعه ده، چې د عمل او سلوک په بڼه ځرګندېږي.) **واټسن**

(هيجانات، د ځانګړو محرکاتو پر وړاندې، له بدني ځوابونو څخه پرته بل څه نه دي.) **واټسن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جان بروډاس واټسن** (John Broadus Watson) د چال چلند د نظريې مخکښ او د سلوک پېژندنې د اروا پوهنې پلار پېژندل شوی دی. دی لومړنی اروا پوهاند دی، چې په اوراپوهنه کې يې له باطني او نفسي طريقو سره خپل مخالفت وښود او ثرګنده يې کړه، چې د اروا پوهنې علم د کيمياوي او فزيکي علومو په څېر بايد په علمي اصولو ولاړ وي. ده د ذهني او باطني تمايلاتو موضوع شاته وو هله او زيا ته يې کړه:

«کوم څه چې محسوس او مشهود نه وي، بايد د اروا پوهنې له متن څخه وايستل شي!». د واټسن په اند، يوازنی شی سلوک او کړه وړه دي، چې عيني اړخونه لري او بايد د اروا پوهنې اصلي موضوع همدغه شی ووسي.

واټسن د خپل ۸۰ کلن ژوند په اوږدو کې د عمل او سلوک د اروا پوهنې په باب زيا تې څېړنې او ليکنې وکړې او يوشمېر کتابونه يې لکه، (د تطبيقي اروا پوهنې بنسټونه)، (د ماشوم رواني ځارنه)، (اروا پوهنه ديوه سلوک پېژندونکي له نظره) او نور وليکل او په دې سره يې د امريکا په اوچتو پوهنتونونو کې د اروا پوهنې د استادۍ وياړ ترلاسه کړ.

❖❖❖

واټسن په ۱۸۷۸م کال د جنوبي کارولينا د «ګرين ويل» له کروندو سره په يوه نږدې سيمه کې نړۍ ته راغی. دده مور يوه مذهبي ښځه وه، خو پلار يې يو بې پروا او شرابي سړی ؤ او کله به يې چې کوم کار يا دنده پيدا کړه، ژر به ورڅخه ستړی شو او نيمګړې به يې پرېښوده. له همدې امله دوی د فقر او بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند تېراوه او خپلې ورځنۍ اړتياوې به يې د کرنې او بزګرۍ له لارې پوره کولې. خو کله چې واټسن ۱۳ کلنی نه ورسېد، پلار يې له يوې بلې ښځې سره وتښتېد او بېرته رانغی؛ نو ځکه يې له پلار څخه کرکه پيدا شوه. هغه مهال چې واټسن مشهور او شتمن شو، پلار يې د ليدو لپاره نيويارک ته ورغی، خو ده ورسره ونه کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټسن په وړکتوب او نوې ځوانۍ کې ډېر تکړه نه ؤ، لټ، بې خبره او سرغړوونکی ؤ. په ښوونځي کې يې هم ښې نمرې نه شوای ترلاسه کولی او ښوونکو د يوه لټ او نه کنټرولېدونکي زده کوونکي په توګه پېژانده.

واټسن په ۱۶ کلنۍ کې د ګرين ويل په پوهنتون کې نوم ليکنه وکړه. دلته يې رياضي، فلسفه او يوناني ژبه ولوستل. وروسته يې وغوښتل چې د «شيکاګو» پوهنتون ته ولاړ شي او هلته د نامتو فيلسوف «جان ډيوي» ترلارښوونې لاندې فلسفه زده کړي. خو کله چې دغه پوهنتون ته ورغی او د جان ډيوي په درسونو کې يې ګډون وکړ، نو د هغه څرګندونې ورته د نه پوهېدلو وړ ښکاره شوې. واټسن د هغو وختونو باب ليکلي: «زه هېڅکله نه پوهېدم، چې هغه د څه شي په اړه خبرې کوي او له بده مرغه تر اوسه هم نه پوهېږم، چې هغو څه ويل!»

واټسن تردې څه مهال وروسته د «جيمز رولانډ انجېل» تر اغېز لاندې د اروا پوهنې مينه وال شو او په همدې سره يې دشيکاګو په پوهنتون کې د عصب پېژندنې څانګه غوره کړه. ده له زيات و هلوځلو وروسته په ۱۹۰۳م کال کې په ياده څانګه کې دوکتورا واخيسته او په همدغه کال يې له يوې بډايې محصلې چې «مري ايکز» نومېده واده وکړ. وروسته د شيکاګو په پوهنتون کې د استاد په توګه مقرر شو او تر ۱۹۰۸م کال پورې يې همدلته تدريس وکړ. خو وروسته ورته د «هاپکنز» په پوهنتون کې د استادۍ وړانديز وشو. سره له دې چې مينه يې لرله په شيکاګو کې پاتې شي، خو د زيات معاش او د لابراتوار د رئيس په توګه لوړ موقف دی وهڅاوه، چې هاپکنز ته ولاړ شي. ده د خپل ژوند د غوره خدمت ۱۲ کلونه همدلته د اروا پوهنې په تدريس کې تېر کړل.

نوموړي په ۱۹۱۶م کال کې د کړووړو او د تطبيقي اروا پوهنې کتاب وليکه، دغه کتاب د زيات و خلکو پاملرنه دده په لور راواړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټسن په ۳۷کلنۍ کې د امريکا د ارواپوهانو د ټولنې مشر وټاکل شو. ده د خپل ژوند په اوږدو کې يو شمېر نورو دندو لکه د بيمې د شرکت مشاوريت، په تبليغاتي اژانسونو کې دارواپوهنې متخصص او نورو بوختاؤ لاس پورې کړاوپه دغه ټولو کې يې ديوه موفق انسان رول ادا کړ.

په پای کې د ارواپوهنې د تاريخ دغې وتلې څېره د ۸۰کالو په عمر له نړۍ سترګې پټې کړې. خو هېره دې نه وي، چې ترمړينې يوکال مخکې يې خپل ګڼ شمېر شخصي يادښتونه او هغه ليکونه چې ده نورو ته او نورو ده ته لېږلي وو، يويو د خپلې خونې په دېوالي بخارۍ کې وسوځول او تاريخ ته يې د پاتې کېدو چانس يې ورنکړ.

❖❖❖

د واټسن ټولګيوالو ويلي، واټسن د ارواپوهنې له نظره يو باطن پلوه «درون ګرا» محصل نهؤ او نه يې د باطن پلوه اشخاصوغوندې خپل ځان په باطني او ذهني نړۍ کې ليده. همدغه د باطن پلوه اشخاصو له صفاتو څخه خالي شخصيت، نومونړی وهڅاوه، چې د عمل او سلوک پلوې ارواپوهنې په لور ګامونه واخلي.

سلوک په نوې ارواپوهنه کې يوه دبحث وړ موضوع ده. چې د بهرنيو او ننيو محرکاتو پر وړاندې د انسان او يا نورو ژوو د غبرګون په معنا دی، يا په بل عبارت سلوک هرهغه فعاليت ته ويل کېږي، چې يو ژوندی موجود يې ترسره کوي او د هغه د پټو، ښکاره، فزيولوژيکي، عاطفي او عقلاني فعاليتونو څرګندونه کوي. خو واټسن د سلوک اصطلاح هغو کړوړو ته کاروي، چې د ليدلو وړ وي.

واټسن سلوک د دماغي موضوع پرځای هغه يوه محيطي موضوع ګڼي. دده په اند سلوک د ژوندي موجود يوداسې کلي فعاليت دی، چې په هغو کې د مغزو دنده د حسي او حرکي اعصابو او غړو ترمنځ د اړيکو نښلول دي، چې حسي سيستم له غړو سره همغږی کوي. په دې اساس سلوک ته ديوه حسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکتي امر نوم ورکوي. د واټسن په نظر هر یوذهني او باطني فعالیت د بهرني سلوک او کشمکش په نتیجه منځته راځي او له همدې امله اصلي محرکونه، بهرني مسایل دي.

واټسن د یوه انسان د شخصیت څرنګوالی هم د هغه د بهرني چلند او سلوک حاصل بولي، خوترده وروسته اروا پوهان بیا د شخصیت په ټاکلو کې له ظاهري چلند نه ورهاخوا د هغو باطني انګېزو او محرکونو څخه هم یادونه کوي، چې په خپله د عیني سلوک او رفتار د رامنځته کولو لامل ګرځي. د دوی په اند د یوه انسان بېلابېل فکري او ذهني روشونه، کرکې، عقدې، علاقمندی، وېرې، حساسیتونه، انګېزې، سم یا ناسم برداشتونه، وړتیاوې، استعدادونه، صحي وضعیت، د تېر ژوند د تاثیراتو نښې، له تربیوي ماحول نه الهامونه، له اخلاقي، مذهبي او کلتوري معیارونو او ماحول سره د جوړجاړي او سازش ځانګړی طرز او داسې نور ظاهري او باطني عناصر د شخصیت بنسټ جوړوي. دوی په مجموعي توګه شخصیت د هغو ټولو بهرنیو او ننیو صفاتو ټولګه بولي، چې د یوه فرد په ځان او روان کې وحدت پیداکوي او وروسته یې په سلوک، رفتار او کردار کې ځان څرګندوي.

اروا پوهان د افرادو د شخصیت په جوړښت کې دوه لوی لاملونه په ګوته کوي، «وراثت» او «ماحول». خو واټسن بیا په خپلو نظریاتو کې د وراثت سخت مخالف دی، نوموړی د شخصیت په جوړښت کې د محیط رول ته ډېر ارزښت ورکوي. دی وایي، وراثت یو دروني او غیرعیني امر دی او د محیط په پرتله چې مشهود اړخ لري، بې ارزښته دی.

واټسن لیکي:(سلوک پلویان له دې مسئلې څخه چې «دغه هلک د توریالیتوب او تورې وهنې استعداد او قابلیت له خپل پلار څخه په میراث وړی دی» خبرې نه کوي، بلکې وایي «دغه هلک له جسمي لحاظه خپل پلار ته ورته دی... کله چې دغه هلک دری کلن، څلور کلن ؤ، پلار به یې ورته یوه وړه توره په لاس کې ورکړه او د تورې وهنې ټول مهارتونه لکه حمله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع او نور جګړه اییز قوانین به یې ورښودل»... تر زیاته بریده ټول انسانان تقریباً سره برابرې وړتیاوې لري، خو روزنیزحالات، محیطي عوامل او د ژوندانه نور موقعات او امکانات هغه څه دي، چې د ځینو انسانانو وړتیاوې زیاتې ودې وموميو او د ځینو کمې.)

خو اوسني څېړونکي وایي، چې واټسن هېڅکله خپله دغه ادعا ثابته نه شوای کړی، چې د وراثت رول یې په بشپړډول بې ارزښته ګاڼه.

واټسن په خپلو نظریاتو کې ترهرڅه زیات په بهرني سلوک او چلند ډېر ټینګار کوي. دی لیکي:

«سلوک پالنه باید داسې عملي جنبه ولري، چې هر نارینه او ښځینه د خپلو کړو وړو د ژورې پېژندنې او درک لپاره چمتو کړي او هغوی وهڅوي، چې خپل ژوند له سره جوړ کاندي... زه د کوم انقلاب غوښتونکی نه یم...او نه د جنسي آزادیو غوښتونکی یم، زه هڅه کوم، چې په خپلو خبرو کې تاسې ته یوداسې محرک او خوځونکی څه وښیم، چې که چېرې پرهغو باندې عمل وشي، نړۍ به بدلون وکړي...نړۍ هغه وخت بدلون مومي، چې تاسې خپل ماشومان په بې بندوباره آزادۍ کې نه، بلکې د سلوک پالنې په آزادۍ کې تربیه کړئ.»

واټسن د سلوکي څېړنې لپاره څلور کارېدونکي روشونه ټاکلي دي:

۱ : مشاهدي روش

۲ : د شرطي غبرګونونو روش

۳ : کلامي روش

۴ : ازمویښتي روش.

❖ ❖ ❖

د واټسن اصلي علاقه د «ځواب یا غبرګون» له لامل سره ده، دا چې کوم ځواب یا غبرګون د یوه ژوندي موجود خپله ځانګړنه ده؟ واټسن ددې پوښتنې لپاره دوې لارې ښودلې دي: څرنګه چې د فیزیولوژۍ له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبرګونونه د غړو او عضلاتو، غدواتو او عصبي فعاليتونو په واسطه رامنځته کېږي، په دې بنسټ مخطط عضلات د يوه ژوندي موجود د ټولو بهرنيو يا بيرونيو حرکاتو مسئوليت لري او صاف عضلات بيا د بدن د ننيو عضلاتو او اعضاؤ د کارونو مسئوليت لري.

❖ ❖ ❖

د واټسن په نظر، «ټول هيجانات د ځانګړو محرکاتو پر وړاندې له بدني ځوابونو څخه پرته بل څه نه دي. محرک مثلاً «د خطر شتون»، باطني او بدني تغيرات او څرګند غبرګونونه منځته راوړي، چې دغه مفهوم په هېڅ ډول په باطني اندامونو کې يا له باطني اندامونو څخه د رامنځته شويو احساساتو ډلې ته اشاره نه کوي. هرهيجان په جلا توګه د بدن له عمومي درد، سوي او بل ناڅاپي کړکېچ سر تړاو لري...هيجان د ضمني چلند يوه بڼه ده، چې په هغو کې پټ او داخلي ځوابونه يا غبرګونونه په يوشمېر بدلونونو لکه د نبض ضربان او د ساه د هوا چټکتيا، له څېرې رنګ الوتل او نورو کې راڅرګندېږي... هيجان کولی شو، د عيني محرکونو د موقعيت پر بنسټ، د څرګندو بدني غبرګونونو او عقلاني بدلونونو په ترڅ کې وپېژنو.»

د واټسن يوه مشهوره څېړنه په هغو محرکونو پورې اړوند ده، چې په ماشومانو کې هيجاني غبرګونونه او ځوابونه ايجادوي. دده د مشاهدو له مخې، اساسي هيجانونه پر درې ډوله دي: «وېره»، «غوسه» او «مينه».

يو ماشوم له لوړ غږ او د تکيې له ناڅاپي لوېدلو څخه وېرېږي. د بدني حرک له بنديز او ممانعت څخه غوسه کېږي او مينه او محبت يې د پوستکي له لمس کولو او نرم نرم موښلو او خوځولو څخه سرچينه اخلي. چې دا درې واړه شيان په زياتو وړو ماشومانو کې يوازې نازده شوي هيجاني ځوابونه دي.

واټسن وروسته څرګنده کړه، چې ډار او وېره کېداى شي، شرطي شي او د شرطي کېدو له لارې د هغو کچه راکمه شي. دده د تجربې لپاره په هغه ماشوم باندې ازموينه پيل کړه، چې له سويانو څخه به سخت وېرېده. ده به دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم ته هغه مهال سوی ورښکاره کاوه، چې ماشوم به د خوراک په حال کې ؤ. خو سوی به یې دومره لرې ورنه تېراوه، چې په ماشوم کې به یې د وېرې ځواب نه رامنځته کاوه.

دغه سوی یې د څو ورځو په اوږدو کې ورو ورو په همدغه ډول چې ماشوم به د خوراک په حال کې ؤ، ورته نږدې کاوه به یې. بالاخره داسې وخت راورسېد، چې ماشوم به پرته له کومې وېرې په سوی باندې لاسونه وهل. په دې ډول واټسن دا پایله ترلاسه کړه:

چې «د ځینو ورته او مشابه شیانو په مرسته هم کولی شو، ځینې وېرې کنټرول کړو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بي.اف.سکینر



(انسانان د حیواناتو په څېر مخلوقات دي، چې محیط هغو ته بڼه او شکل ورکوي.
مګر موږ له دغه ځواک څخه برخمن یو، چې یا یو نوی محیط د ځان لپاره جوړ کړو او یا
په هغه محیط کې چې ژوند کوو، ورسره ځان جوړ کړو.)

**«سکینر»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بي. اف. سکینر** (B.F.Skinner) د امریکایي اروا پوهانو په ډله کې ترټولو مشهور اروا پوه ګڼل کېږي. نوموړی د «واټسن» او «پاولوف» په څېر د سلوک یا رفتار د مکتب پیرو ؤ او د «هاروارډ»، «مینه سوټا» او «انډیانا» په پوهنتونو کې یې د استادۍ ویاړ درلود.

د څېړونکو په اند، سکینر د اروا پوهنې په تاریخ کې ترټولو جنجال پاروونکی اروا پوه دی. دا ځکه چې نوموړی په دې باور ؤ، چې انسانان باید له محیط سره د تعامل په صورت کې د حیواناتو په څېر وڅېړل شي. سکینر له ۱۹۶۰م کال یعنې د واټسن او پاولوف ترمړینې وروسته د سلوک پالنې د مکتب د رهبر په توګه رامیدان ته شو او زیات شمېر پلویان او مینه وال یې پرځان راټول کړل.

❖ ❖ ❖

سکینر چې بشپړ نوم یې «بوریس فردریک سکینر» دی، په ۱۹۰۴م کال د امریکې د پنسلوانیا ایالت د «سوسکه هانا» په ښار کې زیږېدلی دی. پلار یې وکیل ؤ او مور یې هم لوستې ښځه وه. له همدې امله د سکینر د ماشومتوب مهال دده په خپله ویناد ثبات او عاطفې څخه په ډک محیط کې تېر شوی دی.

سکینر د پوهنتون تروختته په خپله سیمه کې ژوند کړی او هغه ښوونځي ته تللی، چې دده مور او پلار ورنه فارغ شوي وو. نوموړی د ښوونځي پرمهال یو خورا منظم زده کوونکی ؤ، د سهار له خوا به ترخپلو ټولګیوالو مخکې ښوونځي ته تله، ده د خپلو درسونو ترڅنګ له لوبو او نورو تخنیکي شیانو له جوړولو سره هم زیاته مینه درلوده. ده همغه وخت یو بخاري توپ جوړ کړی ؤ، چې هروخت به یې کچالو، پیاز او نور داسې شیان د ګاونډیانو بامونو ته پکې ور وارول. دی یوشوخ ماشوم ؤ، په ښوونځي کې به یې هم شوخۍ کولې، له همدې وجې خو یوځل ورته له ښوونځي څخه د ایستلو ګواښ هم شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکینر د لومړنیو زده کړو تربشپړولو وروسته د نیویارک ښار د «هامیلټون» په کالج کې نوم ولیکه او له همدې کالج څخه یې د انګلیسي ادبیاتو سند ترلاسه کړ. ده هیله درلوده، چې په راتلونکي کې یولوی لیکوال ورنه جوړ شي. په دې اساس یې د یوشمېر ادبي لیکنو، داستانونو او شاعرانه طرحو په لیکلو پیل وکړ. خو چندان موفقې لیکنې یې ونه شوای کړی او دې پایلې ته ورسېد، چې په دې برخه کې د ویلو لپاره کوم مهم شی نه لري.
د ادبیاتو په څانګه کې دغې ماتې او ناکامۍ دومره غمجن کړ، چې رواني ډاکتر ته د تللو په فکر کې شو. همدغه وخت یې د څو اروا پوهانو کتابونه مطالعه کړل او له اروا پوهنې سره یې سخته مینه پیداشوه. په پایله کې دغه بې بریده علاقه ددې لامل شوه، چې د نورو زده کړو لپاره یې د «هاروارد» په پوهنتون کې نوم لیکنه وکړه.
دغه وخت د سکینر عمر د ۲۵ کالو په شاوخوا کې ؤ، خو پرله پسې هلوځلو په دې بریالی کړ، چې وروسته له څو کلونو له دغه پوهنتون څخه په عالي درجه د اروا پوهنې فوق لیسانس او دوکتورا واخلي.
سکینر له ۱۹۳۶م کال څخه تر۱۹۴۵م کاله پورې د «مینه سوټا» پوهنتون استاد او له ۱۹۴۵م کال څخه تر۱۹۴۷م کال پورې د «انډیانا» پوهنتون د اروا پوهانو د ټولنې رئیس ؤ. ده په دغه موده کې ګڼ شمېر داسې اروا پوهنیز ازموینښتونه ترسره کړل، چې نوموړی ته یې د یوه نوي اروا پوه او استاد شهرت وګاټه. له همدې امله په ۱۹۴۷م کال کې چې عمر یې ۴۳ کلنۍ ته رسېده، د هاروارد پوهنتون د استاد په توګه وټاکل شو. سکینر په دې وختونو کې یو کتاب «د ژوندیو چال چلند» په نوم خپور کړ. دغه کتاب په ۸ کالو کې ایله ۵۰۰ نسخې وپلورل شو، ګڼ نقدونه ورباندې وشول، چې زیات یې منفي وو. خو ۵۰ کاله وروسته همدغه کتاب د اروا پوهانو له خوا یو داسې جالب کتاب وګڼل شو، چې د نوې اروا پوهنې څېرې ته یې بدلون ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکينر لکه څنګه چې په ځوانۍ کې په ليکوالۍ او ادبياتو کې ماتې خوړلې وه، په ۱۹۴۸م کال کې يې د يوه ناول په ليکلو، چې «والدون دوه» نومېده، دغه ماتې په برېيا بدله کړه او د څوکلونو په بهير کې د دوه نيم ميليونو په شمېر وپلورل شو.

په دغه ناول کې يوه کليوالۀ ټولنه انځورېږي، چې ناوړه چارې يې د مثبتو چلندونو په واسطه کنټرول مومي. ددې ناول اصلي کرکټر «ټي. اې. فريزر» دی، چې سکينر د همدغه کرکټر په چلند او خبرو کې خپل ويل او پيغام ټولنې ته وړاندې کوي. سکينر يې په اړه وايي:

«ما اجازه ورکړه، چې فريزر هغه څه ووايي، چې په خپله ما د هغو د ويلو لپاره چمتووالی نه درلود.»

نه يوازې د سکينر يادو کتابونو شهرت وموند، بلکې نورو کتابونو لکه «د ارګانيزمونو چلند»، «زما د ژوند جزيات»، «د سلوک پالنې په اړه» او «پوهه او د انسان چلند» يې هم د لوستونکو له هرکلي سره مخ شول.

سکينر د زياتو هلوځلو له امله څوځله د امريکا دهغه وخت د حکومت او خلکو له خوا ستايل شوی او په يو لړ مادي او معنوي امتيازاتو وياړل شوی دی. چې د هغو له جملې څخه «دعلم مډال» يادولی شو، چې په ۱۹۶۸م کال چې سکينر ۶۴ کلن ؤ، د امريکا د هغه وخت د ولسمشر «ليندون جانسن» له خوا ده ته ورکړل شو.

سکينر د مرګ تروخته يعنې تر ۸۶ کلنۍ پورې له کار او څېړنې لاس وانه خيست او په همغه علاقه به يې هڅه کوله، لکه ۶۰ کاله مخکې چې يې کوله. دی به معمولاً د خپل کور په تل خونه «ريز زمينۍ» کې ويده کېده، د کټ ترڅنګ به يې د کتابونو ډکې قفسچې ايښې وې. د سهار له خوا به وختي پاڅېد. ترخوراک وروسته به يې څوساعته کار کاوه او وروسته به پلی پوهنتون ته تلو. ده به ويل: «ترهرڅه نه زيات له ليکلوخوند اخلم، که چېرته يې پرېږدم، شايد د خفګان ښکار شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۸۹م کال یا هغه وخت چې سکینر د زړبودۍ پر پوله ولاړ ؤ، ناروغي ورته پیدا شوه، کله چې یې درملنې ته مراجعه وکړه، نو ورته وویل شول، چې ناروغي دې خطرناکه ده او تر دوو میاشتو نور به ژوندی پاتې نه شې. په همغه وخت نوموړي یې له یوې راډیو سره په مرکه کې وویل:

«زه مذهبي نه یم، له دې مخې کومه وېره نه لرم، چې وروسته له مرګه به څه راباندې راشي. کله چې ماته وویل شول، چې په دغه ناروغۍ اخته یې او په څو میاشتو کې به مړ شې. زه له هېڅ ډول هیجان، وېرې او تشویش سره مخ نه شوم. یوازنی شی چې زه یې متاثره کړم او واقعاً په سترګو کې مې یې اوښکې راوستې، هغه مهال ؤ، چې فکر مې وکړ، چې دغه موضوع باید خپلې لور او مېرمنې ته ووایم. پوهېږئ! کله چې مرئ، هغه کسان چې دوستان لري آزار ویني... ما یو ښه ژوند درلود، ډېر به احمقانه وي، چې له هغو څخه په شکایت سر شم. په دې اساس زه به له دغو څو میاشتو څخه هم داسې خوند واخلم، لکه تل چې مې له خپل تېر ژوند څخه اخیستی دی.»

سکینر له مړینې څخه ۸ ورځې مخکې چې بدن یې د ناروغۍ له امله سخت ضعیف شوی ؤ، بوسټون ته د امریکا د اروا پوهانو ټولنې ته راغی او خپله نوې لیکل شوې مقاله یې واوروله.

په پای کې دغه ستر روان پوه، ناروغۍ پرې نه ښود، چې نور د ژوند په لاره ګام واخلي. همغه وو، چې په ۱۹۹۰م کال کې له ژوند سره مخه ښه وکړه. دی د وینې سرطان ؤ!

❖❖❖

سکینر په خپلو څېړنو کې څرکندوي: «د اروا پوهنې علم د تېروتنو په ځای کې د انسان سلوک څېړي. موږ نور په دې باور نه شو پاتې کېدلی، چې وایي، ځینې انسانان په بشپړ ډول د شیطانانو له خوا یرغمل شوي دي او یا په هغه باور، چې ګویا ټول انسانان په خپل باطن کې یو جادویي جوهر لري، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی هرسلوک او چلند ته لوری او بڼه ورکوي. نن موږ په انساني طبیعت باور لرو.»

د سکینر په اند: «د انساني طبیعت زیاته برخه له محیطي انګېزو څخه رنګ اخلي، په دې توګه اړینه نه ده، چې د ځینو سرسري احساساتو او ذهني تمایلاتو له مخې د انسان بشپړ سلوک او چلند وارزوو. د انسان د چلندونو او رفتارونو په اړه چې څومره پوهېدلی شو، هغه به دا وي، چې کوم څه ددې لامل شوي، چې دغو چلندونو او رفتارونو ته یې بڼه ورکړې؟ څرګنده ده، چې ددغه لاملونو ډېره برخه به په محیط کې مومو. موږ معمولاً خپل چلند ته له دې امله بدلون ورکوو، چې کوم شی په محیط کې د ښه او کوم شی د بد په نوم پېژندل شوي دي. یا موږ خپل سلوک ددې پر اساس تغیروو، چې کوم شی راته سم او کوم راته ناسم دي. موږ ظاهراً داسې فکر کوو، چې کوم چلند چې له ځانه ښیو، په هغو کې بشپړ خپلواک یو. مګر که چېرې دقیق شو، وینو داسې څه شته، چې زموږ چلند پیاوړی کوي او دغه څه تر ډېره هماغه محیطي انګېزې او معیارونه دي. په دې بنسټ، زموږ شخصیت د هغو تعاملاتو حاصل دی، چې موږ یې له هغو نړۍ سره کوو، چې پکې زیږېدلي یو.»

پوهاند حکیم، د خپل کتاب «د اروا پوهنې ښوونځي» په یوه برخه کې د ځینو بهرنیو سرچینو په حواله د سکینر د مفکورو په باب لیکي:

«د سکینر اروا پوهنه د طبعي جبر پر بنسټ استواره ده. دهغه په عقیده د انسان د سلوک علمي توصیف دقضیې یو اړخ او د فرد د آزادۍ فلسفه د قضیې بل اړخ دی... د انسان سلوک له علمي نظره د علمي جبر تابع او منونکی دی. په علمي جبر کې هرسلوک علت لري... هغه جبر چې د ماشین په کار کې موجود دی، د انسان د سلوک په هکله هم صدق کوي. نن ډېر داسې ماشینونه جوړ شوي دي، چې په یوډول د انسان له سلوک سره ورته والی لري. لنډه دا چې انسان ماشین د ځان په شکل جوړ کړی دی. علمي جبر ددې واقعیت ښکارندوی دی... پوه او عالم د بل هر وګړي غوندې د ځانګړي تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محصول دی... خو په دې ټرګند حقیقت اعتراف کوي، چې پوهه او عالم هم لا په مطلقه معنا آزادي نه لري. پوهه د پدیدو خطِ سیر، هغسې چې طبیعت تعین کړی دی ښکاره کوي او نه شي کولی، په هغه مسیر کې مداخله وکړي، نو په دې خاطر پوهه د طبعي چارو جریان او د ژوند په چاپېریال کې د انسان د سلوک توضیح ده.»

د نړۍ د ستونزو د هواري په برخه کې اوسنۍ ساینسي ټکنالوژۍ کار ورکړئ، خو په دغې ټکنالوژۍ کې داسې څه هم شته، چې بشر یې له تشویش سره مخ کړی دی. د ساري په ډول اټومي بمونه او نورې تباه کوونکې وسلې هغه څه دي، چې د ځمکې پرمخ د انسان ژوند ګواښي. سکینر په انساني ټولنو کې یو د بل پر وړاندې د مضرې ټکنالوژۍ د ودې پرځای د سلوک او رفتار د ټکنالوژۍ دود کول د حل لاره ګڼي، دی لیکي: «د حل یوازنۍ لاره هغه وخت راپیدا کېږي، چې انسان یې خپل سلوک، رفتار او چلند ته بدلون ورکړي. دا ځکه چې انسان د ټولو مشکلاتو علت دی... په انساني ژوند کې د فزیک، کیمیا او بیولوژیکي علومو پر نسبت اروا پوهنې ته کمه پاملرنه شوې ده. په لرغوني یونان کې انسانانو د خپل چلند په اړه معلومات د هغه درک په اندازه کول، چې دوی همغه وخت له جهان او محیط څخه درلود. خو نن چې محیط او د ژوند چارو بدلون کړی، کار ماشیني شوی، معلومات ډېرشوي، فضا ټکنالوژۍ په سر اخیستې، خو زموږ هغه درک چې له خپله ځانه یې لرو، تقریباً هماغسې پاتې دی او چندان وده یې نه ده کړې.»

سکینر ددې هرڅه پرځای د نړۍ د ستونزو د حل لپاره اصلي ټکی د انسانانو روان پالنه یا رواني ځان جوړونه ګڼي. نوموړی ددغې جوړونې په باب د نورو اروا پوهانو په خلاف بل ډول نظر لري. دی وایي:

«موږ نه شو کولی د افراد ذهن وربدل کړو. یوازې دا کولی شو، چې هغه سلوک او محیط چې د افرادو ذهن ته بڼه ورکوي بدل کاندو. په همدې توګه تاسې نه شی کولی، د خلکو په زړونو کې نیت یا هدف ایجاد کړئ، خو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي، چې ځینې چلندونه هغو ته جذاب کړئ او یا له ځینو چلندونو څخه جذابیت راکم کړي.»

سکینر د افرادو په ذهني، رواني او په مجموع کې د افرادو په شخصیتي جوړښت کې د محیط رول ترټولو مهم بولي او ددغه مطلب د توضیح لپاره په ځینو ځایونو کې ان له افراطه کار اخلي. لکه چې وایي:

«انسان په دې دلیل اخلاقي حیوان نه دی، چې بېل ډول ځانګړنې لري، بلکې د انسان اخلاقي توب په دې کې دی، چې یو داسې اجتماعي محیط یې جوړ کړی دی، چې هغه نوموړی اړباسي، چې اخلاقي چلند او سلوک له ځانه وښیي.»

سکینر په ټولنه کې د افرادو د چلند او سلوک بدلون د زور او شکنجې له لارې سم نه ګڼي، بلکې د کنټرول او مثبت تقویت پلوي کوي. د سلوک بدلون د مثبت تقویت له مخې یو مشهور فن دی، چې په رواني روغتونونو، زندانونو او ښوونځیو کې د ناوړه او نامطلوبو چلندونو د سمولو او مثبتولو په موخه کارول کېږي. د سکینر په دې اړه زیاتوي:

«که چېرې یو ماشوم په پام کې ونیسئ، کله چې د خوړو د لاسته راوړلو لپاره شور او لانجه جوړوي، نو که چېرې یې والدین ددغه ماشوم د غوښتنې په مقابل کې تسلیم شي. په حقیقت کې د هغه د نامطلوب سلوک تقویه کوي... په دې ترتیب موږ هغه مهال د یوه ماشوم چلند بدلولی شو، چې له هغو سره یې مخکنی چلند یا نامطلوب عمل تائید نه کړو. په همدې ډول د رواني ناروغانو سره په چلند کې د هغو د ناسمو رفتارونو په نه تقویت سره کولی شو، د هغه په سلوک کې مثبت بدلون ته لاره هواره کړو.»

✵ ✵ ✵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آلفرډ آدلر



(د تکبر د ټولو ډولونو انګېزه یوه ده، متکبر انسان د ځان لپاره یو داسې هدف ټاکي، چې په نړۍ کې د لاسته راوړلو وړ نه وي. دی غواړي په دغې نړۍ کې بل هېڅوک تر ده مهم او موفق نه وي، خو پوهېږئ! دغه هدف دده د بې کفایتۍ د احساس مستقیمه پایله ده.) «**الفرډ آدلر**»

(ټولې اروایي ناروغۍ له ټولنې څخه د ګوښه توب له امله پیداکېږي، څومره چې موږ له ټولنیز ژوند څخه لرې کېږو، هغومره به موږ په زیاتو اروایي ستونزو او ناروغیو اخته کېږو.) «**الفرډ آدلر**»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**آلفرډ آډلر** (Alferd Adler) د اتریش د هېواد هغه نامتو اروا پوه دی، چې د لومړي ځل لپاره یې په ارواشننه یا روانکاوۍ کې د ټولنیزې اروا پوهنې تطبیق ته لاره هواره کړه. نوموړی که څه هم د «**زیګموندفروید**» د نظریاتو پلوی ؤ، خو له څه مهال تېرېدو وروسته یې د هغو له ځینو څرګندونو سره مخالفت وښود او د خپلو څلورو نورو ملګرو په ملتیا یې یوه بله ډله جوړه کړه، چې د هغو ډلې یوه لاسته راوړنه د «ټولنیزو علاقو» د نظریې رامنځته کول وو.

❖❖❖

آلفرډ آډلر په ۱۸۷۹م کال د اتریش هېواد د وین ښار په یوه بډایه کورنۍ کې وزیږېد. نوموړی د خپل پلار د «۷» اولادونو له ډلې دوهم زوی ؤ. دی او یو بل کوچینی ورور یې د پلار د نورو اولادونو په پرتله ضعیف او خوار اندامي وو او هر وخت به یې له ناروغیو سرټکاوه. په پایله کې آډلر له ناروغۍ روغ راووت او کوچینی ورور یې مړ شو.

په همدې بنسټ آډلر همغه مهال له ځانه سره پرېکړه وکړه، چې په راتلونکي کې باید یو پیاوړی ډاکتر ووسي. نوموړی په کوچینوالي کې له بېلابېلو عقدو سره مخ ؤ، له مشر ورور سره یې کینه وه، هغه به کله ناکله ځوراوه او مور یې هم د مشر زوی او ده ترمنځ توپیر کاوه. په دې توګه به آډلر د مور په پرتله له پلار سره زیات د نږدېکت احساس کاوه.

آډلر چې کله په ښوونځي کې شامل شو، ښوونکي یې پلار ته وویل، چې دغه زوی دې د هېڅ لوبې نه دي! خو آډلر په وړوکي او کمزوري ځان هڅه وکړه، چې په خپلو کمزوریو او حقارتونو لاسبری شي او د یوه داسې انسان په بڼه څرګند شي، چې تل د تحقیر شویو انسانانو لاس نیوی وکړي.

آډلر د ښوونځي له بشپړولو وروسته په وین پوهنتون کې د طب پوهنځي ته ومنل شو. ده خپل مونوګراف د خیاطانو د صحي شرایطو په هکله ولیکه او له څو کلنو زده کړو وروسته یې یاد پوهنځی په بریالیتوب سره پای ته ورساوه. نوموړي تردې وروسته د یوه ډاکتر په توګه کار پیل کړ، خو د ناروغانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



درملنې پرمهال د هغو رواني ستونزو او ذهني اختلالاتو دده پاملرنه د اروا پوهنې خوا ته چې په هغه پېړۍ کې د يوې نوې او جالبې پوهنې په توګه رامنځته شوې وه ور واړوله. آډلر دا وخت د يوشمېر نامتو اروا پوهانو اثار مطالعه کړل. دغې مطالعې نوموړی وهڅاوه، چې دخپل هېواد له وتلي روان پوه «زيګموندفرويد» سره وپېژني. همغه ؤ، چې د فرويد او نيزو غونډو ته يې لاره پيدا کړه.

په دغو غونډو کې به فرويد او نورو ګډونوالو په بېلابېلو اروا پوهنيزو مسايلو بحث کاوه. څرنګه چې آډلر ان د ماشومتوب له مهاله زحمت کش او هڅاند انسان ؤ، نو په کم وخت کې يې د نورو ګډونوالو په پرتله زيات ته وړتيا وښوده. آډلر کابو «۱۰» کاله له فرويد او د هغه د روانکاوۍ يا ارواشننې له مفکورې سره ملګرى پاتې شو. خو تردې وروسته يعنې هغه مهال چې نور يې په اروا پوهنه کې د استادۍ وړتيا ترلاسه کړه، د زيګموندفرويد له ځينو نظرياتو سره يې اختلاف پيدا شو.

فرويد هڅه کوله، چې دغه اختلاف له منځه يوسي او آډلر په يونه يو ډول تر خپل بشپړ اغېز لاندې راولي. په دې سبب يې د وين د روانکاوۍ ټولنه دده «آډلر» په نوم ونوموله. خو دې هڅې هم ونه شواى کړاى، چې د دوى ترمنځ د نظر بشپړ يووالى راولي. په پايله کې آډلر د فرويد هغه نظريات چې په هغو کې پر جنسي مسايلو زيات تمرکز کېده چټل وګڼل او فرويد بيا ده ته د ناوړه او د شهرت د لېوني خطاب وکړ.

په دې ډول په ۱۹۱۱م کال د دواړو ترمنځ په بشپړ ډول اړيکې پرې شوې او يو کال وروسته آډلر د «فردي اروا پوهنې ټولنه» تاسيس کړه. آډلر په دغه وخت کې «د رواني مړاويتوب د منځته راتګ څرنګوالى» په نوم کتاب خپور کړ. خو دا هغه وخت ؤ، چې نور لومړۍ نړيواله جګړه راپيل شوه او د نورو څېړونکو او پوهانو په څېر د آډلر کارونه هم په ټپه ودرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تردې وروسته نوموړي د اتریش په پوځ کې د ډاکتر په توګه ګڼ خدمتونه ترسره کړل. وروسته یې په وین ښار کې د ماشومانو د رواني درملنو بنسټ کېښود، ددغه روغتون څانګې ډېر ژر د ښار نورو برخو ته ولېږدول شوې او «۲۲» نور روغتونونه ورڅخه ورغول شول، خو په ۱۹۳۲م کال کې دولتي چارواکو دده په روغتونونو بندیز ولګاوه.**

**په دې سره آډلر اړ شو، چې د مهاجرت لمنه ونیسي. نوموړی امریکا ته ولاړ، هلته د خلکو له هرکلي سره مخ شو او د نیویارک د «لانګ آیلنډ» پوهنتون د ارواپوهنې استاد وټاکل شو. آډلر دا مهال د امریکا له ځینو نورو پوهنتونونو سره هم همکاري درلوده او په ګڼو غونډو کې به یې ویناوې کولې. په حقیقت کې همدغه ویناوې وې، چې نوموړی یې په اروپا او امریکا کې شهرت ته ورساوه.**

**آډلر ته ژوند زیات فرصت ورنه کړ. یوه ورځ چې سکاټلیند ته د وینا لپاره تلل ؤ، مخکې له دې چې وینا یې اورولې وی، د زړه حمله ورباندې راغله او د تل لپاره یې له نړۍ سره مخه ښه وکړه. دغه وخت نوموړی ۵۸ کلن ؤ.**

**آډلر نه یوازې په پوهنتونونو او نورو علمي او څېړنیزو مراکزو کې تدریس او ویناوې کولې، بلکې یو شمېر داسې کتابونه یې هم ولیکل، چې دده نوم به یې د یوه اوچت اروا پوهاند په توګه تړېره ژوندی ساتلی وي. دده د مشهور اثارو نومونه دا دي:**

- **د ژوند علم**
- **د فردي اروا پوهنې تیوري او کارول**
- **هغه معنا چې ژوند یې ستا لپاره لري**
- **د رواني مړاویتوب د منځته راتګ څرنګوالی**

❖❖❖

**د آډلر نظریات که څه هم د فروید د نظریاتو پر بنسټ راخوځېدلي، خو بیا هم په ځینو غټو ټکو ورسره توپیر پیدا کوي. فروید به ویل، انسان په بشپړ ډول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تحت الشعور یا لاشعور تر اغېز لاندې دی، خو آډلر وایي، چې انسان د «لاشعور» په پرتله له «شعور» څخه زیات اغېزمن دی. په دې چې د انسان په چال چلند او سلوک کې چې کوم رول شعور یا ځان خبره ذهن لري، هغه رول لاشعور یا ځان ناخبره ذهن نه شي درلودلی. همداراز آډلر انسان یو اجتماعي موجود ګڼي، چې خپل ماحول ته د ځواب ورکولو او د خپلو نیمګړتیاؤ د پوره کولو په حال کې د خپل ژوندانه سبک او لاره ټاکي. دی وایي: «ټول انسانان په فطري توګه یو ډول فردي هویت او قدرت ته د رسېدو په لټه کې دي او له دې لارې ټول انسانان له خپل ماحول سره د جوجاړي په هڅه کې دي.»

آډلر له فروید سره په دې نظر کې همغږی دی، چې وایي «د انسان روان او ذهن په ماشومتوب کې بڼه نیسي او د ماشومتوب د مهال خاطرې، عقدې او نور چلندونه د ژوند ترپایه پورې د انسان پروراني او ذهني حالت اغېز لري.»، خو د فروید له هغه نظر سره بشپړ مخالفت ښیي، چې وایي:

«د انسان جنسي تمایلات د هغه د رواني انګېزو اصلي محور دی.»

آډلر څرګندوي: «یوماشوم په داسې ماحول کې رالویېږي، چې زیات وګړي یې تر ده لوی او قدرتمن دي. دی په جدي ډول د لویو وګړو د چال چلند تر اغېز لاندې راځي. له هغوی څخه په شعوري او لاشعوري توګه زده کړه کوي او ورځ تر بلې یې ذهن دا موضوع بوخت ساتي، چې باید ترځانه د لویو وګړو په څېر چلند، رویه او مقام راخپل کړم. د دا ډول تشو د ډکولو احساس د ماشوم د زده کړې او یاد ګیرۍ په تجربو بدلېږي... ماشوم په یوه نه یو ډول په خپل ځان کې د لویانو په پرتله د کمښت یا کمبودۍ احساس کوي او تل هڅه کوي، چې دغه نواقص جبران کړي، چې دغه پروسه د ماشوم د ودې او رشد اصلي ټکي دي.»

آډلر دغه مطلب په یوه جمله کې داسې رالنډوي: «په زرګونه ځواکونه او استعدادونه د کمبودۍ له احساس څخه سرچینه اخلي!»

آډلر یو بل ځای وایي: «هغه څه چې تربل هرڅه زیات اهمیت لري، دا دی، چې ایا مور خپلې کمبودۍ د یوه مشکل په توګه پېژنو او که نه؟... د انسان هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تلاش تل د حقارت او کمبودۍ د احساس د نفې کولو پر مهال بڼه غوره کوي، چې دغه بهیر په خپل وار سره د یوه شخص ټول ژوند ته لوری ورکوي.»

آډلر دغه بهیر ته چې انسان پکې د ژوند د چارو سرته رسولو او په مجموع کې د خپل ځان د جوړولو لپاره پارول کېږي، د حقارت د عقدې نوم ورکوي. د آډلر په اند د افرادو د چال چلند او رفتار ټاکونکې قوه، همدغه د حقارت عقده ده. نوموړی د خپلې دغې وینا د روښانولو لپاره په مثال کې زیاتوي: «هغه وګړي یا ماشومان چې بدني کمزوري لري، هرکله د خپلې دغې کمزورۍ د جبران هڅه کوي. ذکر او فکر یې دا وي، چې خپله نیمګړتیا رفع کړي، ښایي له داسې افرادو څخه د سپورټ قوي لوبغاړی جوړشي. همدا راز هغه افراد چې په ماشومتوب کې د ژبې او خبرو کولو ستونزه لري، ممکن د وینا درملنې یا ګفتار درمانۍ له لارې په یوه اوچت وینااوال بدل شي.»

آډلر د فرانسې د مشهور امپراطور «ناپلیون» یادونه کوي، چې ټیټ قد یې درلود او په ماشومتوب او نوې ځوانۍ کې به له دغه ټکي ځورېدا، ښایي دا او دې ته ورته لامل به وو، چې هغه په یوه مقتدر واکمن بدل شو.

آډلر د خپلو څرګندونو په لړ کې زیاتوي:

« په انساني ټولنه کې د حقارت د احساساتو جبران د افرادو او جامعې په خیر دی او ددې په مقابل کې ددغه ډول احساساتو په جبران کې پاتې راتلل او ماتې خوړل، د حقارت د عقدې د پایښت او ټینګښت لامل کېږي، چې په پایله کې فرد تردې بریده کمزوری کوي، چې د ژوندانه له زیاتو مسایلو سره په مخامخ کېدو کې له ماتې سره مخامخ کېږي.»

د آډلر په نظر: «که چېرې د یوه انسان په ذهن کې د حقارت عقده شدیده او ځنډنۍ شي او د هغو د جبران لاره ونه لیدل شي، نو انسان بیا یو ډول منفي غبرګونونو ته هڅوي. د ساري په ډول که چېرې یو سړی په ټولنیز ژوند کې کم راشي او د حقارت په یوه دوامداره احساس کې ونښلي، هغه بیا وخت ناوخت خپله باطني غوغا رابرسېره کوي او تر ډېره یې د یوه ناسالم او افراطي چلند په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکاټ کې وړاندې کوي. مثلاً د حسد، کینې، ګوښه ګیرۍ، وېرې، د اجتماعي نزاکت نه مراعات کولو، ځان ته په کمه سترګه کتلو یا ځان لوی لیدلو، تظاهر او نورو ناسمو اعمالو په بڼه یې څرګندوي.»

آډلر یو بل ځای د انسان د شخصیت پر وحدت او همسازۍ باندې ټینګار کوي، چې په هغو کې محرک ځواک او نور منابع، انسان د یو اوچت هدف په لور رهبري کوي. نوموړی وایي؛ د ځان د لوړتیا لپاره کوښښ کول، ذاتي جنبه لري، چې د ټولو پرمختیاؤ سبب کېږي... پراختیا غوښتنه او پراختیا لټونه یوه عامه مرحله ده. د پرمختیا لپاره د انسانانو هڅه په بېلابېلو مسیرونو کې څرګندېږي. هرشخص په خپل ځان کې د ژوند او حالاتو په مقابل کې د ځواب ویلو طریقې ته «چې د ژوند سبک او روش هم ورته ویل کېږي» وده ورکوي. د ژوند سبک او روش د هغو چلندونو مجموعه ده، چې دیوه شخص په وسیله د واقعي یا خیالي نیمګړتیاؤ د جبران لپاره ترسره کېږي.

د ساري په ډول هغه ماشوم چې بدني ضعیفي لري، د ژوند سبک یې له هغو ټولو فعالیتونو څخه عبارت دی، چې د بدني ځواکمتیا د لاسته راوړلو لپاره یې پکاروي. دغه سبک ورو ورو د ماشوم د راتلونکي ژوندانه لپاره د یوه چوکاټ بڼه غوره کوي... له بلې خوا هغه ماشوم چې په افراطي ډول د مور او پلار له خوا یې تر نظر لاندې نیول کېږي، یا ناز ورکول کېږي. ښایي یو ځان مداره Self-centred او له اجتماعي علاقو څخه لرې ماشوم ورڅخه جوړ شي او ددې په مقابل کې هغه ماشوم چې له پامه غورځول کېږي او هېڅ ډول پاملرنه ورته نه کېږي، ددغه ډول ماشوم د ژوند سبک او روش له ټولنې څخه د غچ اخیستلو په بڼه راڅرګندېږي.

آډلر په اروا پوهنه کې د انساني طبیعت د سمې طرحې د وړاندې کولو په موخه لیکي: «له ټولنې سره د جوجاړي روحیه، د اروا پوهنې تر ټولو مهمه دنده ده.» آډلر هغه اشخاص چې له ټولنې سره د هېڅ ډول جوړجاړي هوا نه لري، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې دښمن ګڼي. دی د مثال په ډول د مغرور او ځان ليدونکي انسان يادونه کوي او ليکي:

«مغرور او ځان وينی انسان هڅه کوي، خپله اصلي څېره پټه کړي...ددغه ډول افرادو په ژوند کې ټول شيان په دې پوښتنې پای ته رسي؛ دغه کار يوازې زما لپاره څه ګټه لري؟» آډلر له دغه ابهام سره مخامخ ؤ، چې ايا ټول هغه برياليتوبونه او کارونه، چې د بشر لپاره شوي، د ځان وينۍ «خودبيني» حاصل دي؟ ايا د نړۍ د بدلولو په لاره کې ځان لوی ليدنه ترټولو مهمه انګېزه ده؟...

د آډلر ځواب د دا ډول پوښتنو پر وړاندې منفي دی. دی وايي:

«هغه لوی کارونه چې د بشريت په خدمت کې ترسره شوي، د ځان غوښتنې يا خودخواهۍ حاصل نه دي، بلکې د نورو د غوښتلو حاصل هم دي. موږ ټول تريوه بريده ځانويني يا خودبين يو، مګر هغه انسانان چې د سالم روان خاوندان دي، کولی شي دغه انډول وساتي او نورو ته هم پام وکړي. ځان ليدونکي انسانان په ټوليز ډول اجتماعي اړتياو ته ژمن نه وي... دوی ځان په هرحالت کې ترنورو لوړ ګڼي او د نورو په تورنولو کې تخصص لري.»

✵ ✵ ✵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آبراهام مازلو



(د انسان یوه ستونزه دا ده: دی د ژوند په هره شېبه کې ویني، چې انسان والی څومره سخت دی.)

**«آبراهام مازلو»**

(که چېرې یو انسان له خپل کار او دندې څخه خوشاله نه وي، د خپل ځان د لاسته راوړولو یوه ترټولو مهمه لار یې ورکه کړې ده.)

**«آبراهام مازلو»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**آبراهام مازلو** «Abraham Maslow» د بشري یا انسان پالې ارواپوهنې پلار بلل کېږي، چې د ارواپوهنې په نوي بهیر کې یې تر بل هرچا اوچت ګامونه اخیستي دي. په شلمه میلادي پېړۍ کې دده نظریات ارواپوهنې ته نوې ساه وربښي. د څېړونکو په اند، د آبراهام مازلو لیکنې نه یوازې له علمي اړخه معتبرې دي، بلکې د عامو لوستونکو له خوا یې هم ښه استقبال شوی دی او تراوسه پورې یې په خورا مینې او علاقې سره آثار لوستل کېږي.

مازلو به ویل: « که یوڅوک غواړي، چې ددغې ظاهري نړۍ په یوه برخه کې د مینې او دوستۍ وړ واقع شي، نو لومړی باید په خپل ځان کې دننه یا په خپل باطن کې د نړۍ له همغې برخې سره مینه او دوستي وکړي.»

❖❖❖

آبراهام مازلو په ۱۹۰۸م کال د نیویارک د «بروکلین» ښار په یوه فقیر مېشته سیمه کې زېږېدلی دی. دی د پلار مشر زوی ؤ، ځنګه چې دده مور او پلار دواړه نالوستي روسي مهاجر وو، نو هڅه یې دا وه، چې په ټولو اولادونو یې زده کړې وکړي. خو له دې سره هم د مازلو ماشومتوب له ناخوا ډک ؤ. نوموړی یو شرمګیر، خو د عالي استعداد خاوند هلک ؤ. دده مور چې یوه خرافاتي یهودۍ مېرمن وه، هرکله به یې کوچینی مازلو تهدیداوه او خپلو دوو نورو زامنو ته به یې چې تر مازلو کشران وو ترجیح ورکوله. مازلو د مور له دغه چلند څخه د ژوند تر پایه پورې خوابدی ؤ. ده به د ماشومتوب او نوې ځوانۍ پرمهال د خپل بدن د ډنګرو غړو له امله د حقارت احساس کاوه. خو ددې لپاره چې دغه تشه جبران کړي، د سپورټي مهارتونو په زده کړه یې لاس پورې کړ. دده پلار غوښتل چې له زوی «مازلو» څخه یې په راتلونکي کې یو تکړه حقوقپوه جوړ شي.

په همدې سبب مازلو خپلې زده کړې د حقوقو په برخه کې د نیویارک په یوه کالج کې پیل کړې. ددغو زده کړو تر بشپړولو وروسته د «ویسکانسن» پوهنتون ته ولاړ، هلته یې له ارواپوهنې سره علاقه پیدا شوه او په همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګه کې یې د لوړو زده کړو لپاره متې راونغښتې. په پایله کې په ۱۹۳۴م کال په اروا پوهنه کې د دوکتورا په اخیستو بریالی شو.

مازلو په دغو رسمي زده کړو بسنه ونه کړه او د لا نورو زده کړو لپاره یې د کلمبیا پوهنتون ته مخه کړه، هلته یې له مشهور اروا پوه «آلفرډ ادلر» سره وپېژندل او د هغو له څېړنو او لیکنو څخه یې ګټه واخیسته. ده همغه مهال له یوشمېر نورو اروا پوهانو لکه، کارن هورنای، ورتایمر، کورټ کافکا او نورو سره هم راشه درشه پیدا کړل. همدا راز یې د امریکا د نامتو بشر پېژندونکي «روت بندیکت» د اثارو او نظریاتو مطالعې د نوموړي پام له رواني او اجتماعي اړخه د مثبتو اشخاصو د روزلو په لور راواړاوه.

مازلو تر زده کړو وروسته ۱۴ کاله د «بروکلین» په کالج کې تدریس وکړ، خو تر هرڅه لومړی دده هڅه دا وه، چې په یوه نه یوه توګه اروا پوهنه انساني کړي. مګر ځینو دودیزو اروا پوهانو دی په سمه نه پرېښود او که هرڅومره به لوستونکو او محصلینو دده هڅې ستایلې، بیا هم دده له خوا په اروا پوهنه کې د زړو عنعنو نه رعایت ددې لامل ؤ، چې یوشمېر اروا پوهانو به دده په کړیو کارونو ستر ګې پټولې.

مازلو په ۱۹۴۵م کال چې ۳۷ کلن ؤ، د «انحراف د اراپوهنې اصول» کتاب یې خپور کړ او دوه کاله وروسته یې یوه بله مشهوره مقاله چې د انګېزې تیوري نومېده له چاپه راووتله. له ۱۹۵۱م څخه تر ۱۹۶۹م کال پورې د براندایس پوهنتون د اروا پوهنې د ټولنې ریاست دده پر غاړه ؤ او ده همدغلته خپل بنسټیز نظریات تدوین او د «شخصیت او انګېزې» په کتاب کې یې خپاره کړل. نوموړی تردغو هلوځلو وروسته د امریکا د وتلیو اروا پوهانو په ډله کې راغی او په پایله کې د امریکاد اروا پوهانو د مجلس د عمومي رئیس په توګه وټاکل شو. اوسني څېړونکي په دې باور دي، چې تر آبراهام مازلو مخکې اروا پوهنه پر دوو برخو وېشل شوې وه. یوه لوري ته د سلوک پلویان واقع وو، چې ځینو افراطي پلویانو یې انسان ته د یوه ژوندي ماشین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطاب کاوه او بل لوري ته د روانکاوۍ یا اروا شننې پلویان وو، چې ټول رواني مسایل به یې د لاشعور په تله تلل. همغه وو، چې آبراهام مازلو یوه دریمه څانګه د بشري یا انسان پالې اروا پوهنې په نوم رامنځته کړه.

دغه اروا پوهنه د روانکاوۍ له هغه ټکي سره موافقه نه کوي، چې وایي، د انسان چلند په جبري توګه په لاشعور کې د ځپل شویو او ټپل وهل شویو غریزو او د ماشومتوب د دورې د خاطرو او انګېزو په واسطه رهبري کېږي. بلکې وايي؛ انسان هر وخت کولی شي، چې پرخپل سرنوشت باندې اغېز وکړي او یا حتی' هغه کنټرول کړي. ځرنګه چې انسان خپلواک دی، نو کولی شي د ځان لپاره بدمرغي او یا نېکمرغي په خپله وټاکي. خو هغه څه چې یو انسان په فزیکي او رواني توګه په حرکت راولي، په واقعیت کې هغه لیدلوری، انګېرنه، برداشت او اخیستنه ده، چې انسان یې د ځان او چاپېریال په وړاندې لري. د انسان پالې اروا پوهنې د سرلاري په توګه د آبراهام مازلو په ټولو څرګندونو کې انسان ته یو ځل بیا ارزښت ورکول کېږي او د انتخاب او خپلواکۍ انګېزه ورته په ګوته کېږي، چې په هغو کې انسان خپل باطني تمایلات، غوښتنې، هیلې او د ځان جوړونې ارادې په واقعیت بدلولی شي. مازلو لیکي:

«د بشر تاریخ د انساني فطرت د ټیټ ګڼلو او هغو ته په کمه سترګه کتلو له روشونو ډک دی. په تاریخ کې کوم لوی انتظارات چې افرادو له خپله ځانه درلودلي، همېشه ډېرکم لیدل کېږي... د یوه سالم روان په رڼا کې ځان جوړوونکي او ځان هسکوونکي انسانان دا ځانګړتیا لري، هغه خپل باطني غږ ته غوږ نیسي، له خپلې دندې سره مینه لري او خپل ژوند د حقیقت، نېکمرغۍ او ذهني آرامښت په لیکه برابروي.»

د مازلو په اند، «موږ ټول پوهېږو، چې د خوراک، څښاک، خوب او نورو اساسي اړتیاؤ پوره کولو ته اړ یو، خو له دغو اساسي اړتیاؤ ورهاخوا نورې اړتیاوې هم موږ په خپل وجود کې حس کوو، چې هغه د انسان معنوي او رواني

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتياوې دي.» دده په باور تقريباً ټولې رواني ستونزې زموږ د روان او ذهن له ناسمتيا څخه سرچينه اخلي. روان او ذهن هغه مهال له کړکېچ او ناسمتيا سره مخامخ کېږي، چې شخص د داسې معنوي او اساسي اړتياؤ د نه پوره کېدو له مخې د پوچۍ او اضطراب احساس وکړي. مازلو زياتوي: «هرانسان د ځان جوړولو، ځان ارزښتمن کولو او ځان نېکمرغه کولو لپاره تلوسه لري او همدغه تلوسه په انسان کې بېلابېل ځواکونه او استعدادونه ويښوي. د ځان رغولو په دغه پروسه کې د اړتياؤ او ضرورتونو پوره کېدل د انسان له رواني او ذهني ثبات سره زياته مرسته کولی شي.

انسان غذا، چاپېريال، خوب، جنسي فعاليت، نظم، ثبات، امنيت، دوستانو، احترام او درناوي، دندې، کورنۍ، اقتصادي پياوړتيا او روغتيا درلودلو او ددې ټولو په رڼا کې ځان نېکمرغه احساسولو ته اړتيا لري. ددغه ډول اړتياؤ د پوره کېدلو بهير انسان د ځان جوړولو او ځان تثبيتولو په دايره کې راولي.» د مازلو په نظر له رواني اړخه ځان جوړي او ځان هسکي وګړي لاندې ګډې ځانګړتياوې لري:

- له واقعيت سره سم درک
- د خپل ځان منل يا پرخپل حالت او ماهيت باندې رضايت
- له خپل کار او دندې سره تعهد او ژمنتيا
- په سلوک او چال چلند کې ثبات او طبيعي والي
- شخصي استقلال او د ځانوالۍ احساس
- د روحاني او عرفاني تجربو درلودل
- له نورو انسانانو سره هم ږېيتوب او د علاقې او عاطفې شتون
- د خلاق او نوښتګر نظر او ليدلوري درلودل
- لوړه اجتماعي علاقه...
- د پلمو، بهانو او لانجو د شاته وهلو او هېرولو خواته تمايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ د نورو انسانانو د غوره ځانګړتیاؤ د یادلو او لیدلو خوا ته تمایل
- ❖ د خپلو افکارو او احساساتو مسئولیت منل

... دا ټول هغه ټکي دي، چې مازلو یې «انساني کمال» ګڼي او زیاتوي، هغه اشخاص چې له رواني مړاویتوب او ذهني ګډوډۍ سره مخ دی، له پورتنیو ځانګړتیاو او مشخصاتو څخه په فاصله کې دي.

مازلو په خپل یوه تحلیل کې د وېرې او ډار په باب چې د انسان د هیجاناتو له ډلې څخه دي، یوه نوې خبره لري او وایي: « موږ لکه څنګه چې له خپلو ناوړه خصوصیاتو څخه وېره لرو، همداسې له خپلو غوره خصوصیاتو څخه هم په وېره کې یو. ښایي زموږ لپاره په ژوند کې یو مهم کار یا یو اوچت ماموریت مخکې وړل، زیات د وېرې او ډار وړ وي. له همدې امله ژوند د خورا معمولي کارونو په ترسره کولو کې تېروو...موږ چې کله په خپل ځان کې لویې وړتیاوې وینو، نو همغه وخت د خپلې وېرې او حیرانتیا له مخې دوه زړي کېږو. »

مازلو به د تدریس پرمهال له محصلینو پوښتنې کولې او ویل به یې له تاسو څخه کوم یو غواړي په راتلونکي کې ولسمشر شي؟ یا له تاسو څخه کوم یو غواړي د البرټ شوایتزر په شان الهام ښونکی اخلاقي رهبر شي؟ خو کله به چې محصلینو ددغو پوښتنو له ځوابولو څخه د شرم احساس کاوه، مازلو به ورته ویل، که چېرې په تاسې کې کوم یو ولسمشر نه شي، نو څوک به کېږي؟ دغه ټول هغه محصلین وو، چې تمه یې وه، په راتلونکي کې ورنه اروا پوهان جوړ شي. مګر مازلو به له هغو څخه پوښتل، چې دا به څه ګټه ولري، چې هسې معمولي اروا پوهان درنه جوړ شي. مازلو له محصلینو سره په دغه کشمکش کې پوهېدو، نوځکه به یې ویل:« ځینې وګړي د لویۍ او اوچت ژوندانه له درلودلو او هغو ته د رسېدلو له پلټنې څخه پرهېز کوي. ځکه چې دوی له دې څخه وېرېږي، چې زیات غوښتونکی ښکاره نه شي. خو دا په واقعیت کې هسې یوه بهانه او تېښته ده. که پام وکړو، موږ د خپل ځان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ټيټ او کوچيني هدفونه ټاکو، دا ځکه چې د اوچت کېدو احتمال د عادي انسانانو په زړونو کې د يو ډول وېرې او ډار فضا ايجادوي.»

ددغې مسئلې د حل لپاره مازلو څرګندوي:

«موږ بايدد لويو هدفونو په ټاکلو کې توازن ولرو او پښې مو بايد پرځمکه وي. ځينې وګړي دغه توازن نه مراعاتوي. يا ځان پرځمکه پورې نښلوي او يا له ځمکې څخه تر اندازې زياته فاصله غوره کوي. خو که چېرې موفقو خلکو ته ځيرشو، دوی دغه دواړه توکي ترکيبوي. يعنې اسمان هدف ټاکي او د ځمکې پرمخ ګام اخلي. په دې معنا چې اوچت هدف ټاکي او له واقعيتونو سره سم او محکم ګام اخلي.»

د مازلو په څېړنو کې دده «**هرم**» ځانګړی نوم لري. ده دغه هرم په خپل مشهور اثر «شخصيت او انګېزه» کې راوړی دی. مازلو د انسان ټولې اړتياوې په دغه هرم کې ډلبندي کړې دي. دا هرم پينځه طبقې لري، چې په ټيټو طبقو کې يې دده په اند، ساده، خو زياتې حياتي اړتياوې راوړې او په لوړو طبقو کې يې پېچلې، خو په تدريج سره کمې حياتي اړتياوې ذکر کړې دي، په دې ترتيب د لوړو طبقو اړتياوې هغه وخت د شخص د پاملرنې وړ ګرځي، چې د ټيټو طبقو اړتياوې يې تر يوه بريده پوره شي. کله چې د يوه شخص د ښکته طبقو اړتياوې پورې کېږي، نو ښکته طبقو ته په تدريج د شخص پاملرنه راکمېږي او پورته طبقو ته يې پاملرنه زياتېږي، خو که چېرې په ناڅاپي توګه په ښکته طبقو کې يوه تشه، يا يوه اړتيا او يا يوه ستونزه سر راپورته کړي، شخص په موقتي ډول د پورتنيو طبقو اړتياوې يوځل پرېږدي او په ښکتنيو طبقو کې د اړتياو يا ستونزو بهير ته لومړيتوب ورکوي. د مثال په توګه که شخص په يوه شديده ناروغۍ اخته شي، نو څنګه چې د روغتيا مسئله په ښکته طبقو او بنسټيزو او حياتي اړتياؤ کې ځای لري، نو شخص هم خپله زياته انرژي د ژغورنې لارو ته ځانګړې کوي. کله يې چې دغه ستونزه حل شي، بيا بېرته خپله انرژي لوړو طبقو ته رهبري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددغه مطلب د ښې پوهېدنې لپاره د مازلو د هرم پينځه طبقې په لاندې ډول راوړو:**


- **لومړۍ طبقه: جسماني او فيزيولوژيکي اړتياوې.**
  لکه:(خوراک، څښاک، تنفس کول، خوب کول، جسمي او رواني تعادل او نور)
- **دوهمه طبقه: امنيتي اړتياوې.**
  لکه:(شخصي، مالي او وظيفوي خونديتوب، له حوادثو او ناروغيو څخه د ځان او کورنۍ امن او دژوندانه د چلښت امکانات)
- **دريمه طبقه: اجتماعي اړتياوې.**
  لکه: ( دوستي، کورنۍ، دنده او په ټولنه کې ځانګړي موقف درلودل)
- **څلورمه طبقه: د رضايت، احترام او درناوي اړتياوې.**
  لکه:(ځان ته احترام، نورو ته احترام، له ځانه رضايت، له نورو رضايت، باطني آرامښت، پرځان باور، د نورو د درناوي وړ واقع کېدل، په عقدو کې نه ښکېلېدل او نور...)
- **پينځمه طبقه: د ځان هسکولو او ځان جوړولو اړتياوې.**
  لکه:(ځان ته انګېزه ورکول، خپل استعدادونه غوړول، مثبت چلند، خپل خلاقيتونه تعقيبول، اخلاقي اړخونه پياوړي کول، د واقعيتونو په رڼا کې دفکر او عمل اهل پاتې کېدل او نور...)

**د مازلو پورتنۍ څرګندونې په لاندې شکل کې ليدلی شئ:**

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د مازلو هرم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# کارل یونګ



(هغه رسۍ چې زموږ سرنوشت په هغو ځړېږي، ورځ په ورځ تنګېږي او دا طبیعت نه دی، بلکې د انسان خپل نبوغ دی، چې دا رسۍ یې د انسان په غاړه کې وراچولې ده.)

**کارل یونګ**

(اسمان نور د فزیکپوهانو لپاره په فضا بدل شوی، خو زموږ زړونه لا په ژورو تیارو کې ډوب دي او یوه پټه او ناڅرګنده نارامي مو د وجود ریښې سېزي.)

**کارل یونګ**

(دهر شي په وړاندې چې مقاومت وکړئ، نورهم ضد او ځېل کوي او ستاسو په وړاندې درېږي)

**کارل یونګ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډاکتر کارل ګوستاو یونګ** (Carl-Gustav-Jung) د سویس هغه وتلی اروا پوه دی، چې اثار او افکار یې د نړۍ په کچه شهرت لري. نوموړی د اروا پوهنې په تاریخ کې د تحلیلي اروا پوهنې بنسټګر بلل کېږي.
تحلیلي اروا پوهنه د روانکاوۍ یا ارواشننې مکتب ته یو بل لوری ورکوي. کارل یونګ مخکې له دې چې د تحلیلي اروا پوهنې موضوع رامنځته کړي، د «زیګموند فروید» ملګری او د هغه د ارواشننې سرسخت پلوی ؤ. همدا لامل ؤ، چې هغه مهال به ده ته فروید د خپل ځای ناستي او ولیعهد خطاب کاوه.

❖ ❖ ❖

پروفیسور کارل یونګ په ۱۸۷۵م کال د سویس د «کېسوېل» ښار په یوه کوچیني کلي کې چې د «راین» له مشهور ځړوبي یا ابشار سره نږدې واقع دی نړۍ ته راغی. ده د خپل ماشومتوب دوره په یوازیتوب او خواشینۍ کې تېره کړه. پلار یې یو بدخلقه او غوسه ناک کشیش ؤ او مور یې له رواني ستونزو سره لاس او ګرېوان وه. په دې توګه یونګ له خوښۍ څخه په یوه تش کورني چاپېریال کې رالوی شو. نوموړي ان د خپل ماشومتوب په کلونو کې د خپلې کورنۍ په ناسم وضعیت پوهېده، تل به له ځانه سره فکرونو په مخه کړی ؤ او له ګڼو اندېښنو او ګومانونو سره به په خپله باطني دنیا کې ډوب ؤ.
ده به خپل ډېره څه د خپلو باطني خیالاتو او تمایلاتو له مخې ترسره کول. ښوونځي ته تګ، هلته درس لوستل او بیا پوهنتون ته لاره پیدا کول، هغه څه وو، چې دده ذهن به یې بوخت ساته. هغه وخت چې نوموړي د پوهنتون لپاره تیاري نیوه، یوه شپه یې خوب لیده، چې له تاریخ څخه د مخکې دورو د حیواناتو په هډوکو پسې کیندنې کوي. ده له وېښېدو سره سم خپل خوب داسې تعبیر کړ، چې باید د طبیعي علومو په برخه کې لوړې زده کړې وکړي. ده یو بل ځل هم دې ته ورته خوب لیدلی ؤ. چې ترځمکې لاندې په یوه غار کې ګرځي راګرځي. یونګ خپل تحصیلي راتلونکی د همدغو خوبونو پراساس غوره کړ او تر شعور لاندې یې د تحت الشعور څېړل خپل کاروباله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونګ په **۱۸۹۵**م کال چې عمر یې د **۲۰** کالو په شاوخوا کې ؤ د سویس د «باسیل» پوهنتون د طب پوهنځي ته بریالی شو، خو کله چې یې یو کال زده کړه وکړه، نو پلار یې چې د پروتستان د مذهب پادري ؤ، مړ شو. دغې پېښې یونګ له کورنیو ناخوالو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړ. خو ده خپل ځان ونه بایله. ناخوالې یې وزغمې، له دوستانو یې پیسې قرض کړې او پوهنتون یې په بریالیتوب سره پای ته ورساوه. نوموړی تر فراغت وروسته په **۱۹۰۰**م کال د زوریخ ښار د «بورګولتسلي» په روغتون کې د طبابت په دنده وګمارل شو.
ده د خپلې همدغې دندې په لړ کې له یوې سویسۍ پېغلې سره واده وکړ او د «کوسناخت» په ښار کې یې د ځان لپاره یو لوی کور جوړ کړ. یونګ پنځه کاله په دغه دنده پاتې شو، وروسته د «زوریخ» د پوهنتون استاد وټاکل شو. ده څو کاله دغه دنده هم ترسره کړه، خو وروسته یې استعفا ورکړه او په خصوصي ډول یې د طبابت کارونو او د اروا پوهنې په اړه مطالعو ته دوام ورکړ.
یونګ لا په پوهنتون کې ؤ، چې د نامتو اروا پوه زیګموند فروید له اثارو سره اشنا شو. ده د کار په موده کې هم د فروید کتابونه لوستل، په ځانګړې توګه د فروید د خوبونو د تعبیر کتاب یې خورا پر زړه پورې ؤ. په همدې اساس په **۱۹۰۶**م کال کې یې د «وین» ښار ته د فروید د لیدو لپاره سفر وکړ. هلته یې له فروید سره لیدنه کتنه وشوه او په دغه لومړۍ لیدنه کتنه کې یې په خورا تلوسه او علاقه **۱۳** ساعته خبرې اترې سره وکړې.
له دې وروسته یونګ د فروید د روانکاوۍ یا اروا پلټنې د مکتب تر ټولو فعال غړی شو او د فروید د رامنځته کړې موضوع لپاره یې چې له تحت الشعور څخه عبارت وه کار او څېړنې پیل کړې. په **۱۹۰۹**م کال یونګ له فروید سره یوځای امریکا ته سفر وکړ، هلته یې د «کلارک» پوهنتون په یاد غونډه کې ګډون وکړ او دواړو پکې خپلې ویناوې واورولې.
د څېړونکې په اند، یونګ مخکې له دې چې له فروید سره ملګری شي، شهرت ته رسېدلی ؤ. په دې اساس کله چې موږ د اروا پوهنې په تاریخ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا پلټنې له مکتب څخه خبرې کوو، نو تر فروید وروسته د کارل یونګ نوم د یادلو وړ دی. یونګ که څه هم د روان شننې په بهیر کې د فروید شاګرد ګڼل کېږي، خو ان له راپیل څخه د فروید د یولړ ځرګندونو منل ورته ستونزمن او حتی ناممکن برېښېدل.

فروید په خپلو اروا پوهنیزو څېړنو کې د انسان جنسي غریزې ته زیات ارزښت ورکاوه، خو یونګ ته د فروید دغه ډول ځرګندونې افراطي ښکارېدې او هڅه به یې کوله چې خپل دغه شک او تردید له فروید څخه پټ وساتي. یونګ به چې د لاشعور په باب نورو برسېرونو ته لاس اچاوه، نو له دغه ټکي څخه به ناراحته ؤ، ځکه پوهېده، که چېرې خپل نظریات خپاره کړي، نو د فروید له نظریاتو سره به په توپیر کې واقع شي او د اړیکو په خرابۍ به پای ته ورسېږي. نوموړي له همدې امله د خپل کتاب په لیکلو کې زړه نازړه او ټکنی ؤ. خو بالاخره یې کتاب خپور کړ او څه یې چې اټکل کاوه، همغسې پېښ شول.

په ۱۹۱۴م کال د فروید او یونګ ترمنځ اختلافات زیات شول او یونګ د اروا شننې د نړیوالې ټولنې له غړیتوب څخه استعفا ورکړه. دغه بېلتون د یونګ په ژوند او کارونو کې یوه لویه پېښه ګڼل کېږي، چې په خپل ځای سره ددې لامل شوه، چې ده وکولی شول، په یوازې سر د نویو مسایلو په اړه څېړنې وکړي او نوي اثار او افکار رامنځته کړي. د یونګ د اثارو له ډلې څخه موږ دده دلاندې مشهورو کتابونو نومونه یادولی شو:

- (د اروا پوهنې تیپونه)
- (د ځان ناخبره ضمیر اروا پوهنه)
- (د بدلون سمبولونه)
- (اروا پوهنه او دین)
- (اروا پوهنه او کیمیا ګري)
- (زړې نمونې او ټولیزه ځان ناخبري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يونګ ان د ماشومتوب له دورې څخه د لرغونو ځايونو، تاريخي پېښو او اساطيرو سره مينه درلوده، له همدې امله يې په ۱۹۲۰م کال چې عمر يې د ۴۵ کالو په شاوخوا کې ؤ، د افريقا لويې وچې ته سفرونه وکړل. له دغو سفرونو څخه دده موخه د لرغونې اريايي سيمو، قومونو او اساطيرو څېړل وو. دده د يادو څېړنو څرک موږ په هغه کتاب کې چې «انسان او د هغه سمبولونه» نومېږي او دده او شاګردانو له خوا يې ليکل شوی ليدلی شو.

نوموړی د دغې پوښتنې چې وايي: «څنګه لومړنيو انسانانو د طبيعي پېښو لکه لمر، غروب، د مياشتو او موسمونو د بدلون د تعريف او توصيف لپاره اوږده داستانونه جوړول؟» په ځواب کې ويلي:

« د طبيعي مسايلو په هکله د خيالي کيسو جوړول، يوازې د هغو د فزيکي ستاينې لپاره نه وې، بلکې ظاهري نړۍ به يې د باطني نړۍ د درک لپاره په کاروله.» لکه څرنګه چې انسانانو د تاريخ په اوږدو کې خپل احساسات، عواطف، ذهني کيفيات، عقدې، هيلې، له کايناتو څخه بېلابېل برداشتونه د کيسو، اسطورو، شعرونو او نورو سمبوليکو ټکو په بڼه څرګند کړي، نو ددې ترڅنګ چې د هغه تاريخي ماحول پېښې، حالت او تصوير، زموږ مخې ته ږدي، بلکې د هغه مهال د انسان له باطني او رواني حالت څخه مو هم خبروي. د يونګ او دده د شاګردانو هغه ګډ اثر چې «انسان او د هغه سمبولونه» نومېږي، نه يوازې يې د اروا پوهنې په څېړنيز بهير اغېز شيندلی، بلکې د سمبوليکو ادبياتو په تشريح او توضيح کې يې هم خپل رول ادا کړی دی.

څرګنده ده، په ادبياتو کې چې کومې خبرې کېږي، له تشبې، کنايې او سمبول څخه به خالي نه وي. په ادبياتو او حتیٰ زموږ په ورځنيو خبرو اترو کې سمبوليک بيان يا په خبرو کې سمبولونه راوړل، د کارل يونګ له نظره يوه داسې هڅه ده، چې د انسان له تحت الشعور سره تړا لري. يونګ وايي: (يوه کلمه يا شکل هغه مهال سېمبوليک ګڼلی شو، چې له خپلې ښکاره او مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنا پرته په بل څه هم دلالت وکړي. سېمبول ناخودآګاهي «لاشعوري» اړخونه لري، چې هېڅکله په دقیقه توګه تعریف شوی نه دی...) شعري سېمبولونه، لېوال

❖❖❖

کارل یونګ لکه مخکې چې یادونه وشوه، د تحت الشعور یا ځان ناخبره ذهن موضوع ته انکشاف ورکړ او په دې برخه کې یې یوه بله موضوع د «جمعي ناخودآګاه» یا «ټولیزې ځان ناخبرۍ» په نوم رامنځته کړه.

یونګ له لویه سره د انسان د ذهن ځان ناخبرې برخې ته پر دوو سطحو قایل شو. لومړی «شخصي ځان ناخبري» او دوهم «ټولیزه ځان ناخبري»

شخصي ځان ناخبري یې هغه برخه وګڼله، چې په هغو کې دیوه انسان د فردي ژوندانه هغه شا ته وهل شوې تجربې، خاطرې، عقدې او ناخوږبه شوې هیلې پرتې دي، چې نور د ذهن په ځان خبره برخه یا شعور کې ورته لاس رسی نه کېږي. د یونګ په اند، په دغه برخه کې شته جزیات په اسانۍ سره کېدای شي، د ذهن ځان خبرې برخې یا شعور ته راوغځېږي او د انسان چلند تر اغېز لاندې راولي. په دې بنسټ دغه برخه یا «شخصي ځان ناخبري» دومره ژوره نه ده.

ددې په مقابل کې «ټولیزه ځان ناخبري» هغه برخه ده، چې تر ټولو ژور موقعیت لري او د انسان لپاره ترشخصي ځان ناخبرۍ ډېره نااشنا او مبهمه ده. په دغه برخه کې د پخوانیو نسلونو ګڼې تجربې او تمایلات ځای لري، چې د انسان ګڼو اعمالو ته لوری ورکوي. انسان که وغواړي او که ونه غواړي د هغوی اغېز ورباندې پروت دی او څرنګه چې انسان لا تر اوسه د طبیعت یوه برخه او جز دی او له خپلو ریښو سره ارتباط لري، نو هرډول نظریه یا ټولنیز نظام چې د انسان ارتباط د ژوندانه له ازلي تصاویرو سره قطع کوي، نه یوازې دا چې فرهنګ نه دی، بلکې انسان ته د یوه زندان او غوجل د جوړولو حکم لري.» د یونګ په باور، د بېلابېلو خاصیتونو کومې نمونې چې په موږ کې شته، په فطري توګه زموږ د رواني تجربو ټاکونکې دي، چې هر فرد دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتو کوي، څو داسې چلند وکړي، لکه دده اجدادو چې په ورته موقعیتونو کې له ځانه ښوده.

په دې ترتیب (سېمبولونه یوازې په شخصي ځان ناخبرۍ یا فردي ناخوداګاه کې نه رامنځته کېږي، ډېر ځله په ټولیزه ځان ناخبرۍ یا جمعي ناخوداګاه کې هم تلپاتې سېمبولونه سر راپورته کوي. چې د بشر په ګډ تاریخ کې د ډېرو انسانانو لپاره ګډ مفهوم تداعي کوي... نوي او فردي سېمبولونه د فردي ځان ناخبرۍ زېږنده دي، چې د یوه وګړي په رواني تجربو کې ریښه لري، خو که چېرې دغه سېمبول بیا او بیا کارول کېږي، نو د ګډو قرار دا دي سېمبولونو بڼه خپلوي. د انسانانو ګډ رواني میراث او د ټولیزې ځان ناخبرۍ ارثي مشترکات د یوه وګړي له رواني تجربو، د هغه په فردي ناخوداګاه کې زېرمه شوې عقدې، غوښتنې، غریزې، شاته وهل شوي او ځپل شوي عواطف، احساسات او فکرونه، همداراز له قومي شعور څخه په میراث وړل شوي ارزښتونه او باورونه د یوه انسان د تحت الشعور منځپانګه جوړوي) شعري سېمبولونه، لېوال

❖❖❖

په عمومي ډول د کارل یونګ د تحلیلي ارواپوهنې موضوعاتو نه یوازې د ارواپوهنې څېرکي رنګین کړي، بلکې د علومو په ځینو نورو څانګو کې لکه مذهب، هنر، تاریخ او ادبیاتو کې یې هم ځانګړی اغېز پرېښودی.

د ارواپوهنې په پاڼو کې د افرادو شخصیتونه څېړل او ډلبندي کول، یوه توده موضوع ده، چې یو شمېر ارواپوهانو ورباندې کار کړی دی. په دغو ارواپوهانو کې د «کرچمر»، «شلډون» او «کارل یونګ» ډلبندۍ خورا مشهورې دي. یونګ د انسان شخصیت د اجتماعي چلند له مخې پر دوو برخو وېشلی دی: «ظاهر پلوه او باطن پلوه»، چې په لاندې ډول یې لنډه یادونه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱: ظاهر پلوه:**

کارل يونګ د ظاهر پلوه «بيرون ګرا» شخصيتونو خصوصيات دا بولي، چې دوی حال ته د آيندې په نسبت ترجيح ورکوي، د اشياؤ، واقعاتو او اشخاصو ظاهري بڼې ته د ماهيوي او کيفي ارزښتونو په پرتله زيات اهميت ورکوي، ژر تصميم نيسي او ژر عمل کوي؛ د عواقبو نتيجو ته ډېر نه ګوري؛ د توافق منلو ځواک يې غښتلی وي، د ټولنيز ګډ ژوند او ټولنيزو فعاليتونو او حاصلاتو څخه زيات لذت وړي او د افرادو سرګرمي او ظاهري فعاليت د دوی د خوښۍ سبب ګرځي.

**۲: باطن پلوه:**

يونګ باطن پلوه«درون ګرا» اشخاص هغه بولي، چې د حال په پرتله راتلونکي ته زيات ترجيح ورکوي، د ژر تصميم نيونې او عمل پرمقايسه، غور او تدبير ته زيات اهميت ورکوي او په رسمي او غير رسمي وظايفو کې تل د اصولو او قانون پابند وي. باطن پلويان د ظاهري مسايلو په انډول د حقايقو او واقعاتو د قوانينو او داخلي روابطو د کشف موضوع ته زيات اهميت ورکوي؛ دوی اکثره په فکر او خيال کې ډوب وي؛ د علمي کارونو په پرتله ذهني کارونو کله پلانونې، نقشې اچونې او د مسايلو د حل او فصل په موخه د تحليل او توضيح پلويان دي. د کارل يونګ په اند: دغه ډول اشخاص تر ډېره بريده ګوښه ګير او له منل شويو او باوري کسانو پرته له نورو خلکو سره د چندان زياتې ناستې پاستې مينه وال نه وي.

کارل يونګ د باطن پلوه (introverts) او ظاهرپلوه (extroverts) شخصيتونو په اړه په خپلو نورو ليکنو کې يو شمېر نورې ځانګړنې هم يادې کړې دي، چې د اسانۍ لپاره يې په لاندې جدول کې په پرتليز ډول ستاسو مخې ته ږدو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| باطن پلوه | ظاهر پلوه |
|---|---|
| ← خپلو افکارو او احساساتو ته یې پام وي. | ← افرادو او اشیاؤ ته پاملرنه کوي. |
| ← د راتلونکي لپاره اندېښمن وي. | ← په اوس کې ژوند کوي. |
| ← معمولاً محافظه کار وي. | ← د بنسټیزو اصلاحاتو پلوی وي. |
| ← اصول او معیارونه تر اعمالو مهم ګڼي. | ← په خپله اعمالو ته پاملرنه کوي. |
| ← له ویلو څخه په لیکلو کې ګړندی او بریالی وي. | ← په روانۍ او راحتۍ سره خبرې کوي. |
| ← د کتابونو او مجلو مینه وال وي. | ← د سپورټ او حرکي فعالیتونو مینه وال وي. |
| ← د علتونو او عواملو د څېړلو او سپړلو خوا ته تمایل لري. | ← د محسوس جهان او عیني پدیدو لیدلو او کتلو ته زیات تمایل لري. |
| ← خپل وخت زیاتره په تحلیل او نقشه اچولو تېروي او په ځنډ سره د عمل ډګر ته مخکې کېږي. | ← ژر تصمیم نیسي او ژر د عمل ډګر ته ننوځي. |
| ← تقریباً ګوښه ګیر او په ځنډ سره ملګرتیا جوړوي. | ← ژر ملګرتیا جوړوي او له خلکو سره د زیاتې ناستې پاستې مینه وال وي. |
| ← ذهني ارزښتونو یا ذهني عواملو ته زیاته پاملرنه کوي. | ← عیني ارزښتتونو یا عیني عواملو ته زیاته پاملرنه کوي. |
| ← د پیسو ساتلو او د هغو دقیق مصرف ته لومړیتوب ورکوي. | ← د پیسو په مصرفولو باندې یې ښه لاس ګرځي. |
| ← احساسات یې په اسانۍ سره اغېزمن کېږي. | ← ډېر حساسیت نه ښیي، بلا پسې وي. |
| ← علاقه لري، چې کارونه یې د ستاینې وړ واقع شي. | ← د ستاینو تر اغېز لاندې نه راځي. |
| ← په اسانۍ سره نه خاندي. | ← خندېدلو ته زیات چمتووالی لري. |
| ← په اندېښنو او تشویش کې ژر لوېږي. | ← ډېر د غم او اندېښنې په کیسه کې نه وي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library




کارل یونګ ددغه ډول شخصیتي اړخونو په رامنځته کېدلو کې ځینې لاملونو ته ګوته نیسي او وایي: «شخصیتي توپیرونه له هغو اعمالو څخه سرچینه اخلي، چې موږ ته د عیني نړۍ یا ذهني نړۍ پر خوا مخه راکوي. دغه اعمال عبارت دي له، احساس، تفکر، هیجان او شهود څخه. احساس د مادي شیانو شعوري درک ته ویل کېږي. تفکر یوه ادراکي مرحله ده، چې معنا او درک منځته راوړي. هیجانات ذهني مرحلو ته ارزښت ټاکي او شهود په یوه ځان ناخبره یا لاشعوري وضعیت کې د اخیستنو او پوهېدنو په مفهوم دی... تفکر او احساسات د ځواب ورکولو منطقي صورتونه دي، چې عقل او قضاوت ته لوری ورکوي او احساس او بصیرت بیا غیرعقلاني شی دي، چې په عیني شیانو او محرکې نړۍ پورې تړلي دي.»

د اوراپوهنې په تاریخ کې د علمي اروا پوهنې منځته راتګ ، د یونګ تحلیلي اروا پوهنه یوڅه کم رنګې کړه. له یوې خوا تر ۱۹۶۶م کال پورې د یونګ زیاتره کتابونه په انګلیسي ژبه نه وو ژباړل شوي. ښایي لامل به یې دا ؤ، چې دده په نظریاتو کې اساطیر او داسې نور مواد وو او له بلې خوا یونګ د فروید په پرتله له کم جذابیت څخه برخمن ؤ، خو له دې سره سره دده تحلیلي اروا پوهنه د فروید بزم په پرتله له کم انتقاد سره مخامخ شوې ده. دا ځکه چې نوموړي د فروید په پرتله د انسان پر وړاندې خوشبینانه نظر درلود. دا او دې ته ورته لاملونه دي، چې کارل یونګ د ارواشننې په بهیر کې تر زیګموند فروید وروسته دوهم مقام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کارل راجِـرز



(د خپل کار په لومړيوکې به مې له ځانه دا پوښتنه کوله، چې «څرنګه کولی شم، ددغه سړي درملنه وکړم او يا يې رواني حالت ته بدلون ورکړم»، مګر اوس مې دا پوښتنه په دغه بڼه اړولې ده، چې «څرنګه کولی شم، چې له دغه سړي سره يوه داسې رابطه ټينګه کړم، چې هغه وکولی شي، له دغې رابطې څخه د خپلې شخصي ودې لپاره استفاده وکړي.) **کارل راجِـرز**

(د انسان هر هدفن چلند د هغه له عواطفو سره ملګری دی او عواطف عموماً د چلند منځته راتګ اسانه کوي.) **کارل راجِـرز**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارل راجِرز** (Carl Rogers) د امریکا هغه پیاوړی اروا پوه دی، چې د اروا پوهنې په تاریخ کې د روان درمانۍ یا اروا درملنې د پلار په نوم شهرت لري. نوموړی د «آبراهام مازلو» په څېر د انسان پالې اروا پوهنې یوه مخکښه څېره ګڼل کېږي. دده د «فردمحورۍ» له نظریاتو څخه په «مخاطب محوره درملنو» او «شاګردمحوره زده کړو» او نورو ټولنیزو سازمانونو کې زیات استقبال شوی دی. نوموړي د امریکا په بېلابېلو پوهنتونونو او نورو علمي مراکزو کې د اروا پوهنې استادي کړې او د خپل ۸۵ کلن ژوند په اوږدو کې یې ګڼې مقالې او کتابونه لیکلي دي. دغه په کار راتلونکی اروا پوه د ژوند په وروستیو کې د هغو سوله ایزو هڅو له امله چې د جنوبي افریقا او شمالي ایرلنډ د شخړو د ختمولو لپاره یې وکړې، د سولې د نوبل د جایزې لپاره هم نوماند شوی دی.

❖❖❖

کارل راجِرز په ۱۹۰۲م کال د شیکاګو په «اوک پارک» کې زیږېدلی دی. پلار یې «والټر» نومېد او انجنیر ؤ او مور یې «جولیا» نومېده، دوی دواړو شدید مذهبي تمایلات درلودل، خو له اقتصادي اړخه یې ښه ژوند درلود. دوی شپږ اولادونه درلودل او راجِرز پکې څلورم ؤ. راجِرز او نورو وروڼو ته به یې مور او پلار اجازه نه ورکوله، چې د غریبو او معمولي کورنیو له ماشومانو سره ناسته ولاړه ولري، ځکه د دوی په اند هغوی زیاتره په ناسمو کارونو بوخت وي. راجِرز د همدغې لاربښوونې له مخې خپل ماشومتوب په ګوښه ګیرۍ کې تېر کړ او تل به یې د خپل یوازیتوب شېبې د کتابونو پرمطالعې باندې ډکولې. راجِرز په همغه ځای کې د «هولمز» لومړني ښوونځي ته واستول شو. په دغه ښوونځي کې د امریکا د نوبل جایزې ګټونکی لیکوال «ارنسټ همینګوې» هم دده ټولګیوال وو.

کله چې د راجِرز عمر ۱۲ کلنۍ ته ورسېد، کورنۍ یې د شیکاګو په یوه څنډه کې کرنیزه ځمکه واخیسته او هملته یې خپل کور ولېږداوه، خو دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې معنا نه وه، چې ګواکي دوی هلته په ټیټه کچه ژوند غوره کړ، بلکې په نوي او عصري بڼه یې کور جوړ کړ او د نورو بوختیاؤ ترڅنګ یې کرنیز فعالیتونه هم پیل کړل.

راجرز له دې سره چې له ورونو سره به یې د خپل کور شاخوا د کر کیلې کارونه کول، خو په ښوونځي کې هم یو ممتاز زده کوونکی ؤ. په ۱۹۱۹م کال کې نوموړي د ښوونځي دوره پای ته ورسوه، وروسته یې په ښونمرو د «ویسکانیسن» پوهنتون ته لاره پیدا کړه او د کرنې په رشته کې یې زده کړه پیل کړه.

راجِرز د پوهنتون په لومړیو کلونو کې په مذهبي چارو کې خورا فعال ؤ. نوموړی په ۱۹۲۲م کال له ۹ تنو نورو محصلینو سره د چین په پکن کې د WSCFCپه کنفرانس کې ګډون وکړ، دغه شپږ میاشتني سفر په راجِرز باندې ژور اغېز وکړ. دی په چین کې د بېلابېلو مذهبونو او کلتورونو له خلکو سره اشنا شو. ده ته له چین څخه د راتګ پر مهال په کښتۍ کې ناڅاپه په ذهن کې ورغلل، چې مسیح باید خدای نه وي، بلکې د نورو انسانانو په شان باید یو انسان وي. ده پرېکړه وکړه، چې نور خپل کور ته ولاړ نه شي. همغه وو، چې له رسېدو سره سم یې مور او پلار ته لیک واستاوه، چې نور نه غواړي د پروتستانیسم په مذهب کې بند پاتې شي. په دې ډول راجِرز د پروتستانیسم له افراطي مذهبه لاس واخیست او په پوهنتون کې یې هم د کرنې پرځای د تاریخ پوهنځی غوره کړ. ده په ۱۹۲۴م کال د ۲۲ کلنۍ په عمر له یاد پوهنتون څخه د لیسانس بری لیک ترلاسه کړ.

زاجرز له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته د «هلن الیوت» په نوم له یوې ښځې سره واده وکړ، له دغې مېرمنې د نوموړي دوه اولادونه پیدا شول، «ډېویډ» په ۱۹۲۶م کال او «ناتالي» په ۱۲۲۸م کال کې، چې وروسته یې زوی «ډېویډ» طبي ډاکتر شو او لور یې «ناتالي» څېړونکې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجِرز په خپلو زده کړو بسنه ونه کړه او د نورو زده کړو لپاره یې د «کلمبیا» پوهنتون ته مخه کړه او د «بالیني یا کلینکي اروا پوهنې» په څانګه کې یې زده کړې پیل کړې. په ۱۹۲۸م کال کې یې فوق لیسانس او په ۱۹۳۱م کال کې د دوکتورا یا Ph.d د سند په ترلاسه کولو بریالی شو. ده په ماشومانو کې د شخصیت د تنظیم او جوړښت په اړه خپل تیزس ولیکه.

راجِرز په اروا پوهنه کې د دوکتورا تر اخیستو وروسته دنیویارک په «روچسټر» کې د ماشومانو د مطالعې په دیپارتمنت کې په کار پیل وکړ. په همدغه وخت کې نوموړی د «**آلفرډ آدلر**» د نظریاتو تر اغېز لاندې راغی.

راجِرز تردې وروسته د څه مهال لپاره دمشورې په مرکز کې داروا پوه په توګه دنده ترسره کړه، ده په همدغه وخت کې خپل لومړنی کتاب «دزیانمنو ماشومانو بستري درملنه» په نوم ولیکه. نوموړی ددغه کتاب له خپرېدا سره سم په ۱۹۳۹م کال د «اوهایو» په پوهنتون کې د بالیني اروا پوهنې استاد وټاکل شو.

راجِرز په ۱۹۴۲م کال د «مشوره او رواني درملنه» په نوم یو بل کتاب ولیکه. د کتاب چاپوونکې ادارې په لومړي سر کې ددغه کتاب خپرولو ته چندان زړه نه کېده او فکر یې کاوه چې ایله به ۲۰۰۰ ټوکه راته وپلورل شي، خو کله چې یې یوځل چاپ کړ، ډېر ژر ورسره ختم شو، نو یې څوځله بیا چاپ کړ، په دې ډول نوموړی کتاب د څو کلونو په اوږدو کې تر ۷۰۰۰۰ ټوکو پورې وپلورل شو.

راجِرز له ۱۹۴۵م نه تر ۱۹۵۷م کال پورې د «شیکاګو» پوهنتون د مشورې له مرکز سره همکاري درلوده. له دې وروسته د «ویسکانسین» پوهنتون ته ولاړ او په ۱۹۵۷م کال کې یې د «وسټرن» د رفتاري علومو له مؤسسې سره د دایمي غړي په توګه ځان شامل کړ.

راجِرز له ۱۹۶۸م کال کې د کالیفرنیا په «لاجولای» کې د امریکا د بشري مطالعاتو د مرکز علمي غړی شو . په ۱۹۸۶م کال د امریکا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا پوهانو د انجمن یا APA د ریاست چارې ور وسپارل شوې او په ۱۹۸۷م کال کې یې یو لړ نړیوال سوله ایز حرکتونه پیل کړل، د هغو له جملې څخه په مسکو کې د سولې د ورکشاپونو رهبري کول او د جنوبي افریقا او شمالي ایرلنډ د ښخړو د ختمولو لپاره هڅې ددې لامل شوې، چې نوموړی په سوله کې د نوبل د جایزې لپاره وټاکل شو.

راجِرز له دغو ټولو بوختیاو سره سره له لیکنو او څېړنو لاس وانه خیست او زیات کتابونه او مقالې یې ولیکلې، دده د مشهورو کتابونو نومونه په لاندې ډول دي:

- مشوره او رواني درملنه
- مراجع محوره درملنه
- د انسان کېدلو هنر
- کارل راجِرز او شخصي ځواک
- یوه لار، د ژوند کولو لپاره
- د کارل راجِرز خبرې

دغه ستر سوله غوښتونکی روان پوه په ۱۹۸۷م کال د ۸۵ کالو په عمر د زړه د درېدا له امله د کالیفرنیا په «لاجولای» کې ساه ورکړه او له وصیت سره سم یې، له هېڅ ډول تشریفاتو څخه پرته جسد وسوځول شو.

❖❖❖

د «ټام باټلر بوډن» په نوم یو څېړونکی د «راجِرز» په اړه لیکي:

«ایا تر اوسه تاسو ته داسې څه پېښ شوي، چې له یو چا سره تر خبرو اترو وروسته مو د درملنې احساس کړی وي؟ ایا تر اوسه کومه ځانګړې اړیکه ددې سبب شوې، چې یوځل بیا د خپل ځان په اړه یوه ښه او عادي احساس درته پکې پیدا شي؟

احتمالاً دغه ډول جوړجاړی په یوه داسې محیط کې رامنځته کېږي، چې په هغو کې اعتماد او صراحت شتون ولري... کارل راجِرز د یوه اروا پوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشاور په توګه په خپلو کارونو کې له همدغو ځانګړتیاؤ څخه استفاده کوله. ددې کارونو پایله د اروا پوه او ناروغ ترمنځ په دودیزو اړیکو کې د بدلون او اوښتون سبب شوه... د ناروغانو د ستونزو پرځای د هغو پرتوانایيو باندې تمرکز، له کارل راجِرز او آبراهام مازلو څخه د بشري یا انسان پالې اروا پوهنې په ډګر کې لوی شخصیتونه جوړ کړل.»

کارل راجِرز د خپلو روان پوهنیزو کارونو په لړ کې احساس کاوه چې د ناروغانو تر درملنې مهمه دا ده، چې دقیقاً هغه څه چې رواني ناروغان یې وایي، باید غوږ ورته ونیول شي، که څه هم خبرې یې ګډې وډې، ناسمې، بې بنسټه، عجیبه او حتیٰ پوچې وي. دا ددې لامل کېږي، چې ناروغان خپل ټول فکرونه او اندېښنې ومني او وروسته له څو ناستو په خپله د خپل ځان درملنه وکړي.

راجِرز به د خپل کار طریقه داسې بیانوله، چې «یوازې دا کفایت کوي، چې زه په خپله ووسم او اجازه ورکړم، چې مقابل لوری چې ناروغ دی، هغه هم په خپله ووسي!» راجِرز د خپلې طریقې ارزښت په یوه جمله کې خلاصه کړی، ده ویلې: «که چېرې زه وغواړم، له یوه شخص سره غوره اړیکې ولرم، نومقابل طرف د رشد او ودې لپاره په خپل باطن کې له دغو اړیکو څخه د استفادې کولو ظرفیت کشفوي او په پایله کې فردي رشد او وده منځته راځي.»

راجرز به هڅه کوله چې د رواني ناروغ اصلي څېره دده د کردارنو او غبرګونونو له مخې رابرسېره کړي او په دې سره یې بېرته خپل لومړني حالت چې د یوه سالم او نرمال انسان بڼه ده راوګرځوي. نوموړی د یوه رواني ناروغ او په مجموع کې د هر انسان د ځان ناسم ګڼلو او یا د خپل اصلي او واقعي حالت د بدل ډول ښودلو د تمایل په باب لیکي:

«انسان په تدریج او سختۍ سره درک کوي، چې د هغو نقابونو ترشا چې دنیا ته یې ښیي او یا د هغو نقابونو ترشا چې د هغو په واسطه حتیٰ خپل ځان ته هم فریب ورکوي، کوم څه پټ دي... په همدې توګه تصمیم نیسي، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ووسي. په دغه حالت کې نه د نورو خلکو پېښې کوي، نه له خپلو احساساتو څخه منکرېږي او نه د روښانفکرۍ د منطق لاسپوڅی ګرځي، بلکې په يوه ژوندي موجود بدلېږي، چې ساه اخلي، احساس لري، لوړې ژورې تجربه کوي او په لنډه توګه ويلی شو، چې انسان کېږي.»

د راجرز په اند، هغه اشخاص چې بشپړ چلند لري او له رواني روغتيا څخه برخمن دي، په لاندې ځانګړتياو سره پېژندل کېږي:

- ← د ټولو تجربو منل او راخپلول
- ← په هره شېبه کې د بشپړ ژوندانه لپاره تمايل
- ← د نورو خلکو د منطق او باورونو پرځای د خپلو توانايیو او غرايزو په وسيله د ځان هدايت کول
- ← په فکر او عمل کې د تسلط او خپلواکۍ احساس
- ← د نوښت او خلاقيت له ځواک څخه برخمنتيا

راجرز د وګړو د درک او تجربو په اړه زياتې خبرې کړې دي، دده په اند: (هر انسان له خپلو بېلابېلو تجربو سره په يوه داسې بدلون منونکې نړۍ کې ژوند کوي، چې يوازې په خپله ددغې نړۍ په مرکز کې ځای لري... هر يو انسان په خپل ځای کې يو بې ساری موجود دی او يوازنی څوک دی، چې په دې پوهېدلی شي، چې تجربو يې څه ډول بڼه پيدا کړې او دده لپاره کومه معنا لري... يو فرد تل د خپلو تجربو او درک له مخې غبرګون ښيي. هغه ته خپلې تجربې او زده کړې واقعي په نظر ورځي او دده لپاره واقعيت همغه شی دی، چې هغه تجربه کړی دی. کله چې د يوه فرد درک تغير کوي، نو د هغه غبرګون او عکس العمل هم ورسره تغير مومي... يو فرد د خپل درک په اندازه هرڅه ته ځواب ورکوي. د افرادو جسماني او رواني ځوابونه، له بهرنيو پېښو او حوادثو سره جوړجاړی ښيي... افراد له اصله يو ذاتي او اساسي تمايل لري، چې همدغه تمايل له دوی سره د ځان په تثبيتولو او ساتلو کې لويه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګېزه تولیدوي او په ټولیزه توګه د دوی د فعالیتونو بنسټ تشکیلوي. د یوه فرد ټولې جسمي او رواني اړتیاوې دده د همدغو بنسټیزو تمایلاتو ځانګې بللی شو. افراد د خپل ژوندانه په بهیر کې د خپلو اساسي تمایلاتو له امله د ځان جوړونې، ځان باورۍ، ځان رهبرۍ، نظم، خپلواکۍ، مسئولیت منلو او پرخپلو اعمالو باندې د کنټرول او تسلط پر خوا حرکت کوي... کله چې کوم شخص په یونه یو ډول له خپلو حسي او باطني تجربو څخه انکار کوي. معمولاً له رواني بې نظمیو سره لاس او ګرېوان کېږي او په خپل وجود کې یو ډول تیت پرک والی او سرګرداني احساسوي. هغه خبرې چې وایي: «زه نه پوهېږم چې له څه شي څخه وېرېږم» یا «په ژوند کې یو سم هدف نه لرم» یا «د یوه تصمیم او کار لپاره بې وسه یم» زیاتره د یوه فرد د ځان او تجربو د نه همغږۍ په صورت کې رامنځته کېږي، چې تل د هغه په چلند کې ځان راښيي... انسانان هغه مهال مناسب عمل نه کوي، چې خپلو تجربو ته غوږ ونه نیسي او په پایله کې ونه توانېږي، چې هغو محیطي توپیرونو ته چې په هغو کې اوسي پام وکړی شي.)

راجرز د انسان د ځوانولۍ احساس هم له محیطي عواملو سره په تړاو کې ګڼي، دی وایي: « افراد د خپل ماحول بېلابېل عوامل او پېښې درک کوي او په خپل ذهن کې معنا ورکوي. ځان ګڼل د یوه شخص هغه برداشت او اخیستنه ده، چې دده پر ادراکو باندې د ماحول او دده د اعمالو له تاثیر څخه منځته راځي... په دې توګه اشخاص خپلې ټولې تجربې د خپل ځان ګڼلو له احساس سره مقایسه کوي او تل داسې چلند ته تمایل لري، چې د دوی له ځان ګڼلو سره همرنګي ولري. خو کله چې د کوم شخص د ځان ګڼلو او واقعي تجربو ترمنځ اختلاف پیدا شي، شخص ناانډولي او ناهمغږي تجربه کوي. د مثال په ډول که چېرې یو څوک خپل ځان له نفرت او کرکې څخه خالي وګڼي، خو له نفرت سره مخ شي، نو ډېر ژر دګډوډۍ او ناهمغږۍ په لومه کې نښلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغو ګډوډیو له جملې څخه یو اضطراب دی، چې اصلي جرړې یې همدغه ناهمغږي دي.»

د راجرز په اند: «نه یوازې اضطراب، بلکې زیاتره رواني ګوزارونه د متضادو احساساتو زېږنده دي. چې دغه تضادونه او ناانډولي د «خپل واقعي ځان» او «ارماني ځان» ترمنځ واقع کېږي. په دې اساس رواني ګوزارونه په نړۍ کې زموږ د موقعیت په اړه د مهمو اطلاعاتو د نه منلو او هغو ته د غوږ نه اېښودلو څخه سرراپورته کوي، چې دا ټول د شخصي تجربو له ډلې شمېرل کېږي.»

(پای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه


1. ***تاریخ روان شناسی نوین***، تالیف: دوان پی. شولتز و سیدنی الن شولتز
ترجمه: علی اکبر سیف، حسن پاشا شریفي، خدیجه علي آبادي، جعفرنجفی زند
2. ***روان شناسی عمومی انسان***، دوکتورعلی اکبر شعاری نژاد
3. ***روان شناسي عمومي***، نویسنده:وین ویتن، ترجمه وتخلیص:یحی سیدمحمدي
4. ***مکبت های روان شناسی وتقدان جلد ۱ و ۲***، گروه نویسندگان دانشگاه وحوزه
5. ***روان شناسي***، «خلاصه «۵۰» کتاب برتر در زمینه روانشناسی»
نویسنده: تام باتلربودن، مترجم: صادق خسرونژد، ویراستار: آزده مبشر
6. ***روان شناسی عمومي***، مؤلف: دوکتور حمزه گنجی
7. ***فلسفه***، مؤلف: محمد نادر ایوبي
8. ***روحیات***، مؤلف: محمد نادر ایوبي
9. ***د اروا پوهنې ښوونځي***، مؤلف: پوهاند گل رحمان حکیم
10. ***اروا پوهنه د ټولو لپاره***، مؤلف: مصطفی صفا
11. ***یکصدمرد تاثیرگذار تاریخ***، نوشته: میشل.اچ.هارت، ترجمه: محمدحسین آهویي
12. ***ادبي څېړنې***، لیکوال: کاندیداکاډمیسین محمدصدیق روهي
13. ***شعري سېمبولونه***، لیکوال: عبدالغفور لېوال
14. ***هنر انسان شدن***، نویسنده: کارل راجِرز، ترجمه: مهین میلانی
15. ***پیغامونه پټ پراته په افسانو کې***، د استاداسدالله غضنفر مقاله، ځولۍ مجله، دویم کال، لومړی ګڼه.
16. ***په ځانځاني ښامارکې شعور او تحت الشعور***، عبدالغفورلېوال، الفت مجله، شپږم کال، پرله پسې ۳۳مه ګڼه
17. ***فلسفه څه ده؟***، لیکوال: عبدالرحیم دُراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



18. ***آریانا داریرة المعارف، دویم ټول***، د افغانستان د علومو اکاډمي

19. ***د عمومي اروا پوهنې آرونه***، تالیف: محمدعالم سالیمي، ژباړن: ګل رحمان رحماني

20. ***روان شناسی شخصیت***، تالیف: د کتر یوسف کریمی

21. ***په فلسفه کې تلپاتې پېښې***. هنري ټوماس او ډانلي ټوماس
ژباړه: نصیراحمداحمدي

22. ***د رنګونو نړۍ***، ډاکتر حبیب الله ببرکزی ځدراڼ

23. ***آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوک***، د افغانستان د علومو اکاډمي

24. ***www.google search.com***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مصطفی صفا نورکتابونه:

- ← **ژوند، روح او مرګ** ....................... «چاپ شوی دی»
- ← **د بریا ارواپوهنه** ......................... «چاپ شوی دی»
- ← **لطفاً، مه ساده کیږئ!** .................. «چاپ شوی دی»
- ← **د نړۍ سل مشهورې خبرې** ................ «چاپ شوی دی»
- ← **طاقت ښونکي فکرونه** ..................... «چاپ شوی دی»
- ← **ویکټور هوګو** ............................ «چاپ شوی دی»
- ← **ارواپوهنه د ټولو لپاره** .................... «چاپ شوی دی»
- ← **ژان پل سارتر** ........................... «چاپ شوی دی»
- ← **د ارواپوهنې لنډ تاریخ** .................... «همدغه کتاب»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اروا پوهنې لنډ تاریخ

آدرس: چوک کوته سنگی - کابل - افغانستان
شماره تماس: ۰۷۰۷۰۷۰۱۴۰

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**